مؤلف: خیر محمد ساد

ګرکور سوري دولس سوه پنځوسم تلین
۱۵٤ - ۱٤۰٤ هـ ق

لغمنی آپاسان

د پښتو څېړنو بنسټیز مرکز

۱۳٦۴ کال

دافغانستان د علومو
اکادمۍ د کتابتون
شیشه
بیه
تحویل

لرغونی آریایان

مولف: خیرمحمد ساد

PROPERTY OF ACKU 2340

دافغانستان دعلومو اکاډمی
دپښتو څیړنو بین‌المللی مرکز
۱۳۶۳

مهتمم : دمحقق مرستیال عبداللطیف طالبی

تیراژ : (۱۰۰۰) ټوکه

دولتی مطبعه

فهرست

سرلیك	مخ
سریزه	الف
دکتاب په باب خبرې	I
لومړنـــی ګډ نظـــام	۱
نیولیتیك	٤
دکرنی او مالداری پیـــل	٥
دکورونو جوړښـــت	۱۰
اجتماعـــی او اقتصادي اړخ	۱۲
مشـــرې او ریاســت	۱٤
کلتـــور	۱٥
هنر او انځـــور کـــرې	۱٦
دود او مـــذهـــب	۱۷
داریایانو مهاجـــرتـونـــه	۱۹
لومړنی اریایی ټاټوبـــی	۲۱
په اریایی ټولنو کی دتولیدې روابطوبدلون	۲٤
یو مهم اجتماعی او حیاتـــی بدلـــون	۲۷
دکـــالیـــو تولیـد	۳۱
دشخصی او خصوصی مالکیـت پـــرمختګ	۳٥
داریایانو کلتورې اړخ	۳۸
دمیترایزم تصوفـــی اړخ	٤٤
دمیترالما نځنـــی دمذهـــب عـــوامـل	٤٥
ویدې کلـــتور	٤۷
دویدې عصر مذهبـــی خـــوا	٤۹
سومـــا ـ هـــومـــا	٦٥

ACKU

له اریانا څخه هنداو فارس ته دځینو ریایی قبایلو مهاجرت اوخپریدل ٦٧
دغرب خوا ته مهاجـرت ٧٧
مرکزي یا باختري اریایان ٨٠
پیشـــــدادیان ٨٤
ضحـــاك ٩٢
فـــریدون ٩٣
گـــــرشاسپ ٩٤
افـراسیاب ٩٧
کیانیان ٩٩
سپاوش
کیخســـرو ١٠٠
١٠١

ACKU

سریزه

زما د دی کتاب عنوان د «لرغونو آریایانو ژوند» دی ، مگر زه چی څومره فکر کوم زما دغه څیړنه په دې برخه کی نیمگړې او نا قصه ده، ځکه چی دژوند کلمه دو مره پراخه معنی او جامع مفهوم لری چی دیوې تولنی په کلتوری اویا مدنی حالاتو باندې هراړ خیزه څیړنه دیوه شخص له توانه ډیره پورته او ډیر مشکل کاردی بلکی دیوی موسسی او څوکسانو په قدرت او صلاحیت پوری اړه لری .

دیوی تولنی دژوندانه دهراړخیزوڅیړنو له پاره نور ډیر علوم او په هغو علوموکی پاخه اوکره څیړونکی په کار دی . یاداچی دیوی تولنی د تمدن په نورو اړخونو لکه : تاریخ،جغرافیه ، نژاد پوهنه ،بشرپوهنه ، تولنپوهنه ، اقلیم پو هنه او لرغون پوهنه ، سیاست ، ژبپوهنه ، فلسفه او داسی نوروبرخوکی باید دمخه دپوهانو له خوا پوره څیړنی شوی وی او بیا د دغوپخو مواد و په بنسټ دیوې تولنی په تمدن او کلتور باندې علمی اوکره څیړنی وشی . له بله پلوه دغه څیړنی له هره پلوه دهرراز غرضونو او په ویاړونو دخیتهی اچولو له مرضه بچ پاتی شوی وی . مگر متاسفانه زه چی له یوې خوا دتاریخ په علم کی دومره وارد نه یم اوله بله پلوه زموږ دلرغونی تهذیب او تمدن لویه ذخیره په هغو لرغونو ژبوکی خوندې ده چی له بده مرغه په افغانستان کی تراوسه پورې د دغو ژبو د تحلیل او زده کولو له پاره هیڅ اقدام نه دی شوی اونه یی زموږ په هیواد کی دتدریس او زده کړی کومه موسسه اویا مرکز شته چی مرسته ورڅخه وغوښتله شی .

که څه هم دغرب مستشرقینولاډیر پخواد بشری تمدن دمنابعو او ټاټو بو په څیړنه پیل کړی دی اوپه دې برخه کی یی ستر بریا-

لیتوبونه هم ورپه برخه شوی‌دی،، او دآریایانو د پخوانیو ژبو لکه: سنسکرت ، اوستا او پهلوی ژبوپه لوستلو بریالی شوی دی او زموږ دلرغونی میراث اثاریی پخپلو ژبوپه یوڅه اختلاف سره ترجمه کړی دی . مگر بیا هم باید په ډیرتاسف سره ووایم چی دغه په ژوند یو ژبو ترجمه شوی آثارلاتر اوسه پوری زمونږ په ژوند یو ملی ژبو ترجمه شوی هم نه دی.

(هر څوك داخبره تائید وی‌چی دیوی موضوع او خصوصاً دڅو زرو کالو پخوانیو ټولنو دتمدن اودژوندانه د حالاتو معلو مولو له پاره باید د استفادی بی شمیره‌علمی آثار او منابع موجود وی چی دهغو ټولو د کتنی په رڼا کی‌دیوې کانکریتی عقیدې په بنسټ‌یو پوخ اوعلماً کره اثر خپلی ټولنی‌ته وړاندی کړی .

له بله پلوه زه پوره ایمان لرم‌چی زموږ د لرغونی میراث دغه پاتی شونی آثار دهمدې تاریخی‌خاورې مولود دی او وروسته یی رڼا ختیځ او لویدیځ ته رسیدلی اوهلته دنورو تمدنونو او کلتورونو سره گډ شوی او هغه نورکلتورونه او تمدنونه یی تراغیزی لاندې راوستی دی چی د دوی په گاونډیتوب کی پراته وو او ډیر څه یی ورڅخه اخیستی هم دی .زموږ د لرغونی تمدن پخوانی کنډوالی لاتر اوسه پوری د توجه په انتظار کی د تخریب په رنځ خپل کرغیړن عمر پاې‌ته رسوی اوهیڅ پاملرنه ورته نه ده شوې .یو څیړونکی برسیره پر دغو تیرو موادوډیر نورو وسایلو او د نژدی څخه کتنو او مطالعاتو ته محتاج دی اودغه کار پوره وخت او ډیر وسایل غواړی چی زما دغه برخه هم نیمگړې‌ده. بیاهم ددې ټولو نیمگړتیاو سره یوځای دهغی مینی او علاقی له مخی‌چی‌د گران هیواد له تاریخ سره یی لرم ، له ډیره وخته راهیسی می‌داعزم درلود چی د خپل وطن او ښاغلو نیکونو د ژوند حالات تریوحده‌پوری‌وڅیړم . دډیرې مودی راهیسی می‌چی په‌دغه برخه کی هر څه مخ ته‌راتلل لوستل می‌او یاداشتونه می اخیستل . څومره اثار چی می‌پیداکړل دهغو په‌رڼا کی په لنډه توگه زما د خپلو مطالعاتو دغه لنډه‌نیمگړې نتیجه ستاسو حضورته وړاندی کیږی .

په دې کتاب کی څرنگه چی دلرغونو اریایانو د ژوندانه څیړل هدف وو، نودهغی نیتی‌څخه د آریایانو دژوند دحالاتو په څیړنه پیل‌شوی دی‌چی دوی دژوو دفردی ژوند له‌حالاتو څخه بیخی لری وتلی او د اجتماعی ژوندانه دتکامل په سیرکی یی دځانونو له پاره په مصنوعی

توګه دالاتو ، افزارو ، کـور جـوړولو اولباس په جوړولو پیل کړی دی چی دغه مرحله په تاریخ کی د لومړی اشتـراکیت یا طایفه یی ژوند پـه نـامـه یاده شـوی ده .

د دوی دهغه وخت دحالاتو څخه صـرفنظر شـوی دی چه تقریباً په حیـوانی نړی پورې اړه لری دآریایی قبایلو دلومړنی ټاټوبی یاد پیدایښت دمرکز سوال دټول بشر دپیدایښت پـه سیمه یا سیمو پوری اړه لری، چـــی دلتـــه زمونږ دبحث د مو ضوع څخـــه د باندی خبـــری دې . مګـر دلومـړنـی اشتـراکـی دورې پـه عصرکی ټول پوهان دا حقیقت تائید وی چی اوسنی افغانستان یـوازی د دوی لـومـړنـی مسقـط الراس نه دی ، بلکی دلتـه ځـای پـرځای ددوی نـه مخکی نور غیـر آریایی قبایل هـم میشته وو .

اریایی قبایل د سوونو کلونو په موده کی د اموسیند د شمالی برخـو څخه جنوبی برخوته راغلـی او په دغـه سیمه کی یی استوګنه غـوره کړې ده . دوی دغه خلك په خپـل نـوم (آریانا) یعنی (دآریایانـو مملکت) مسمی کړ . مګردا خبره یوسپین حقیقت دی چـی دایران او هند آریایان لـه همدې سیمی څخه تللی دی ، د زمانی پـه تیریدو سـره د دوی ځینو قبایلو ددې ځای څخه هم مهاجرت وکړ او دختیځ ، لویدیځ او جنوب خـواته لاړل .

لـه بله پلـوه څـرنګـه چـی آرین او آریا « کلمی » دسپین پوستی توکم اکثره برخه تشکیلوی اودتمدن له مخی دنړی په تاریخ کی ډیرلوی رول لری ، نود ټول آرین نژاد اودتمدن بلکـی دتمدنونو څیړل ډیـر پراخ او لوی کاردی چـی پـه بشپړ ډول سره یی څیړنه دلته هیڅ ضروری نه ده. په دې کتاب کی یو ازی دهغو آریایانو دژوند انـه په حال په لنډه توګه رڼا اچولـه شوی ده چـی پـه همدی اوسنی افغانستان کـی پـاتی شـوی او ترننه پورې هـم موجـوددی چـی موږ دمرکزی آریایانو پـه نـامـه بللی دی . کـوم قبایل چـی دلرغونی آریانا د حدودو څخه وتلی دی ، لکه دماد او پارسوا قبایل چی لـومړی د جنوب غرب لورتـه تللی اوبیا دغرب پـه لور روان شوی اوداوسنی پارس سیموتـه رسیدلـی دی. یالکه دمهابها راته قبایلو ګروپ چی مجموعاً پنځه قبیلی وی او دختیځ اوجنوب ختیځ په لور تللی اود او سنی هند اکثـره نفوس تشکیلوی. ددغو قبایلو د کلتوری او مدنی حا لاتو دڅیړلو څخه هم صرف نظرشوی دی .

لـه بلی خـوا څرنگه چـی مادویدی‌سرود دونو او اوستایی متونو دتـر جمو څخه استفاده کړی ده اوپخپله راساً په دغو ژبونه یوازی زه‌بلکی دافغا نستان پـوهان هیڅوك هـم‌نه پوهیږی نو ماد دغو ژبو د اصطلاحاتو او نومونو دتحلیل او گرامری قواعدوسره هیڅ‌تماس کړی نه‌دی اوددغو ژبو لنگویستیکی تحلیل او څیړنه‌می‌پریښی ده زه هیله لرم چی لـه‌دی وروسته بـه صلاحیت لرونکی مقا مـات او علمی موسسی خپله کلکه تـوجـه دې خواته واړوی او زمونږدلـر غونـی میـراث د دغو علمـی ذخیرو دڅیړنی له پاره داسی تربیوی‌او علمـی مراکـز جوړ کـړی چـی دغـه لـرغونی ویاړونه په خپلـوملـی ژبـو ترجمه کړی اوپه هراړ خیـز ډول یی وڅیـړی . ښایی پـه وروسته کلونو کی دپوهنتون د ادبیاتو او بشری علومو په پوهنځی‌کـی دلرغون پوهنی ، لرغون کیند نـی ، اوستایـی ، سنسکـریت او پهلوی ژبـو او متونو دتدریس ځا نگړی تدریس څانگی جوړې شـی اوزمـوږ د لرغونی تمـدن د تاریـخ نیمگړ تیاوی بشپړی شـی .

پـه دې کتاب کـی یـوازی دوه‌دورې په لنډ ډول څیړل شـوی دی

۱ـ هغه دوره چی دوی په کلتوری‌لحاظ ډیر وروسته پاتی وو او پـه طبیعی اجتماعی اصولویی ژوند کاوه‌اجتماعی طبقات او کاستونه په کی‌نه وواو د اکثـریت ژوندیی کـوچیانی‌بنهـه درلوده .

۲ ـ هغه دوره چی په دوی‌کـی دشخصی ملکیت مفاهیم منځ ته راځی . اجتماعی طبقات ظهور کـوی‌اوپه کلتوری لحاظ پرمختگ کـوی. دې دوری تـه موږ ویدی عصروایؤدا دوره ترهغه وخته پـوری‌دوام کـوی چی تـر څـو پـه ذهنی لحاظد دوی په افکاروکی یو ریفورمیستی تحول راځی او دزردشت د دین پیداکیدل او د مذهبـی ریفورم سـره تصـادف کـوی .

پـه دویم ټوك کـی د زردشـت‌دیـن او د لـرغونی آریانا او پـارـ تیانیا معضلـه جغـرافیایی بـرخـه‌راځـی او هلته بـه دغـه موضوع وڅیړ له شـی چـی دا وستایی دین‌جغرافیایی نومونـه اوس پـه څـه نـامـه یـادیـږی .

ماد خپلو معلوما تو او عقایدو له‌مخی‌ځـای پرځای جغرافیایی نومونه یـو څـه بیان کړی دی او دسیمی ټاکلیـی یوازی زماشخصی عقیده ده . دمحترمو لوستونکو څخه هیله کیږی‌که چیری کومه غلطی په‌کی پیښه شوی وی د مهربانی لـه مخی دی‌زماپام ورته واړ وی.

په‌در ناوی .

خیرمحمـد سـاد

د کتاب په باب څو خبری

دپښتو څېړ نودبین‌المللی مرکزله پاره ددېرې خوښی ځای دې چې د دغـه قیمتی اثرپه خپرولو سـره د خپلو نشریاتو په باارزښته زیرمه باندې یوبل کتاب هـم ورزیاتوې . اریایی توکمونه (چی‌کله کله د اندو ـ اریایی او کله هم داندو‌ـایرانی په نامه یادیږې) چی داد اندو اروپایی توکمونو له لړۍ څخه یوه‌ډیره مهمه څانگه ده‌دهغو څیړنه زموږد هیواد والوله پاره خاص اهمیت لرې، ځکه چی له یوې خوا زموږ دلرغونی او تاریخی هیواد زیات سره ورونه‌توکمونه : پښتانه ، تاجیك ،بلوڅ ، ساك ، پامیریان ، اورمړ ، پراچگان‌اوکور دان اساساً همدغې یوې څانگی ته منسوب دې اوله بلی خوا دلرغونتیا اوهرې خواته داریایانو دمهاجر تونو لرغونی تاریخ به‌په سیمه کی‌دومره سابقه اوعمومیت ونه لرې ، لکه څومره چی زموږ هیواد دهغوشاهددې .

دسیـمی پـــه لحاظ هـم زموږلـــرغونـی هیـواد دلـــر غـو نو اریایانو دتاریخی استوگنی تقریباً دزړه حیثیت لرې . که ډیر لرې‌لاړنه شـو ، نوویلی شو چی دقبل المیلادددوه زره کلونو څخه ترننه پوری د دغوبی شمیره توکمونو ټاټوبی په لویدیځ کی دتورسمندرگـــی لـــه غاړ و څخـــه ، پـــه ختیځ کـــی‌دچین ترپولو ، په شمال کی دسیر دریا له حوزې څخه په جنوب‌کی دفارس تر خلیجه او دهند دنیمی وچی د سمندری غاړوپوری‌پراخه ساحه ګڼله کیږې .

تاریخ شاهددی چی اوسنی ایران‌اود هند نیمی وچی ته اریایی توکمو نو پـــه عمده توگـــه له همدغـه‌ځایـــه کـــوچ او لیږ دکړې او د تاریخی باختـــر یا ، هندوکش اراخوزیا ، اریا (هرات) ،بولان ، کورمی او خیبر له وادیو ، درو اوتنگیو څخه داوږدو پیړیوپه بهیرکی تیرشوې او په ایران اودهند په نیمه وچه کی‌میشته شوې اویوه دیادونی وړبرخه یی په همدغه زاړه ټاټوبی کی پاتی‌شوې ده چی ترننه پورې په کـــی میشته دې . په دې باب ډیر موادپه‌همدغه کتاب کی راټول شوې دې‌چی دلوستو نکو علمی تاریخی‌تنده ماتولی شی .

دغو توکمونو دبشرې تاریخ په نړیوال کلتورکی ستررول لوبو لـــی دې ، نوله دې امله دهغوی دژوند ،تمدن ، کلتور اوتاریخ مطالعه زموږ دهیواد والوله پاره ډیر اهمیت لرې.

ددغــه ستر کارد عهدې لــه درانده باره ځوا نیمرګ محقق اروابنادخیر- محمد ساد په ښه شان سره وتلی دې او په دې برخه کی یی دغه ارزښتمن کتاب زموږ ټولنی ته له خپله مرګه وروسته په میراث پریښی دی .

دامیر کروړ دبین المللی سیمینار محترم علمی کمیسیون اوسکرتریت چی کله ددغه اثر زیات ارزښت درك کړ سپارښت یی وکړ چی هغــه باید د پښتو څیړ نو بین المللی مرکز له خواخپور شی . موږ هم په ورین تندې او په خوښی سره ددغه سپارښت هرکلی وکړ اودادې داریایی تاریخ مینه والو اودهیواد دلرغونی دوداوکلتورعلاقه مندانو ته یی په ډیره مینــه وړاندې کوو .

دلته باید یاده شی چی ددغــه کتاب په خپرو لوکی دڅیړ ونکی مــر ستیال عبداللطیف طالبی زیات زیارګاللی دې، نوپه خپل واردهغه ددغی زیارګالنی څخه ډیره مننه کوم .

سر محقق دوست شینوارې

دپښتو څیړ نودبین المللی مرکزرئیس

لوړی ګډ نظام

په اجتماعی حالاتو کی داقتصای‌اوحیاتی مسایلو دتحول او بدلون سره ځینی داسی دورې راغلی دی‌چی په تاریخ کی په خاصو نومونو یادیږی ، چی دهغو څخه یوه خاصه دوره‌یی دمور مشری (مورواکی) دوره ده . دا دوره هغه وخت ته ویله کیږی چی آریایانو دتاریخ‌په یوه خاصه اجتماعی او اقتصادی‌دوره کی ژوند کاوه . دوی هغه وخت کرنه او څاروی پالنه دواړه‌نه پیژندل اوپه طایفه یی اوډله‌ـ ایزه توګه یی ژوند کاوه . د دوی‌د استحصال منابع ټول طبیعی وو اوحتی داستراحت اوستر او اخفاله پاره یی هم د طبیعی غارونو ، کوډ‌ـ غالو او سمڅو څخه کار اخیست .دوی د ذهنی رشد له پلوه هم په ابتدایی حالت کی وو . د طبیعی‌غلو ، دانو ، میوو او دوحشی حیو اناتو ، ماهیانو او مرغانو دښکارپه غوښویی خپلی ګیډی مړولی اولوږه یی دفع کوله . د ښکار ، میوو اونورو خوراکی موادو منابع دخاص فردنه بلکی د ټولو خلکو شریك‌اوګډ مال بلل کیده .

په دې دوره‌کی دوی دواده په برخه کی د پخوانی حالت نه یو څه ترقی کړې وه او پخپله طایفه کی به یی واده نه کاوه : ځکه‌چی پخوانی واده منفرد حالت نه درلود. بلکی واده هم اجتماعی او ګډه بڼه درلوده . دوی به دهماغی لویی‌قبیلی په بله طایفه کی واده‌کاوه چی دغه دوه طایفی به یوتر بله‌خپلوانی بلل کیدی . یاپه بل عبارت د یوې طایفی نجونی او هلکان به دبلی‌خپلوانی طایفی بالقوه او په پای کی بالفعل ماینی اومیړونه ګڼل کیدل(۱)چی د کلتور دی‌مرحلی ته په تاریخ کی ایګزو ګامی Exogomy یا (دباندی خیښی) ویله کیږی. ددې دوری نه مخکی مرحلی ته‌چی په طایفه کی دننه به ودونه کیدل اندوګامی (۲) (Endogomy) ویل کیږی .

دی دورې ته ولی دمور مشری دوره‌ویل کیږې ؟

داځکه چی داجتماعی تاریخ په‌دی مرحله کی د اوسنی عصرپر خلاف ښځود نارینه وسره دغذایی‌موادو په راټولو کی سمه برخه اخیسته. مګر ددغو موادو دسمبالښت‌او سمون وظیفه یی دنارینه وڅخه زیاته وه . په‌دې دوره کی په نسبتاً وړه اندازه دکارویش منځ‌ته

---

(۱) زمینه تکامل اجتماعی : (۳٤)مخ
(۲) تاریخ جهان باستان (٦۱) ـ (٦٥) مخونه

راغلی وچـی داویش دواړه او لوی‌په اساس نه بلکی دجنس په لحاظ رامنځ ته شوی ؤ . ځکه چی نارینه وبـه اکثره دښکار وظایف سـرته رسول او دمیوو ، دانو ، او دنباتاتو بیخونو راټولول دښځو په غاړه وو له بلـی خوا کلـه چـی دوی داوڅخه استفاده وکړه ، داور بلول ، رڼاکول او بیاور باندی دغذایی‌موادوپخول دښځی په غاړه وو . دښکار دغوښو دساتنی‌او سمبالښت صلاحیت‌یوازې دښځوپه لاس کـی ویا پـه لنډ عبارت په دغه دوره‌کی ښځـی‌اقتصادی مشرتوب او صلاحیت درلود چی دهمدی صلاحیت پربنایی ښځینه‌جنس ته یو قدرت او قوت بخښلی و ، او دنارینه وسره سـم ، بلکی‌اوچت مقام او موقف یی نیولی ؤ .

دمولدو قوتونو تکامل

په آسیا او اروپا کی دجیولوجیکی‌او اقلیمی تغیراتو لـه کبلـه یـوه ډیره سړه دوره راغلی ده چی دبشربلکی دحیوانی نړۍ پـه ژوند کـی یی‌هم ستر بدلون راوست . دا دوره‌پوهان دمیلاد نـه مخکی (۱۲۰۰۰) کاله پخوا ټاکی (۱)، چی ددې سړواویخنی له امله ډیر لـوی حیوانات یاړه شول اویا د شمـال لورتـه وتښتیدل . دلته ددې موضوع‌تفصیل اوتشریح زمونږ مقصد نه دی، بلکی‌دهغو تغیراتو یادونه کوو چی ددغی بشری کتلی په ژوند کی یی بدلون‌راوست .

آریایان هم مجبور شول چی دغرودلمنو او سړو ځایونو څخـه مهاجرت وکړی او دتودو سیمو خواته لاړشی‌دوی دغذانوی منابـع و موندل او د لویو حیواناتو د ښکار په عوض یی‌دمـرغـانو ، ماهیانو او نـورو وړو حیواناتو لکه هوسیو ، ځنګلی وزو،پسونو ، غوایـانو او داسـی نـورو حیواناتو پـه ښکار پیل وکړ .

آریایانو دمرغانو او حیواناتـودښکار لـه پاره دنیزی دوسلی‌نه پـرمختګ وکړ اوغشی او لینده یـی‌اختراع کړل . نیزه چی د دوی لومړ نی وسله وه هـم د دفاع اوهم یـی‌دښکار لـه پاره تری کار اخیست .

داقلیمی شرایطو دښه والی پـه‌اثـر هغه یخچالونه او رشونه چی دسړو په دوره کی منځ تـه راغلی‌وو ، د ډیرو کلونو نه وروسته‌او بـه شول او د دوی په غرونو اوسمـه کـی ګـن ځنګلونـه راوټـو کیدل . په دې ځنګلونو کی دوی‌نه شول کولای چی واړه حیوانات لکـه هوسی او داسی نور مرغان پـه نیزه‌ووژلی شـی دلیندی اوغشی اختراع چـی لـه ورایه یی حیوانات وژلای‌شـول یـواوی بریالیتوب ؤ .

غشی اولینده دهغه وخت (دمیلادونه مخکی شپږ زرو ۶۰۰۰ کـالـو

---

(۱) تاریخ جهان باستان ـ لـومـړی‌ټوک ۶۶ مخ

پـوری) عمده اوبریالی وسلـه وه.دهغه وخت غشی او لیندې دار کیاـ
لـو جستانو او لرغون پوهانو دهڅوپـه اثر موندل شوی دی چـی دلرګی
اویا کړکی (دورمی) په سرکی بـه یوه تیره سرې او کلکه بکره ټومبل
شوی وه چـی له ورایه به یی خپلدښکار هدف پـری ویشته .

آریایانو داور له کشف وروسته یوبل موفقیت وګاټه او هغـه دیـوه
وحشي حیوان (سپـی) ایل کـول وواو دا لومړی حیوان دی چی دوی ایل
کړی او اهلی کړی دی . سپـی پـه ښکار کولو کی د دوی سـره ډیـره
مرسته کوله او هغه حیوانات چیپه منډه ډیر ګړندی وو دسپی په مرسته
یـی نیول او ښکار کـول .
دسپی څخـه دښکار دنورو داړونکـوحیواناتو څخه ددفاع اوحتی دبارووړلو
لـه پاره هم کار اخیستل شوی دی.

نباتی غذا ګانی یا دغذایوه بله منبع

بر سیره پر ښکار دوی دځنګلیمیوو ، ماهیانو ، صدفونو ، دشاتـو
مچیو ، ډینګریو (مرخیړیی) او نورونباتی شیانو څخـه هم په عمده توګه
استفاده کـولـه .
آریایانو ترهغه وخته پـورې چـیدکلالـی په اختراع بریالی شوی نـه
وو ، خپلی اکثره غذاګانی دوریتولواوکباب په بڼه پخولی او استفادهیی
تری کـوله . غوښی به یی په لښتواوډکو کـی وټومبلی او اورته به یی
ونیولی ، تر څـوبـه چی پخی شویاواستفاده به یی ترې کـوله . غوښی
به په مساویتوګه ویشل کیدی اوپه تیږ وبه یی ورته اچولی.
دوی په همدی شان سره دغنمو، اوربشو اونورو حبوباتو دانیهم چیپه
ځنګلی توګه بـه راټو کیدلـی ویپـه اور و ریتولـی .
کله چـی ډیره موده وروستـه دوی بغری او مولی اختراع کړل اودحبوـ
باتو دمیدهکوله کاریی تری واخستونومیده اوړه به یی دتیږی دتبی دپـا
سـه اچول او پخول بـه یی .
البته دجغرافیایی موقعیت لـه مخیدهرې طایفی دخوراك او تولید وسـا
یلو او منابعو یو تربله یوڅه توپیردرلـود . ځینی طایفی په ځنګلونـو
کـی لالهانده ، ځینی دخوړونـو اوسیندونو په غاړوکی بوختی اوځینی
یـی دبحیرو تر څنګه میشتی وی .
هغه طایفی چـی دخوړ ونو او سیندونو په غاړو او څنډوکی وی دماهیاـ
نـو او مرغانو ښکـار ددوی عمـدهمشغولیت او دتغذیی منبع وه .دوی

به په مساعد اقلیم کی خپل استوګنځی دسیندونو په غاړه دلرګیو څخه جوړول اوپه همدی دوره کی‌دوی دخپلو ودانیو له پاره دلرګی څخه پوره استفاده کړی ده اوپه استوګنځیو کی دلاړو او تیرانو په توګه ورڅخه کار اخیستی دی .

له بلی خوا داهم باید وویل شی چی‌دهر ځای داقلیمی او جغرافیایی شرایطو سره سم دوی خپل کورونه او استوګنځی جوړ کړی وو ، ځینو دځیرو ونکو حیواناتو ددفع ، ځینودګرمی ، ځینودبادونو او سړوڅخه دځانو دساتنی په منظور خپل‌ټاټوبی ودان کړی وو . سره له دی بیا هم یوزیات شمیر خلکو دهماغوطبیعی سمڅو څخه استفاده کوله دمخه مو وویل چی‌په دی دوره کی‌ددوی تر منځ هر څه شریك اوګډوو مګرسره له دی اشتراکه بیاهم دهری‌طایفی غذایی قلمرو یوازی دطایفی دغړو ترمنځ شریك واو دبلی طایفی‌دافرادو دمداخلی نه یی خپله غذایی سیمه په کلکه سره بچ ساتله اوپه ګډه به یی ورڅخه دفاع کوله .

دنیولیتیك New lithic دوره

ددی دورې نه مخکی دورې چی‌موږ ورسره ډیره علاقه نه لرو اونه زموږ دځیړنی اصلی موضوع ده ، ځکه چی په هغو دوروکی د دوی ذهنی او مادی قدرت ډیر لږؤ اوپه ډیره ابتدایی بڼه یی ژوند درلود ، دتمدن آثار او بیلګی یی هم هیڅ‌پاتی نه دی اوکه په کوم ځای کی پاتی وی ، هغه هم ډیری نادری اودنشت سره سمی دی نوله دی‌کبله موږته دغه دوره ډیر اهمیت لری‌او نسبتاً په تفصیل سره به پرې خبری وکړو .

دا دوره دپخوانیو دورونه داتوپیر لری چی پخوا تیږې په طبیعی توګه استعمالیدی او دوی دالاتواو اوزارو کار تری اخیست‌او هیڅ صنعتی اړخ په کی دخیل نه و . مګرپه دی دوره کی دوی یوه تیږه پر بله سولوله او د خپلی غوښتنی‌وسله اویا بله اله به یی تری جوړوله چی دا سولول به عموماً دتیره کولو په منظور وو .

ددې دوری تغذیه هم اکثراً په ښکاراو ماهی خوړلو روانه وه اود اوبو مرغان به یی‌هم ښکار کول .

دآمو دسیند په غاړه دشوروی اتحادد یو لرغون پیژندونکی عالم له خوا دیو داسی ژوند آثار او بقایا کشف شوی دی چی په ښکار او ماهی نیولو بنا ؤ ، چی داتمدن دپوهانو له خوا د کلیتمینار (Civilization of Keletminar)

(۱) په تمدن یادیږی . ددی‌تمدن آثار دکرونو لوجیکو محاسباتو

---

(۱) تاریخ جهان باستان ٦٩ مخ .

په اساس دمیلادنه دمخه دڅلورمیزریزی دپای نـه پیل او د دریمـی زریزی ترپیل پورې رسیږی .
دوی دښکار له پاره راز راز وسایل‌او دامونـه استعمالول . دحیواناتو پـه لار کی به یی خدنګونـه جوړول‌چی پوښل شوی بـه وو او حیوانات به په کی واویدل او دوی به رانیول‌دونو ډډونه بـه یی پـه داسی بڼه ایښی وو چـی په لږ تماس بـه پرحیوان را ولویدل او هغـه بـه یـی لاندې کړ . کمنـد اوجال بـه یـی‌دمرغانو او هوسیو دنیولو لـه پـاره استعمالول . همدا راز دوی پـه ښکارکـی‌دو مـره مهارت پیداکړی ؤچـی‌د حیواناتو دغولولـوله پاره بـه یـی‌دحیواناتو پوستکی اغوستل اودحیوا- ناتوپه څیر رمباړی به یی له خولـی‌ویستلی اوهغوی‌بـه یی‌دښکار لـه پاره‌ځان ته‌را بلل.
دماهیانو دنیولو له پاره به یی‌پـه اوبوکی بندونـه اچول‌او یابـه یی د اوبو مجرابلی خواته اړولـه اودنیزی‌توکـری او خنجك نـه یـی هـم استفاده کوله .

دکرنی او مـالداری پیل :

پـه هدی دوره کـی کرنی اومالداری په ابتدایی توګه رواج وموند. دوی لومړی دحیواناتو په اهلی کولوپیل وکړ . دا په قطعی توګه معلومه نه‌ده چـی دوی په څه ډول بریالی‌شول چـی څاروی اهلی کړی .
پـه دی برخه کـی دپوهانو ترمنځ‌اختلاف دی او هریویی په بیلو ډولو نـو تشریح کوی ، مګر بیا هم اکثره‌پوهان پـه دی عقیده دی چـی دوی دښکار په ترڅ کـی پـه دی بریالی‌شول چی حیوانات اهلی کـړې (۱). ځینی وایی چی دوی دښکار په ترڅ‌کـی کله چـی حیوانات ښکار کړل نـو واړه بچی یی ونیول او هغه یی‌وروزل او اهلی شول . مګر ځینی‌بیا داسی عقیده لـری څرنګه چی ښکارهـم په انفرادی اوهم پـه اجتماعی او ډله‌ایز ډول کیده ، نو دوی‌به کله ناکله دحیواناتو یوه لویه رمه پیداکړه او دطایفی ټول خلك بـــه پسی ووتل . څاروی به یی په یوغار تنګ ځای اویا د دری په کوم تنګی‌کـی محاصره کړل او یو زیات شمیر حیوانات بـه یی ونیول او خپلو استو ګنځیو ته به یی راوستل او یـو کلك شپول به یی ورته جوړ کړ چی‌داشپول به پـه حقیقت کـی د دوی د ښکار د ذخیری‌و دساتلو ځای واود ضرورت په وخت کی به یی‌ورنه استفاده کوله . څرنګه چی دڅارویوشمیر بـه‌زیـات ؤ او بلارب او وچ حیوانات به دواړه په کی وونو دوی‌بـه وانښه او اوبه ورته ورکول‌او

---

(۱) تاریخ جهان باستان ۷۱ مخ

پالنه به یی کوله ، چی دزمانی پـه تیریدوسره به بلاربو ځارو یو بچی وزیږول . دغه بچی اومینـدی به یی دخلکو سره روږ دی شوې اوانس او الفت به یی پیدا کړ . ورو ورو بـه اهلی شول او دوی به ورځخه استفا ده کولـه .

هغه وخت چـی آریایان دحیواناتو په اهلی کولو بریالی شول دا په اغلب احتمال سره دمیلادنه مخکی دځلورمی زریزی پای اود دریمی زریزی پیـل دی . له بلی خوا اکثره پوهان په دې عقیده دی چی اریایانو د امو او سیر دریا دسیندونو ترمنځ سیمه کی دځارویو په اهلی کوله بریالی شول. او دانگلز داوینا تائیدوی چـی : «پـه خاص ډول سره دمنځنی آسیا بین النهرین او د آمو سیند اوسیـردریا ترمنځ سیمه هغه لومړنی سیمی دی چی هلته په کی دلومړی ځل له پاره ژوی اهلـی شوی دی . »(۱) دانگلز دا وینا اوس بیخی دتائید وړده چی کوم ځـاروی آریایانو اهلی کړل دهندوکش پـه لمئو کـی پـه طبیعی او وحشی توگه موجود وو او حتی تراوسه پورې یی هم بقایا موجوددی . دځارویو داهلـی کـولو شغل دکروندی نه دمخـه پر مختگ وکړاوکروندې وروسته انکشاف و موندا و دسوونو کلو په موده کی یی پرمختیاوکـړه او دتولید دیوی منبع حیثیت یـی پیـداکـړ . ورو ورو دفـوری استفادی ځای اوږ دی استفادی ونیو ځکه چی لومړی دوی فکرنه کاوه چی گوندی مالداری هم اقتصادی ارزښت لـری . مگر دسوونو کلـونـو پـه دوران کـی مالداری انکشاف وموند او د مالونو دلبنیاتو ، وړیو اوپوـ ستکو څخه په شعوری توگه ډیـره وروسته استفاده وشوه .

کروند گری هـم په لومړی وخت کی ډیره ابتدایی او په هماغو دښکاراو ځنگلی میوو دشکولو اورا ټولولو په وسایلویی جریان پیـدا کـړ . دوی لومړی ځـل په هماغه تیره لرگی پیل وکړ چـی دځینو بوټو نیلـی او ځمکنی محصولات به یی دځمکی نـه راویستل . کوم تخمونه چی دوی په ابتدایی توگه داستفادی لاندې ونیول دغنمو اوربشو او نـورو نباتاتو تخمونه وو . دوی به په هماغه لـرگـی ځمکه اړوله او تخمونه به یی په کی شیندل. دوی کج بیل اوډبرینه ټسکوره ډیر وروسته پیدا کـړل او

---

(۱) کورنی دخاص ملکیت او حکومت پیدایښت . مولف . انگلز . دتاجیکی اولسی نظم دتاریخ څخه د .ی . س. براگینسکی تالیـف ۱۹٦۵ مسکو ۲۲مخ دښاغلی دوست پـه مـرسـته او مننـه .

دکـرنی په برخه کی دایو پرمختګ‌و . دوی لومړی زراعت اوکرنه د سیندونو په غاړو کی پیل کړه چـی‌له یوی خوا به یی څاربه رسوبی‌مواد لرل اوله بلی خوابه داوبو سـره‌نژدی وو . دوی ویالی نه پیژندلی او د موسمی سیلابونو او باران په‌واسطه به اوبه کیدل. دوی ډولچی اوبو کی ډیری وروسته جوړې کړی‌او که چیری به د دوی بوټی تږی شول نوپه ډولچو اوبوکو کی به یی‌اوبه ورته دخوړ او سیند څخه را اخیستی اوبو ټوټه به یی اچولی .دا ډولچی بـه اکثراً دڅارویو د پوستکو څخه جوړې شوی وی . دویالو جوړولو فن وروسته رایج شو. دزمانی په تیرید وسره به کله چی‌داځمکه خواره شوه او عضوی مـواد به یی خلاص شول نودکروندی لـه پاره به یی بل ځای لټاوه اوهلته به یـی کرونده پیل کړه چی په واقعیت‌کـی کروندې هـم ګـرځند اوسیـار شکل درلود مګر پـه هغـه انـدازه‌ګرځندنه ؤ لکه چی ښکاریان اویا وروستـه پوونـده ګـر ځنـدوو . دڅارویو پـه اهلـی کولـو سره پوونده توب انکشاف وکـړ .دمالونو تکثیر رواج وموند او پوونده ؤ بیخی کوچی او ګرځنده بنه‌غوره‌کـړه . چیری به چی سمسوره ورشو پیدا کیدلـه دوی به خپل مالو نـه‌او څاروی وروستل او پوول به یـی. کله به‌چی دهغه ځـای وابنه خلاص‌شـول ، نودبل ځای په لټه کی بـه شول . له یوې خوا کروندې یوځـه‌انکشاف وموند او دډیرو خلکو شغل وګرځید اوله بلـی خوا خلك ورځ‌پـه ورځ ډیریدل . دوی ځینی‌وختو نه لوی لوی ځنګلو نه هم دکروندی‌په‌خاطر سیځل او ایری بـه یی پـه زراعتی سیمو کـی وشیندلی ، چی‌ترڅـو ځمکو پسته شی اوښـه حاصل ورکـړی . ځینی پوهان عقیده لـری‌چی کـر نـه اصلادحاصل ټولولود چارو دانکشاف نه پیدا شوې ده‌چی‌دحاصل ټولی چاری ښځو سرته رسو لی (۱) . نوابتدایی کرنه هـم‌دښځومولود اود کـروندی ابتدایـی پیـل ښځو کړی دی او مالداری چی دښکارپـه ترڅ کـی انکشاف موندلـی دی دنارینه ؤ وظیفه ده داځکه چی دکرنـی سیمی به عموماً دهستو ګنو د ځـایونو په څنګ کی وې اوښځو به دکور دچارو په ترڅ کی دبوټوپالنه هـم کوله . مګر مالداری دکورنه دباندې د مـالونو پیول او ګـرځیدل غوښتل اود باندې چـاری دپخوانـه نارینه وسرتـه رسولـی . کـرنـه او مالداری دنړی دیوی خاصی سیمی‌نه خپره شوی نه ده بلکی دنـړی پـه ډ یرو ځـا یـو نـوکـی دوخـت او مکانی شرایطو پـه توپیر سره پیل شوی ده . لـه بلی‌خوا دڅارویو او نباتاتو په نوع کـی یـی هم یوتر بله توپیر درلود . دپیـل نیټه او عمریی یوتربله سره

(۱) تاریخ جهان باستان ۷۱مخ

پــه سوونو کلونه فاصله لــری .ټولو ټولنو یو اوعین څــاروی اوعین بوټی پاللی نه دی بلــکی په بیلو بیلو ځایونو کی بیل بیل نباتات او جلا جلا حیوانات پالل شــوی اوروزل‌شوی‌دی . دمیلادنه دمخه څلور زره کاله پخوا په باختر ، اوسنــی تــرکمنستان او دآمو دسیند او مرستیا لانــو پــه غاړو او کڅونو کی دکرنی‌پــه ابتدایی چارو پیل شوی دی او آثاریی موندل شوی دی . سړی‌ویلای‌شــی چی دمرکزی آسیا سیمی دکرنی لومړنی مراکز دی چــی داروپا سره‌دمقایسی په ترڅ کــی ورڅخه یوزر کاله قدامت او سابقه لری . ځکــه‌چــی داروپا کرنه دمیلادنه مخکــی ۶ریو زرو کالو نه زیاته سابقه نه لــری . داروپا ځینو قبایلو دمیلادنه درې زره کالو پخوا دغنمو، اوربشو،ږدنو ، نسکو ، نخودو ، هوږی او داسی نورو بوټو لکه منی په کرلوابتدایی پیل کړی دی حال دا چــی دهمدې مودې سره په معاصــر زمان‌کــی دافغانستان په خاوره او دآمو دسیند په پورې غاړه آریایی سیموکــی دوی دغنمو ، اوربشو ، انځرو، نخودو اونورو نباتاتو لکه پیاز،کدو،هوږی ، کاهو او کونځلو په کرلوکی پوره مهارت حاصل کــړی ؤ او پــه سوونو کاله پخوا ورسره بلد شوی وو . په افغانستان (خصوصاً جنــوبــی برخو لکه . کندهار . ارغنداب) او کویټه کــی داسی لرونه موندل‌شوی دی چــی تاریخ یی د میلادنــه پخوا شپږو زره کالو ته رسیږی اودکروندې او کرنی شاهدی ورکــوی. (۱) دشوروی اتحاد دجیوبوتانیك یولوی عالم ن.ی. واویلوف په افغا- نستان کی دنباتی انواعو دتاریخی‌مراکزو پــه پیدایښت پســی ډیری څیړنی کړی دی اود خپلو څیړنو په نتیجه کــی دی عقیدې تــه رسیدلی دی چــی دافغانستان دغرونو هغــه لمنی چــی دسیندونو په غاړو کــی پــرتی دی او کڅی یی جوړې کــړی‌دی او دهند دنیمی وچی شمال‌لوید یځی سیمی (پښتونستان) دغلو دانودپیدا یښت لرغونی مراکز دی چــی دهمدی سیمونه دغه حبوبات نــوروسیموته لبږ دیدلی دی . پــه افغا- نستان کی دکروند گرو داسی ټاټوبــی موندلی شوی دی چی دمیلادنــه مخکی څلورو زرو کالو ته یی دو دانیــو تاریخ رسیږې . (۲) واویلوف وایــی : د ډیری لرغونی کروندې‌په باب ، هرات ، کندهار اودافغانستان جنوب ختیځی سیمی دزیاتی پاملرنی‌وړ دی . لومړی حیوان چــی دسپی نــه وروســته پــه ځنګلو نــوکــی ونیــول شــو او اهلــی

---

(۱) دافغانستان تاریخ لومړی ټوك‌پــه روسی ژبه دښاغلی دوست په مننــه

(۲) کابل مجله لومړی ګڼــه ۱۳۵۵کال ـ ۸۹ مخ دښاغلی دوست څیړنه

کړی شو غویی و . میـږی او وزی‌ډیری وروسته اهلی شولی. دغویی اوسپی تقدس او احترام پـه آریایانوکـی زښت ډیر زیات ؤ او د دوی دمذهبـــی عقیدې جـزګرځیدلی وه.
زردشتی دین چـی دآریایی پخوانیوعقایدو او عنعناتو یـو منظم شـوی شکل دی دخارویو پـه برخه کـی‌دهغو پخوانیو آریایی عقایدو بقایـا ساتی او ډیرځله سپی اوغویی پـه‌ډیر احترام او درناوی سـره یادوی چـی حتی دوی خپل یوشمیر مشران‌هـم دنیمه غویی په بڼه بولی .
پـه زردشتی دین کـی داسی ډیرې‌جملی شته چی دهغو په رڼاکی پـو هان دې نتیجی ته رسیدلی دی چـی‌پـه آریایـی ټولنو کـی دتـوتمیزم عقاید موجود و ، ځکه چـی په‌مینوخرد کی داسی راغلی دی:
«ګوپت شا دآریانا ویجو په ودانـه‌سیمه کی ژوند کوی . دی دپښونه ترنیمایی تنی پورې غویی وزمه دی‌اونیمایی نه پورته ترسـره پـورې دانسان په بڼه دی . دی داوبو په‌غـاړه ناست دی او دار باب الانـو اعـو عبادت کوی . (۱) په اویستاکـی لنډی تیره داړی سپی دیوګران کورنی ژوی په صفت ستایل شـوی‌دی. آس اوخر هـم ددې ځارو یونه وروسته اهلی شول او آس دآریایانـوخاص حیوان بلل کیږی ځکه چی آس په هندی بومیانو ، ایرانی‌بومیانـو اود میزو پوتانیا په ټولو برخو کی هیڅ سابقه نه لری اوپه آسوری‌بابلـی او دبین النهرین پـه نورو تمدنونو کـی دآس هیڅ څرك نه دی‌موندل شوی . داسـی ښکاری چـی آس دهندوکش دلمنو یو اصلی حیوان دی چـی دلومړی ځـل لـه پاره آریایـی ټولنـو کـی ډیـر و .دآس درناوی او محبوبیت هـم پـه آریایی ټولنو کـی ډیرو آس اوخـرهـم دمیلادنه مخکی څلورمی زریـزه کـی اهلی شوی دی او د دوی سره‌یـی دسپرلی او پیټی په چاروکـی پوره مـرسته کوله .

دکرنی الات او وسایل

دکروندې وسایل بیل بیل شیان وو.پـه یو ډول ګینتی (کولنګ) باندې به یی ځمکه اړوله چی لاستی بـه‌یـی دار ګی څخه و اوپه سرکی به یی‌یوه تیره تیږه یاد هوسی اویابل‌حیوان ښکر ټومبلی ؤ . دکروندې‌او دنورو بوټو دریبلو له پاره له‌یـوډول لور او یاچاکو څخه کار اخیستل کیده چـی دارګی نه به جوړ شوی‌واو خواله به‌یی یوه تیره ډبره وه . دغلو او دانو وږی به‌یی پـه کوتکونـو ټکول او دانی به‌یی ورڅخه جلا

---

(۱) کابل مجله ۱۳۵۵ کـال لومړی‌ګڼـه ۹۱ مخ

کـولی . البته په ابتدایی وخت کی به داکار په لاسونو کیده او دا چاری بـه ښځو سمبالولی . کله به چـی دغلی دانی دبوسو څخه جلا شوی نو پـه بغریو کی به ټکول کیدی چـی دابغری به دتیږو څخه جوړی شوی وی . دنیولیتیك د دوری دآریایانو څخـه دحکاکی قلمونه ، تبرونه ، چاکوګان ، تخځ او داسی نور ډیرشیان پاتی دی چـی دارکیالو جستیانو لاس تـه ورغلی دی او دا وسایـل اکثراً صیقل شوی وو (۱) . تبر به یـوه تیره څوکی ډبره وه چی کوږلاستی بـه پکی اچول کیده او پـه لاستی کـی بـه دیوی تسمـی پـه واسطه ګلکه کړی شوې وه اوونی به یـی پـر غوڅولـی . دونو دلر ګیوڅخه یی دژوند په مختلفو ساحـو کـی کار اخیست اویو څـه تحول یی پـه ژوند کی څرګند شوی ؤ . دوی دسیندونو څخه دپورې وتلو له پاره دونو دتشوډ ډونو څخه کار اخیست اویا به یی دونو دتختو څخه دبیړی کـار اخیست چـی څنګ پر څنګ به یـی څـو تختی سره وتړلی او پـه سیند کـی به یی لاهـو کړې .

دکورونـو جوړښـت :

کله چـی په همدی دوره کی د دوی شمیر زیات شو اونور په غارونو کی بسیا کیدلاې نـه شول اوله بلی خوادغذایی منابعو سره تل طبیعی غـارو نومنظماً وجودنه درلـود ، نودوی دکورونو په جوړولو پیل وکـړ اود راز راز خـونو جوړول یی پیل کړل. په ځنګلی سیمو اویا ځنګل ته نژدی سیمو کی دو دانیو په جوړولو کـی دارګی څخه زیات کار اخیستل کیده اود هوارو ځمکو خلکوچی لرګی ورڅخه لیری ودختو او ډبرو څخه یی کار اخیست چی بیا به یی هـم دپاسـه پری لرګی اچول . دوی به دچراغاو یااور بلو نی له پاره دغوړ و لرګیواویا وړو نباتونو دساقو څخه کـار اخیست . نغری به دخونی په منځ کـی وچی په سر خلاصی توګه بـه پـه کی اور بلیده اود لوګی له پاره به یی په بام کی دنغری دپاسه موری پـریښی وه . دوی دغـه وخت د کـټ نـه استـفاده نـه کوله اود ونو په تختو اویا نیمه ډډونو کی به څملاستل چی دونو څپولی به یی په کی اچولی وو اویا به یـی نور پاسته وانبه په کی خواره کړی وو . د بالښت لـه پاره بـه یـی همـدغـه وانبـه نسبتـاً هسـك جوړول او پرځمکه به عموماً دحیواناتـو پر پوستکو اویا پوزیو بـاندې کښیناستل . دخوراك اوڅښاك سامانونه او لوښی یی عموماً دڅرمنی ،لرګی

(۱) دا وسایل دکابل موزیم په قبل المیلاد غرفه کـی مـوجـود دی .

، د ونو پوستکی او ډبرین شیان وو، دا وبو دلوښی به توګه یی دنری غاړی کـــد وخخـه کار اخیســتاودیو ځای نه بل ځای ته داوبو دانتقال استفاده یی تری کوله .

پـه همدی دوره کی کلالی اود خاورینولوښو جـوړولو اختراع منځ ته راغلـه اود پخو خاورینو لوښو په جوړولو سـره د دوی په ژوند کـی پوره بدلون راغی . منظم پخلی اودخوراك او څښاك له پاره منظم او بیلا بیل سامانونه جوړ شول . دکلالـی پـه څـرخ سره پخپله دکلالی پـه فن اود خوراکو نوپه تنوع کی پـوره انکشاف منځ تـه راغـی اود خوراکـونو دهضـم پـه بـرخه کی پوره اسانتیا پیدا شـوه .

ځینی پـوهان عقیده لـری چـی دکلالی هنر دښځـو اختراع ده او د تقدس مرحلی ته رسیدلـی ؤ چـی دعقیدوی اساساتو پـه بنا هغه ځای ته چی لوښی به په کی جوړیدل دهرچـا ننوتل منع وو . اوس هم دډیرو کسبونو چار ځایونـه (دستگا وی)داحترام او درناوی وړ دی اوخاص مقررات لری چی دمثال په توګـه دپښی دکان اویا دتودولو دکان یادوـ لای شـــو . (۱)

آریایانو بـه داقلیمی شرایطو پـه ملحوظ اود ورشو ګانو اوڅړ ځایونو پـه تغیر سره لـه یوځای نه بـل ځای تـه مـوقتی او کلـه دایمـی مهاجرتو نه هـم کول او خاورین لوښـی به یی هم له ځـانو سره نقلو ل مګر دمالونو څخه دحاصل اخیستلواود موسم دبدلون نه وروسته بـه یـی خپل خاورین لوښی په یو محفوظځای لکه طبیعی غار یاسمڅـه کـی منډل چی دبارانونو او واورو دضررنه محفوظ وی دنوی کال پـه هماغه مـوسـم کی به یی خپـل لوښی بیـاراویستل او استفاده بـه یـی تـری کـولـه .

پـوښـاك :

پوښاك چی اصلاً دیـخ نـه دځانونودساتنی پـه منظـور استعما لیـده پخوانی شکل یی چـی تراوسـه موندلشوی دی یوراز کچړی ، ملابند ، تنربند او خولی وازی پرتوګ ؤچی دحیواناتو دپوستکـو څخـه جوړیدل ځینی به د پرتوګ پرځـای یوه توټه دنامه نه لاندې بدن څخه تـاوولـه بیاهم دتودو ځایونو ډیر طوایف ووچـی هیڅ لباس یی نه درلود اولفـړ بـه ګرځیدل . ښکار یان اوکـروندګر دپوونده ؤ څخه وروسته دپـو ښاك سره بلد شـول . ددې عصـرلباس اکثـره څـرمین اویـا دوړیـو

---

(۱) تاریخ جهان باستان ۷۵ مخ

کوڅی وو چی په لازمه اندازه بـــه یـی غوڅـول . بیاهم دلباس نوع او زمان په قطعی توګـه نه شی ټاکل کیدای او دټولو طایفو په برخه کی صدق نه کو او دهری سیمی لباس پـه اقلیمی شرایطو او تولیـــدی منـابعو پورې اړه درلوده اود دوی د ذهن انکشاف په کی زیات سهیم ؤ. دحیوانی منابعونه بـر سیره دنباتاتـو پانی اونباتی الیافونه او داسی نور مواد هـم د پوښاك له پـاره استعمالیدل . پـه همدی دوره کـی وریشل او اوبدل رایج شوی دی اوددې فن په ظهور سره په لباس کی تنظیم او تنوع پیدا شوه او دوړیوڅخه دلومړی مادی په حیث استفاده وشوه . اکثره خلك پښمی ابله ګـرځیدل او دپښو پوښاك ډیر وروسته رواج وموند چـی لومړنی شکل یـی دلرګی او څـرمنی اویا نورو نباتاتو څخه ؤ .

اجتماعی او اقتصادی اړخ

پـه دې دوره کی دښکار او کروندې سیمی دیوی طایفی دخلکو مشتـرك مال ګڼل کیده. دوی به په ګډه سره کار کاوه اود کروندې ظهـور دوی پـه ډله ایز کار اوګډ وهڅو لاټینګ کـړل . ځکه کروندې ددیرو خلکـو ګـډکار ایجاباوه . د دوی بیړی ،اهلـی حیوانات او اورهـم دیـوی طایفی مشترك مال بلل کیده. مګـر کـوم شی چـی په دی دوره کی د شخصی مالکیت بنـه پیدا کـری وه دکار او ښکار وسایل اوالات وو . غشی اولینده ، ګینتی، کولنګ، تبرچـاکـو او داسی نور شیان لکـه ګینتی سامانونه دهغه چا شخصی مال ؤچـی پخپله به یی جوړکـړی وو . حـرفه یی صنفونو تشکل کړی نه واوهر څوك دخپلو ضروری وسایلـو جوړونکی وو . له دې شیانونه وروستـه دویم شی چـی دزمانی پـه تیریدو سره یـی دشخصـی مالکیت بنـه پیدا کړه ، اهلی حیوانات وو. مګر داشیان هم پـه ډله ایز مالکیت کـی راتلل او داجتماعی او طایفه ایز مالکیت اجزا او برخی وی اوپه ډله ایز مالکیت کـی تری دطایفی ټولـو خلکو استفاده کولای شوه . په خوراکـی شیانو کـی هم ذخیری اوپاسری رواج پیدا کړی نه و او دښکار اوزراعت محصولات به سمدستی دخپلو انـو او مربوطینو سره ویشل کیدل مثلاً چـا به چی په ښکار کـی کـوم حیوان وو اژه نوغوښه به یی دخپلوانوسره سمدستی ویشله او نه یی ذخیره کوله . له بلی خوا خپلوانویی هم دا طمع لرله چی خپله برخه په کی واخلی . ځکه چـی متقابلی راکړی ورکړی دیوی قوی عنعنی په توګه لوړ مقام درلود . دا رواج دزرګونو کلونو څخـه تراوسه پورې پـه زیاتو پښتنی قبایلوکی ښـــه پوره ټینګ دی . دا وسیدنی خونی

به ډیری لویی جوړی شوی وی‌چـی‌حتی ترسلو تنو پوری به هم په کی ځائیدل چی دا خلك بـه دیوی لویی‌کورنی غړی وواو واړه‌واړه فامیلونه پـه کی شریك وو . ددې خونونه‌ونی‌دامـو دسیند پرغاړه دشوروی اتحاد دیو اتنوگرافیست (س . تولستوف)له خوا موندل شوی چی د کلتمینار پـه تمدن پوری اړه لـری (۱) . داخونی به‌ډیری پراخی وی چی تل‌به په کی اور بلیده او اوریی‌مړه کیدوته نه پریښود.ځکه چی داورپیداکیدل څه اسان کارنه ؤ او داور دمختلفوخـواصو له کبله ورته په احترام او درناوی قایل وو . دا احترام حتی‌دتقدس مرحلی تـه ورسید اوپـه ویدی دوره کـی ورته یـو خـاص‌رب‌النوع قایل شوی وو چی «اگنی» یی باله او ډیر نذرونه به یی‌ورته کـول چـی دهمدی تقدس اغیزه په اوستایی دوره کی په زیات قوت‌اوشدت سره لیدلای شو چـی خـاص اور تونونه تاسیس شول اومخصوص‌کسان ورته مقرر شول. تردی پوری چی داور تقدس اوس هم‌په زیاتروآریایی اقوامو کی لیدل کیږی چـی شـرح به‌یی وروسته راشـی .

دهمدی دورې په پای کـی دلویـوخونو په موجودیت برسیـره ، وړی خونی هم رایج شوی وی چـی پـه یوځای کـی دیوی طایفی خلکو څنگ پـر څنگ سره ښښلولی او نژدی اوخپلوان فامیلونه به‌سره ډیر نژدی گاونډیان هم وو . ورو ورو دزمانی‌پـه تیریدو سره دکار وسایل بشپړ یدل او ددی تکامل تر څنگـه انفـرادی تولید ډیرښت ومونـد . دکـار طبیعی ویش عموماً دنراو ښځـی دجنس پـه اساس بنآ شوی ؤ چـی ښځینه ډلـی او نارینه ډلی جوړی‌شـوی . تردې پورې چـی دهـریو جشنونه او عنعنات هـم سره جـلاو بیـل شـول . څرنگه چـی د محصولاتو ټولول او غونډول او دکورسمبالښت اوپخلی دښځی په لاس‌وو یعنی داقتصاد او تغذیی مهمه منبـع‌دښځـی ملکیت گڼـل کیده نو د دې امتیاز پـه بنا په‌دې دوره کی ښځونـه یوازې داچی دنارینـه ؤ سـره مساوی حقوق دراودل بلکی اجتماعی‌موقف یی پرنارینه ډیر لوړو چی د همدی امتیاز له مخی دمور مشری مقام‌پـوره ټینگ شو . دښځی اقتصادی مالکیت داجتماعی امتیاز سبب‌او باعث‌شوچـی په اجتماعی تاریخ کی زښت ډیـر اهمیت لـری . همدا وجه وه‌چی په دې دوره کی چی دمور مشری مقام ډیر اوچت شو . ددی پـرځای‌چـی ښځه دنارینه کورته واده شی میړه به‌یی له کومو معمولو مراسمودښځـی (ناوې) کـورتـه راوستل کیـده او نارینه بـه د موضوعـه‌مقرراتو پـه مراعات کلك مکلف ؤ

---

(۱) تاریخ جهان باستان ۷۷ مخ

چـی دمقرراتو نـه دمخالفـت پـه صـورت کـی میړه دښځی له خـوا شړل کیدای شـو (۱) مګـر داچـی مشری مـور یا مشری نیـابـه یـی شفاعت وکړ اوبیرته به پاتی شـو. بـل چـا دمیړه دبیرتـه راګرځولـو هیڅ حق نه درلود . همدا اقتصادی امتیازو چـی ښځی تـه یـی اجتماعی امتیاز او لوړ موقف ورپه برخه کړیؤ . واده پـه دی دوره کـی خاص تشریفات نه لرل اود ښځی لـه پاره دردو لویا توافق کولو لوړ حق پـه بـرخه ؤ چـی هیچا په کی مداخله کولای نـه شـوه .

مشـری او ریـاسـت

دیوی قبیلی هری طایفی یـو مشـردرلود چـی ښځو اونارینه ؤ دواړو کولای شول چی درئیس او یامشرپه توګه غوره شی . په ځینو آریایی قبایلو کی زیاتی ښځی مشرانی وی اوپـه ځینو کـی به نارینه دخپلی طایفی ریاست په غاړه در لود .

دهـری طایفی غړو کولای شول چـی خپل مشر لیری کړی اوپه عوض یـی بـل نفر دمشرپه توګه وټاکـی .دمختلفو طایفو مشـران به دیولوی مهـم کار له پاره سره راغونډ یـدل اود ټولی قبیلی په چارو اوپیښوکی به یی تصمیم نیوه اومربوط مسایل به یی حل کول (۲) . دطایفی او حتـی دقبیلی مشرتوبه ارثـی بنـه نـه درلوده او یوازی دیوکس په شخصی صفاتو اومهارتونو پورې مربوط وه یعنی کوم څوك به چی دپوره تجربی خـاوند ؤ پوهه او حوصله بـه یی لـرله او شجاعت اوپـه جنګ کـی میړانـه به یی لرلـه دطایفی اویـاقبیلی دغړو درایو په اتفاق یااکثریت بـه دمشرتوبه مقام ته رسیده اویوازی عمومی افکارو پـه دې برخـه کـی ستـره اغیزه درلوده . شخصی ثروت او کورنی قدرت په دې برخه کـی بـی اغیـزې ؤ . پـه ابتدایی ګډه ټولنه کی دحکومت هیڅ بنه نه وه بلکی یوډول دیموکراسی وه چـی اوس یی ساری نه موندل کیږی . هـرې طایفی اوقبیلـی خپـل خـاص مـذهبی مراسم ، جشنونه اواخترونه لـرل او مخصوصه هدیره یی وه .دجنګ اوسولی په وخت کی دطایفی هرغړی دیوبل نه په دفاع مجبوراواو مکلف ؤ.دطوایفوتر منځ چی دیوی لویی قبیلی څانګی به وی یو تر بله یوبل راز تړون هـم وجود درلودچی

---

(۱) کورنی دخاص ملکیت اوحکومت پیدایښت . دانګلز لیکنه : دروسی ژبـی څخه دښاغلی دوست په مننه

(۲) دافغانستان پخوانی تاریخ د ښاغلی کهزاد لیکنه

هغه به دیوی قبیلی دځو طایفو تـر منځه ؤ چی متقابله دفاع اومتقابله همکاری او مرسته وه .

دقبایلو او طوایفو دژوندانه سیمـو بـه یو تربله ټاکلی سرحدونه او بریدونه درلودل چـی یا به ځنګل ،غـر اویا سیندو . دتیری او تجاوز پـه وخت کی بـه دمربوطو طایفومشران سره ټولیدل او قبیلوی جرګه بـه یی جوړولـه . دقبیلی دټـولوطایفو استازو به درای داظهار برابر حقوق درلودل اوهرچا به په آزادانه ډول خپله رایه څرګندوله . دبحث اومذاکری نه وروسته به یی درایود اکثریت پـه اساس مقابل لوری‌ته دجنګ اویا سـولـی اعلان کـاوه .دجرګی غړو به‌چی دبحث او مذاکری دتنظیم لـه پاره درایو په ډیرښت‌یـورئیس ټاکه ، دوی کولای شول چـی دقبیلی مشر خلع کـړی اوبـل‌نفریـی پرځای وټاکـی پـه جنګـی فعالیتونو برسیره مشر دا وظیفه هم‌درلوده چی لاس ته راغلی ولجی د خلکو ترمنځ په مساوی توګه وویشی‌اودهر ډول شخـړی مخـه ونیسی او همدی چارو د ده د دریځ اومقام په ښکښت کـی ډیره اغیزه درلوده . طایفه یی نظام په بشپړه توګه دموکـراتیك کیفیت درلود (پـه نننی‌ـ مفهوم داقتصاد له پلوه نه) ځکه‌چی‌ټول آزاد اویو تربله یی دورونواو خویندو په څیر ګوزاره کوله . ټول‌یوتربله دمساوی حقوقو خاوندان‌وو. د دوی ترمنځ داخلی اختلافات بـه‌دطایفه یی جرګی له خواحل کیدل . فرد دطایفی او قبیلی څخه او طایفه‌او قبیله دفرد څخه په دفاع‌مجبوره وه . دخارجی تیری او تجاوز پـه‌مقابـل کـی دطایفی اوحتـی دقبیلی غړی پـه کسات اخیستلو مکلف‌واویا به‌یی دسولی په صورت کی‌دهغه ځپلی شخصی حقوق بیر ته ورتـــه راګرځول . دا خبره دیادونـی وړده چـی د دوی ددمـوکراتیکـو قوانینوڅخه یوازې دطایفی او قبیلی غـړو استفاده کولای شوه او داخلی اهمیت‌یـی درلود . دباندې او دبلی قبیلی خلکو ددې دموکر اتیکو قوانینو څخه‌استفاده کولای نه شوه .

کلتـور

څومره چی دټولنی دتولید وسـایـل‌بشپړ یدل همغاړی ورسـره دکـار نتیجه هـم زیاتیدله او انکشاف یـی‌کـاوه . تجربـی پخیدلـی اود دوی ژوند دترقي خواتـه روان ؤ . پـه ښکار او کار کـی مهارت او تنوع د دوی ژبه او شعور هم پوځه پراخـه کړل . دکروندی دمختلفو موسمونو پـه کیفیت او احوال پوه شول ، دځوان او زوړ حیـوان پـه ابتدایـی

کیفیاتو او احوال وپوهیدل دشمیراومحاسبی سره په ابتدایی توګه بلد شول اوبردو مزلونودوی دستورودحرکاتو سره آشنا کړل او په دی توګه یی دمختلفو پیښو او اعمالودنتیجی څخه دځان او چاپیریال په برخه کی تصورات او تجربه یی‌معرفت زیات شو . دناروغیو پرضد یی‌دجادو ټوټکو او کوډونه برسیره‌دطبی بوټو تاثیرات‌کشف کړل‌مساژاو پوستکی موږل یی هم زده کړل .یونسل نه بل نسل ته دتجربو تراکم او دیوی طایفی او قبیلی نه بلی‌طایفی اوقبیلی ته دتجربو انتقال‌دوی بریالیو نتیجوته ورسول . لومړی‌لیك چی انځوری بڼه یی درلوده‌په طایفه یی نظام کی پیدا شوی‌دی‌چی هری علامی به ځانته مخصوص قرار دادی مفهوم درلود . مثلاًدوی‌به دتور برګ اس دانځورنه دیوه خاص مرض مفهوم اخیست . یابه‌دګنډی ګنډی رسی تصویر یوبل مفهوم درلود . دلومړی انځور لیك‌ایجاد د دوی دمجرد فکر پوره پر اخوالی ښیی . نوره ښوونه او روزنه یوازی په بدنی فعالیتونو او ورځنیو کارونو پورې مربوطه وه .مشرانو به دکشرانو مراقبت اوڅارنه کوله او هغوی به‌یی دزیات مهارت‌په منظور روزل چی دې ښوونی او روزنی به یولړ عملی ازموینی‌هم لرلی چی ترڅوبه په دی ازموینو کی دبریالیتوب په صورت‌کی دخپلی ټولنی کامل او عیارفعال غړی وپیژندل شو . دا ازموینی به‌دیو لړ شکنجو او ستو نزو سره هم ملګری وی چی د داسی صحنودترتیب له‌پاره به دطایفی او حتی قبیلی غړو خپلی هڅی نه سپمولی‌او ګډون به‌یی په کی کاوه . دهرچا ورتګ آزادو او مخصوص جشنونه به‌ترتیبیدل چی بی‌زړه او ناکامو کسانو ته به دتحقیر په سترګه کتل کیدل او دبلی‌از موینی له‌پاره به‌یی ځان تیاراوه . دپهلوانی اوغیږې نیولو فن داریایانو مخصوص مهارت ؤ او دی فن ته‌یی په ډیره‌درنه سترګه کتل او پهلوان به‌دهر چاله خوا نمانځل کیده . (۱)

هنر او انځورګری :

هنراو انځور ګری هم په دوی کی‌په ابتدایی بڼه رواج موندلی ؤ . په غارونو او سمڅوکی د دوی یوشمیرانځورونه موندل شوی دی چی د څارویو دیوی رمی اویا انسانانوڅیری ویستل شوی دی . همدا راز دهمدی عصر یوشمیر مجسمی هم‌موندل شوی دی چی عموماً دښځو

(۱) دافغا نستان پخوانی تاریخ ۱۲۱مخ

دی . دا مجسمی دا راښیی چی سینگار او و ښښتان تورول هم په دوی کی رایج وو .خالونه وهل او پوستکی رنګول چی دطبیعی رنګونو څخه به یی استفاده کوله په پراخه اندازه رایج وو . دکور وسایل او دپخلی لوښی به یی هم سینګارول . دښځینه مجسمو دپیدایښت نه اتنوګرافستان دوه نتیجی اخلی .

یوه داچی دغه دوره دمور مشری خاصه مرحله ده چی داقتصادی امتیاز له کبله یی په ټولنه کی لوړمقام درلود .

بله داچی ددې مجسمو جوړول دیوی عقیدوی اړتیا په اثر منځ ته راغلی دی . ځکه چی دغه وخت جادویی طب زیات رواج درلود او د علاج کولو یوه مهمه وسیله وه. نودا مجسمی دهغو جادوګرو طبیبانو نیاګانو مجسمی دی چی دهغوی له مړینی نه وروسته هم دتقدس په سترګه ورته کتل کیدل جادوګری او کوډی دښځو په واسطه منځ ته راغلی دی . (۱)

موسیقی

د اجتماعی ضروریا تو دیوعنصر په توګه په ابتدایی ډول موجوده وه . دوی مخصوص جشنونه اواختروونه لرل چی وخت ناوخت دځینو داسی پیښو په صورت کی چی دړی به خوشحاله شول هم خپل سازونه غږول . دموسیقی آلات یی هم په لومړی وخت کی دونو ډډونه ، لیندی اوکړ کو(دړمو)څخه وو . دموسیقی بادی الات هم وروسته په کی شامل شول چی دکړکی شپیلی وه ، ډول هم را پیدا شو . دموسیقی سره به اکثراً اوږده اتنونه . پالی او نڅاوی هم کیدل چی ښځو او نرو دواړو په کی ګډون کاوه .

دود او مذهب

څرنګه چی دوی دنورو انسا نانوغوندی دطبعیت سره دمبارزی په ډګر کی خورا ضعیف او ناتوان وو نوپرطبیعی قوتونو دبریالی کیدوپه هیله اوامیدیی لومړنیو عقایدو دسحر اوجادو په بڼه ظهور وکړ ، ځکه چی دوی فکر کاوه چی ګوندی دسحراوجادو په واسطه کولای شی پر طبیعت ځناورو اوونو باندی یومافوق طبیعت اثر اچولی شی یالا اقل به دطبیعی قواو دشر او خطرڅخه په امان اوسی چی د ښواو بدو په صفت یی یوشمیر نوری انګیرنی هم درلودی . دوی به دروزی د

---

(۱) تاریخ جهان باستان ۷۹ مخ

ډیرښت ودګیډی دمړښت دتفاول په عقیده خپلی ګیډی پـه ځینـو عجیبو او نادرو تیږو پورې سولولی‌چی وروسته دارسم به دیوې مشری ښځـی او سپین ږیری لـه خوا اجراکیـده د دی دود بقایا تراوسه پوری هم‌په ځینو افغانی قبایلو کی موجوددی . په دی توګه چی اوس خپلی ګیډی اکثراً دیو روحانی شخص دقبرپـه شناختو اویا کومی داسی مقدسی تیږی پوری موږی چی کومه فولکوریکـه افسانـه ولری . غیـب ویل هم دښځو وظیفـه وه چـی زړواو سپین سرو ښځو بـه دا وظیفه اجرا کوله دخوبونو تعبیر او په هغو باندی اعتقاد هـم په دوی کی رواج مـوندلی ؤ چـی ددې عقیدی بقایاهم‌تراوسه پورې په اکثرو ټولنو کـی موجود دی او حتی یوشمیر مسلکـی‌اشخاص او کتابونه هم منځ ته راغلی دی او مـذهبی بڼه یی پیدا کړې‌ده.

لمانځه (Animism) ده . دوی به موجوده وه چـی هغـه داروا ګانـو یوه بله عقیده هـم په دوی کـی‌عمومـاً دخپلو مړو قهرمانانو اومشهور ونیکونو ارواګانی خپلی مرستی تـه رابللی او هم یی یقین درلـود چـی طبیعی قواوې‌هم د دوی غوندی سادلـری او یاځینی نالیدونکی ارواګانی موجودی دی چـی دانسان پـه سـرنوشت کـی پوره اغیزه لری . نـو دوی به دغه ارواګانی دتنګسی پـه وخت کـی په خاصو مراسمو نمنځلی اورا بللی او حتی نذرونه او خیراتونه یی هم ورتـه کول (۱)

دغـه ټولی عقیدی دطبیعت پـه مقابل کی دانسان دضعف‌او بی‌وسی نـه پیدا شوی وی ، ځکه چـی دوی‌هغه وخت دفکر شعور دتتوالی لـه کبله نه شـو کـولای چـی دطبیعی‌پیښو پرله پسی جریان درك کړی اود هغو ترمنځ ارتباط کشف کړی نوکله بـه چـی دوی دطبیعی پیښو لکـه نیز (سیلاب) دځنګله داور ، وچکالی، قحطی او داسی نورو پیښو سـره مخامخ شول نوپرته له دې یی‌وبله‌لارنـه درلـوده چـی ددې پیښونـه لومړی مافوق طبیعیت قواوی فرض‌کړی اوهغه په دی پیښـو دپاسـه وبولی . نود دغو پیښونه دخلاصون‌اوبچ کیدوله پاره به‌یی هغو فرضی قواوته نذرونه او عبادت کاوه اونمنځل به یی .

تـوتمیزم (totemism) چـی‌دیو حیوان داحترام او درناوی عقیده ده هم په آریایی ټولنه کی موجوده‌وه او دمالـداری د انکشـاف نـه وروسته او مخکی دواړو وختونوکی‌یـی رواج دراود . پـه ښکاری دوره

---

(۱) پـه ویدی سرودونوکـی دارازډیـرې دعاګانی شته چـی دنیکونـو د ارواکانو رابلنه کوی او نذرونه‌ورتـه کـوی .

کی یی دښکار یانو دسحراو کوډوبنه پیدا کړه او په وروسته دوره کی یی لمانځنی او درناوی مقام پیداکړ.(۱)

له بلی خوا دکروندې دانکشاف سره سم دوی په ځینو نورو مافوق طبیعی قواو هم عقیده پیدا کړه.څرنګه چی دکروندې په حاصلاتو کی لمر ، باران ، وریځ اوبو سیلاب،حرارت او سړښت لویه اغیزه درلوده نو دوی دخپلو هیلو په بنیاددباران اوبو ، لمر ، آسمان اوداسی نورو طبیعی مظاهرو له پاره معنوی‌اومادی سمبولونه وضع کړل چی دې سمبو لونو دزمانی په تیر یدوسره انکشاف وکړ اود دوی دمذهب یوه ستره برخه یی تشکیل کړه‌په ویدی او اوستایی دورکی چی کروندی او مالداری دواړو پوره‌انکشاف کړی ؤ ددې طبیعی مظاهرو پوره اثرات موندل کیږی .

دآریا یانو مهاجر تونه

داومړنی اشتراکی نظام ړنګیدل،دطبقاتو او دولت ظهور او تشکیل:

لکه چی دمخه وویل شول دآریایی‌اقوامو دلومړی خاص ټاټوبی ټاکل یو مشکل کار دی ځکه چی دپوهانولاس ته لاتر اوسه پورې په کوم ځای کی مستند اسناد نه دی ورغلی‌چی د دوی دلومړنی پیدایښت ټاټوبی او شجروی نسبت تثبیت کړای شی‌له بلی خوا دلته زمونږ موضوع دهغه وخت څخه پیل کیږی چی دوی‌دتمدن یوی خاص مرحلی ته داخل شوی او دژوند دتکاملی سیر په رڼاکی ورڅخه نښی او بیلګی پاتی دی . نود دغو بقایاو په استنادپوهان دی نتیجی ته رسیدلی دی چی دآریایی اقوامو داستوګنی دځایونو حدود وټاکی او هغه داورال د سیند او بحیری نه نیولی دهندوکش لمنی دآمو سیند غاړی . دتوری بحیری اود کسپین دبحیری شا اوخوا ځایونه وو .

دوی په دغو سیمو کی خواره‌اوسیدل او بیلی قبیلی په کی‌پیدا شوی وی چی دزمانی په تیریدوسره‌همدغه قبیلی دبیلو بیلو قومونو بنه پیدا کړه او یوتر بله سره‌لیری شوی .

آریان په لومړی سرکی په دوه‌برخو ویشلای شو ، چی یوی ته یی عربی برخه ویل کیږی او داهغه آریایان دی چی دوی داروپا خواته مهاجرت وکړ . ددوی دمهاجرت‌وخت‌پوهان دمیلادنه پخوا درې زره کاله اټکلوی . دوی مرکزی ارو پاته ورسیدل مگر داقلیم دیخوالی په اثر

کابل مجله د۱۳۵۵ کال دویمه ګنه دښاغلی دوست لیکنه او څیړنه

چـی داروپا شمالی برخی ډیری سړی‌وی ، داروپا جنوبی برخوته ښکته شـول . دوی دغه وخت خپل اهلـی‌مالونه له ځانو سره اروپا ته بوتلل او په ابتدایی توګه په کرونده‌هـم‌پوهیدل دا لومړنی آریایان دهلتانو پـه نامه یاد شوی دی . دوی دروم‌یونان او دمدیترانی نـورې شمالـی بـرخـی ونیولی . او داروپا د هغه لـوی تمدن بنسټ یـی کیښود چـی تر اوسـه پـو ری‌شهرت لـری و داکثـرو علومو او پوهنو مبدأ پـه یونان کـی دهمـدی‌تمدن په ړنګاکی‌لټوی . د دی ډلـی آریایی ټولنی دتمدن دبیلګو دزیاتی‌تشریح سره دلته زموږ کار نشته اوجلا بحث غواړی . لکه چـی دمخه ویـل شوی دی زمونږ اساسی بحث هغـه آریایی ډلـه تشکیلوی چـی‌پـه اوسنی افغانستان او نژدی شا او خوا پوری اړه لـری . دغـربـی‌آریایانو (اروپایی آریایانو) دمهاجرت نه ورسته بیا آریایان په دووډلـو ویشل کیږی چـی یوه ډلـه یی‌دآمو سیندنه پوری غاړه اوبلـه یـی دجنوبی غاړه آریایان دی . شمالـی اریایان چی اکثره ساکی قبایل ووارِیـوڅه اقلیتونه نور هـم ورسـره ملګری وو پووځه او بزګران ووچی‌د جنوبی آریایانو لـه خـوا پـه (تورانیانو) مشهور شوی دی . تـرډیره وختته پوری پوهانو دافکرکاوه چـی ګوندی هغـه قبایل چی دآمـوسیندنه پورې غاړه پرانه وو او د پیړیو پـه دوران کی یی بیل بیل‌حکومتونـه تشکیـل کـړی دی او د باختری دولت سره تـل په جګـړه‌کـی وو چـی په هـدې مناسبت په اوستا او دهغه وخت په نورومذهبی‌آثاروکی دتورانی پـه نامه یاد شوی دی غیر آریایی دی . مګـر اوسینوتحقیقاتو دا ثابته کړې ده چی تورانی قبایل سوچه آریایان اود دوی هـم‌نژاده خلك دی .

جنوبی آریایان د هندوکش جنوبی‌لمنوته دیوه اقتصادی عامل چی‌دور شواو زراعتی سیمو دتوسعی پرابلم‌ؤ دخوپیړیو په دوران کی راخپاره شول اوبیلو بیلو قبایلو پـه بیلووختونو کـی دنفوسو او مالونو د زیادښت په اثریی له دې ځایونو هم‌مهاجرت وکـړ .

دمادی کلتورونو دڅیړنو په نتیجه کـی پوهانو ته دا ثابته شوی ده‌چی پـه افغانستـان کی بیل بیل مادی‌کلتورونه تیر شوی دی . کـه څه هـم په عنعنوی توګه داسی فکـرکیږی چی ګوندی په افغانستان‌کـی دمادی کلتورونو ډیر لرغونی کلتورپـه باختر کـی تیر شوی دی اونور کلتورونه ددی مرکزنه منشعب شوی‌دی مګر کوم شواهد چـی تراوسـه پـوری دپوهانو لاس تـه ورغلی‌دی‌ددیر ار غونی مادی کلتور بیلګی‌او

آثار دافغانستان په کندهار ـهیلمندـسیستان او کوټه کی موندل شوی دی چـی زراعتی سابقـه لـری .

دسیستان ، کوټی او کندهار مادی‌کلتورونه چـی یوتر بلـه گاونډی پـراته دی یوتر بله ډیر زیات‌ورته والـی لری . بیا وروستـه دهیلمند او ایرانی قبایلـو د کلتـورونـوترمنځ دورته والی پوره اساسات‌او روابط لیدل کیږی چی دهمدې‌روابطوپـه اثـر پوهان دا حکم کوی چـی ایرانی قبایل دهیلمند لـه لاری دخراسان او پارتیانا له لاری فـارس او میدیاته لیږ دیدلی دی .

لـومـړنی آریایی ټاټوبی

دآریایایی توکمونو د خپریدلـو اومهاجرتو پـه لړکی چـی بیـل بیـل قبایل پـه جلا جلا وختونو کی لیـږدیدلـی او خپاره شوی دی لومـړی دا ضروری ده چـی وښیـود دوی‌لومړنی ټاټوبی چیرته او کوم ځای‌و؟

دا خبره ډیره مشکله ده چـی دتاریخ پـه څـوزره کلنه دوره‌کـی دیو توکم ټاټوبی ، خطالسیر ، دنوروسـره اختلاط او دژوندانه کړه وړه ټول په قطعی او مستند ډول وټاکل‌شـی ځکـه چی ددی تحقیق په مخ کی یو زیات شمیر خنډونه او خلاگانی موجودی دی‌چی‌هیڅ امکان نه لـری څـوك پـوره بریالیتوب تـه‌ورسیږی پـه دی چـی لـه یوې خوا ددې توکمونو دژوندانه زیاته برخه‌پـه داسی دوره‌کی تیره‌شوی‌ده چی لیك اولوست نـه وله بله پلوه دوی‌دداسی ابتدایی مواد و څخه استفاده کوله چی ډیرزر ضایع کیدل او یوتر بله متقابل اثرات له څیړونکی څخـه لار ورکوی . همـدا راز کـه‌مونږدیو توکم یو ټاټوبی وټاکو، دا مسئله یو تسلسل پیدا کـوی چـی‌دغـه ټاټوبی تـه له کومـه ځایـه راغلی دی او بیا هلته له کومی خواراغلل او همداسی نور ....

بیاهم له هغه وخته راهیسی چـی‌دوی پـه ورځنی ژوندکی دفلز څخه استفاده کړی ده او أثاریی له خاوروڅخـه راویستل شوی دی اویا دلیك او انځورونو نښی او بیلگی یی‌تـراوسه پورې پاتی دی دهغو په رڼاکی تـرکومه حده چـی امکان لری دیـوتـوکم تمدن او کلتور تریو څه‌حده پـورې څیړل کیدای شـی . همـداسـوال دآریایی توکم دژوندانه د مختلفو اړ خونو په برخه‌کی هـم‌راولاړیږی او پوهان لاتر اوسه پورې یوی قطعی نتیجی ته رسیدلی نه‌دی.

زښتو ډیرو ژبپوهـانو ، ارکیالوجستانو او مور خینـو دبیلـو بیلـو متودونو څخه په استفادی سره زیارویستلی دی چـی دانـډو اروپایی

توکمونو لومړنی ټاټوبی وټاکـی. داموضوع ډیرو پوهانو دخاصو اغراضو او خاصو فلسفو په رڼاکی څیړلی‌ده.ځینو ورته داند وجرمنی نوم ورکړی دی ځینو أرین(Arian)اوځینو بیانوردیك (Nourdic) بللی‌دی.

بیاهم دموجوده اسناد وپـه رڼاکـی‌پوهان دې نتیجی ته رسیدلی دی‌چی پـه قبل المیلاد څلور زره کاله کی‌اندو اروپایی قومونه موجودو چـی هغـه وخـت دوی پـه یوه خاصـه‌ژبه خبری کولی چی داژ بـه داجتماعی دوران لـه املـه ډیـره‌ابتدایی وه او دوی یوتر بله سـره مفاهمه پرې کوله پوهانو دغه لومړی‌أریایی ژبـه پـه اټکلی طـور اریك Aric بللی ده چـی دآریایی‌مختلفو قبایلو ژبی اولهجـی ورنـه منشعبی شوی دی .

پوهان بیاهم پـه احتمالی توګـه‌دآریایانو لومړنی ټاټوبی دهندوکش لمنی او دمنځنی آسیا سیمی اټکلوی.دا سیمه دباختری تمدن پـه آثارو (اوستا) کـی سره اویخه بلل شوی‌ده او دښکلا ډیر توصیف یـی هـم شوی دی . نواغلباً اټکل کیږی چـی‌دا سیمه به د«بلخ»او «سیر دریا»د سیندونو تر منځ وی ځینی پوهان‌آریانو ویجود بالتیك دبحیری غاړی اوسیمی اټکلوی او ځینی بیـا عقیده‌لـری چی دتوری بحیری په شاوخوا کـی وه مګر په هر صورت زه‌ګومان‌کوم چـی أریانا ویجـه دټـو لـو أریایانو لومړی ټاټوبی نـه بلکـی‌أریانـو ویجـو (أریان‌ویج) یوازې د هغو آریایانو مسقط الراس اولومړنی‌ټاټوبی وی چی په ویدی او اوستایی تمدن پـورې اړه لری . ځکه چی له یوې خوا د آریانا ویجه یادو نـه دټولو آریایانو په پاتی شو نومتونو،کتیبو او روایاتو او نورو مـوادوکی هیڅ وجود نـه لری او یوازې دباختریـانو پـه مذهبی اسنادو کی یادیږی او ضمناً دویدی تمدن پـه اساطیروکـی یی داشتراك وجهی او بیلګـی څرګندې دې . له بلی خوا دآریایانولیږ داو خپریدل څـه پـه یوه نیټه اویا یوه پیړی کـی سرته نـه‌دی‌رسیدلـی ، بلکـی دارکیالو جیکو اسنادو پـه بنـا آریایان لادحاصـل‌ټولولو (ښکار او میـوو او بوټوخو ړلـو) پـه دوره کـی هم سره‌خپاره‌شوی او پـه بیلو ، بیلو ځایونوکی یـی استو ګنی کولی چـی لکه څنګه‌چی دمخه وویل شول پـه اشتراکـی پاطایفه یـی دوره کـی هـم دآمـوسیند غاړو تـه را رسیدلی وو او ښکاری ژوندیی درلـود .

له بله پلوه دلیږداو خپریدو اوتولیدی مناسباتو دبدلون په دوره‌کی موږ دآریایانو نښی او بیلګی دچینی‌تـرکستان (تورفان) نـه نیولی تـر میزو پوتومی(Mesopotomy)یعنی‌بین النهرین تر حدودو پورې لیدلای

شو او هم د اوسنی شوروی اتحاد داوکراین پــه مختلفو سیمو او دتورې بحیری په شا او خواکی دیوې آریایی قبیلی (ســاك) دمحلی تمدنونو آثار او علایم پاتی دی .

اریانا ویجه یو داسی ځای و چې دا یشیاد او سنیوتولو اریایی توکمو نــو اســلاف او نیکونــه او دهغوی عشیری دهمدې سیمی څخه لیږدیدلی دی چــی دکلتوری بقایاو مشابهتونویــی پوهان په شك کــی اچولی دی او حکم کــوی چــی آریانــا ویجــه دټولو آریایانو لومړنی ټاټوبی دی.

آریانا ویجه «اران وج» او (اریانــم ویجو) داوستا پــــه استناد د (وانگوهی دیتا) دسیندپه غاره سیمه ده . اوس دا باید معلومه شی چــی دو انگوهی دیتا سیند چیری اوپه کوم ځــای کــــی دی ؟

پــه اغلب گومان ســره اران وج دا یگزارت (سیر دریا) او دامو سیند تــرمنځ دآریایانو اصلی ټاټوبی ؤ.وانگوهی دیتا دآمو سیند پاسنــی برخــی ته ویل کیده .

دی خبرې تــه باید پام وشی چی دآریایی قبایلو مهاجرتونه او لیــږ دیدنی په یو کال اویا څوکلونو کی نــه دی شوی ، بلکی دې مهاجرتونو سوونه کلونه نیولی دی .له بلی خواد دوی مهاجرتونه دیوه پلان لـــه مخی په کوم مستقیم خط نه وو، بلکی دا مهاجرتونــه ډیر تدریجی اوپــه کرار سره اجرأ شوی دی . پــه دې مهاجرتونو کــی دپوونده خلکو برخه زیاته وه . کروندگرو ډیر کم پخپله خوښه او رضا مهاجرت ته زړه ښــه کړی دی ځکه چی پوونده دښوورشوگانو دپیدا کولو له پاره په مسافرت مجبور وو او کروندگران نسبتاً دیشین او پر یوځای استوگن وو . له بله پلوه څرنگه چــی پــه دی دوره کی دشخصی مالکیت مفهوم عام شوی و نود پوونده ومالکیت ددوی سره یوځای هر چیری موجود ومگــر دهقانانو خپل مالکیت له ځانه ســره منتقل کولای نــه شو .

دا خبره هم باید پــه نظــر کــی ونیوله شی چی پوونده توب دکــرو ندگری څخــه دمخه پیدا شوی اوپه تدریجی توگه پوونده کروندگر کیدل مگر داسی هــم وه چی یوه داسی کورنی اویا طایفه به هــم وه چــی هم به پوونده او هم به کروندگران ووهم به یی مالونــه ساتل اوهم بــه یــی دځمکو مالکیت پــه برخه ؤ اودحاصلاتو څخه به یی استفاده کوله او یا معکوس کله ناکله داسی هــم کیدل چــی کروندگران به دځه مودې نــه وروسته پوونده شول اودځمکی کرکیله به یی پریښودل .

لکه چــی دمخه وویل شول آریایان د(۳۰۰۰ قــم) په حدودو کــی

PROPERTY OF ACKU 2340

دآمـو دسیند په غاړوکی استوګنـه دراوده نوپه دې کـی هیـڅ شـك نشته چـی د دوی پوونده خلك به دافغانستان دشمالی صفحاتو ورشـو ګانوته دهمدې مودې سره سـم رارسیدلی وو او دغه لومړنی آریایان به حتماً پوونده اومالداران ووچـیوروستـه یی دهندوکش په لمنوکی پـه کرکیله هـم پیل وکړ .

په هر صورت اریانا ویجه یا اراناوج یوازې دویدی او اوستایی مدا- نیتونو داریایانو مقدس ټاټو بی وچیدامو او سیر دریا دسیندو نوتر منځ کوم ځای ؤ چـی اوس دغـه سیمه حتماً دبدخشان په ولایت پورې اړه لـری .

دوی د دغـه لومړی ټاټوبی څخه دیخاو کنګل او دنفوسو اومالونو د ډیرښت لـه املـه لیږ دیدلو تـه مجبور شوی دی او دهندوکـش پـه لمنوکـی خپـاره شـوی دی او ددې خپریدو په لړکی یی داوسنی بغلان او هندوکش جنوبی لمنوته سر رارسیدلی ؤ . بده به نه وی چی پـه دغـه وخت کـی د دوی اقتصادیاواجتماعـی وضعه یـوڅـه مفصله و څیړو او پـه تولیدی روابطو بیـیـوڅـه رڼا واچوو :

پـه آریایـی ټولنو کـی دتولیدیروابطو بدلون :

څومره چـی اریایی ټولنوکی دتولیدیمولدو قوتونو خصوصاً مالـداری او کـرنی تکامل مونده او وسایل یـــی بشپړیدل او ترقی یی کوله ورسره سـم د دې زمینه برابر یدله چـید دوی طایفه یی نظام مخ په ړنګید وپیل وکړی او دمالکیت پـه ظهـورسـره دټولنی فورم او بڼه بـدلـه شـی او طبقاتی تیغونه وټوکیږی .کرنـه او مالداری په ټولو ځایونوکی دتاریخ پـه یوه اوعین دوره کـیانکشاف نه دی کړی ، بلکی یوتربله سره تاریخی اختلاف او توپیر لـری. پـه ځینو سیموکی دنیولیتیك په عصرکـی کـرنی او مالداری پـوره پرمختګ کړی و ، مګر په ځینو ځایو نوکـی کـرنی او مالـداری دزیړ و(مفـرغ) پـه دوره کی انکشاف وکړ. خوبیاهم په عمومی ډول سره دپوره پرمختګ او انکشاف عصر دمسودوره عصردی. (Eneolithis) یا (Chalcolithic)

دآمو سیند نه پوری غاړه آریایانـوکی (یعنی هغه وخت چـه دوی لاپوره خپاره شوی نه وو) دا دوره دمیلاد نه مخکی څلور زره کاله پخوا پیـل کیږی . دمسو په کشف اودهغه دخواصو سـره دبلدیت پـه برکت د دوی دژوندانه په چاروکی لـوی بدلون راغی . دوی دمسو پـه ویلی کولو پیل وکـړ چـی دتیږو دتبیـودپاسه به یی دډیر اورد حرارت په

ذریعه ویلی کول . سره له دیچی د مسو په کشف سره د دوی دژوندانه په چاروکیپوره تحول راغی ، مگر بیا هم دی فلز ددوی اړتیاوی پوره لیری نه کړای شوی ، ځکه چی مس دډبرو څخه پاسته وواونه یی ونیښیغوڅولا ی شوې اودتبرونو خولی یی په ځمکه کی زرأو ښتلی او له منځه تلل . دوی دمسینو الاتو په څنگ کی دبکرینو او هډوکینوالاتو څخه هم کار اخیست دوی دمسوپه څنگ کی دقلعی په کشفهم بریالی شول ، مگر قلعی دمسو څخه زیاته پسته او نرمه وهاو ددوی داړتیا په برخه کی یی پوره مرسته ونه شوه کړای. دوی دزمانیپه تیرید وسره په دې بریالی شول چی مس او قلعی سره گډکړی او یو نوی شی منځ ته راوباسی چه هغه زیړ یامفرغ وو . داگډشیهم دمسو اوهم دقلعی نه کلك ؤ. دزیړ و دوره دمیلادنه ۳۰۰۰ کاله پخوا منځ ته راغلی ده ، مگرترویج اوانکشاف یی ډیر تدریجی واوډیرپه ورو ورو رایج شول ، ځکه چی له یوې خوا مس ، قلعی اوسرب په طبیعت کی ډیر لږ پیداکیږی اوله بلی خوا ددې فلزاتو استخراج په هغه وخت کی زښت ډیرمشکل کار ؤ . دمعادنو استخراج ډیرورسته او دمیلادنه مخکی په (۲۰۰۰) شا او خواکی انکشاف وکړاو دغه وخت دوی بریالی شول چی دمعادنو دویستلو له پاره ډیراوږدهاو پراخ تونلونه وکاږی چی تر (۱۰۰) مترو پوری یی اوږ دوالیرسید .

دفلزی الاتو څخه استفاده دلر گیصنعت او استفادی په انکشاف کی پوره اغیزه درلوده اود دوی په ژوندانه کی یی پوره تحول راوست، ځکه چی دوی موفق شول چی دپخوا په نسبت کلك سمبال او مزبوت کورونه او خونی جوړی کړی.

دوی په همدې دورهکی په یوهمهمه اختراع بریالی شول او هغه دا چی دهمدې فلزی الاتو څخه په استفاده یی دلرگیو څخه ارابه یا څرخ جوړ کړ چی دلومړی ځلپاره په ختیځ کی جوړ شوی دی اوپه اروپاکی (۵۰۰) کاله وروسته یعنی د (۲۵۰.ق-م) په شا اوخواکی وپیژندل شؤ بیا هم سړی دا ادعاپه کلکه سره نه شی کولایچی ارابه یاڅرخ یوازې اومنحصر بالفرددآریایی توکم اختراع وه اوپه نورو پورې اړه نه لری ، مگر داسی شواهدډیر موجود دی چی اریایانو دڅرخ اویا ارابی څخه په همدې دورهکیاستفاده کړی ده او استعمال کړی یی دی .څرخونه یاارابی د ختیځپه اکثرو سیموکی رایجی وی .

په ختیځ کی دڅرخونو دپاسه نوری تختی نصب کیدلی او په

دې توګه دګاډی جوړول منځ ته راغلل . دا ګادی به دنرغوایی په واسطه راښکل کیدې او دوی به دبارونو وړلو او نورو تشریفاتی چارو له پاره تری کار اخیست .وروسته بیا په عسکری او سوق الجیشی مسایلو کی هم تری کارواخستل شو .ګاډیو یو وخت دو مره اهمیت پیدا کړ چی دلویانو او مقتدرو کسانو دسپرلی یوازینی وسیله وه . دا څرخونه په لومړی وخت کی دیوې ټوټی لرګی څخه جوړیدل مګر وروسته یی د دروندوالی دورکاوی له پاره تحول وکړ او دپره دارو څرخونو په جوړولو بریالی شول . پره دار څرخونه تقریباً دمیلادنه (۲۰۰۰) کاله دمخه جوړشوی دی چی ددی سپکو ګاډیو په راښکلو کی داس نه استفاده کیدله .اریایانو دزیړو په دوره کی د مالداری په برخه کی پوره انکشاف وکړ اود پوونده وداسی ټولنی یی جوړی کړی چی دموسم په تغییرسره به یی دمالونو دښی روزنی او پالنی په منظور منظم موسمی مهاجرتونه پیل کړل چی دآس او خره څخه یی دیوی عمده وسیلی په توګه کار اخیست اود نورو قومونو څخه یی په تحرك اویون کی پوره امتیاز درلود او مالداری یی داقتصاد یوه عمده برخه وه .

په دی وخت کی دوی دکروندې اومالداری دنوعیت په لحاظ په دریو ډلو ویشلای شو .لکه څنګه چی دمخه وویل شول یوه ډله هغه وه چی یوازی په کرونده بوخت وواوځایی استوګن وو . بله ډله خاص پوونده وو چی دکرنی سره یی کارنه درلود . مګر د دوی اکثریت داسی خلك وو چی هم یی کر کیله اوهم مالداری کوله . کله به یی زراعتی نباتات وکرل او دپخوانی فصل حاصل به یی واخیست داوړی په موسم کی چی په دښتو اوورشوګانو کی به وابنه خلاص شول اویا به دګرمی په واسطه وچ شول نو دوی به مجبور شول چی سړو سیمو اودغرو لمنو او ورشو ګانو ته خپل مالونه بوځی . دوی به ۳ـ٤ میاشتی په غرنیو ورشوګانو کی اوسیدل او دمنی په موسم کی به دخپلو حیوانی حاصلاتو سره یوځای تودو سیمو اویا خپلو اصلی ټاټوبو ته راوکو چیدل . د دوی یوشمیرداسی مالداران هم وو چی اصلی وظیفه یی کرونده وه او دیشین وومګریو شمیر څاروی به یی ساتل چی دخپلو کروندو دوښو په واسطه به یی روزل او دخپلو مالونو څخه به یی لازمه استفاده کوله . دداسی ډول خلکو چی مالداری یی دکرنی په څنګ کی یوه فرعی رشته بلل کیده مالداری یی انکشاف وکړ او داسی هم وشول چی ډیر کروند ګرپه پوونده واو پوونده په کروند

گرو واو ښتل ، مگر دلته باید پام‌وشی چی پـه هرکسب کې قبیلوی ارتباطاتو پوره دخل‌او نفوذ درلود.

آریا یان دنور و قومونـو څخـه وروسته داوسپنی سره آشناشول او دزیړونه ډیر وروستـه یـی .داوسپنی څخه استفاده وکړه . دا وسپنـی نه استفادی واقعـی نیټـه د میلادنـه (۲۰۰۰) کالـه مخکـی شااو خواوخت دی . چې پـه همدې‌موده‌کـی یی‌په استفادی لومړی پیل کری‌دی . دې فلز دخپلوم‌تازوخواصولـه کبله ډیر زر عمومیت پیدا کړ اواوسپنیزو وسایلو داکثرو پخوانیووسایلو ځ ای ونیو . له بلی خـوا دنورو فلزاتو پـه استخراج کی‌هـم‌زیاته استفاده ورڅخه وشوه.

څرنګـه چـی اوسپنـه پـه طبیعت‌کـی دنورو فلزاتو پـه نسبت ډیره پیدا کیدله نو ډیرزر یی تعمیم‌پیداکـړاو دخپلو اړتیا وړکلك موادیی پـه زیاته اندازه ورڅخه جوړکړل.داوسپنی‌څخه یی لومری تبر،ګینتی ، لور ، یوم او داسی نورشیان جوړکـړل چـی دی وسایلو دوی په دی قادر کړل چـی ځنګلونه غوڅ کـړی‌پټی او دکروندې وړځایونه په کی جوړ کـړی . یوه او قلبه هـم پـه‌ابتدایی توګه منځ ته راووتله اود لومړنی صنعت زمینه ورځ په ورځ بـرابر یدله .

دکروندی تاریخ پـه ختیځ کـی‌دمیلادنه (٤٠٠٠) کاله پخوا وخـت تـه رسیږی اوپه اروپاکـی دزراعتی‌کلتوری نښی‌نښانی‌دمیلادنه (۳۰۰۰) کاله پخوا ته رسیږی . آریایان هم‌دختیځ دنوروملتونو په څیر په اټکلی ډول د ق ـم‌ـ(۳۵۰۰) کلونوپـه شـا او خواکـی دزراعتـی کلتـور خـاوندان وو .

یـو مهم اجتماعی او حیاتی بـدلـون

دکروندې او مالداری په انکشاف‌او ورسره موازې دژوندانه دنـورو وسایلو دپراختیا سره یوازی دآریایانونه ، بلکی داکثرو ټولنو اوقبیلو پـه ژوندانه کی ورو او په تدریجی‌تـوګه یومهم تحول او بدلون راغی او اجتماعی پخوانی انسانی موقفونـه‌او موقعیتونه یی سره ګډوډ کړل .

دکار دانکشاف پـه ذریعه دانسانانـو فکر او شعور هـم ترقی اووده کـوله او نوی تعبیرونه او رواجونه‌او حتی مذهبی قواعـد او اصـول وضع او جاری شول چـی په لاندې‌ډول په پری یوڅه رڼا واچوله شی.

دیـن هـم دنورو اجتماعی پیښوتر څنګ انکشاف کاوه .آریایی ټولنو دکـرنی او مالداری دانکشاف پـه وخت کی یولړ محیطی ماورا الطبیعی سمبـولـونـه او معنـوی مظاهـرنمنځل چـی دټولو ریښی او بنیادونه

او علل طبیعی او مادی وو . په دوی کی تعددنمانځنه یا(Polothism
رایج ؤ او ټول هغه مظاهر او موادوچی دوی تري دفیض او برکت اومادی
نعمتونو د ډیرښت اوسمون طمع لرله اویا هغه قواوی او شیان چی ددوی
دمادی نعمتونو دضرر اووتی سبب کیدل دارباب الانو اعو په توگه
نمنځل اود هغوی دخوشحالولو پـه منظوریی هریو ته مخصوص عبادات
او مخصوص قربانی کولی ، دهریورب النوع له پاره یـی دستاینی اونمنځی
مخصوص الفاض او عبارات او حتی تاریخـی اساطیر درلـودل . قربانی
بـه اکثراً دمالونو غوښی ، لبنیات،طبیعی او کرلی نباتات او محصولات
وو .

د دین پـه انکشاف سره بیلا بیـل اجتماعی موقفونه رامنځ ته کیدل او
تخصص ظهور کاوه .

کله چـی دکار په ذریعـه فکـرانکشاف وکړ نو دوی دخپل محیطاو
ماحول پـه پیژندنه کـی تـریوې اندازی دپوهی خاوندان شول او د
طبیعی غرایزو دانکشاف په مرسته یـی دخیر دجلب اوشر د دفع له پاره
دطبیعت پـه مظاهرو پوره غور اوسوچ وکړ . څرنگـه چـی د دوی
ذهن پـه دغه وخت کی د انکشاف پـه خاصه مرحله کـی ؤ او دوی
دطبیعی افا تو او مضراتو ددفع اوځان ساتنی پـه قوه سمبال نه وو
علتونه یی نشـوی درك کـولای نـومجبورأ یی دغو قواوتـه پـه میتا
فزیکـی او ماورالطبیعـی منابعو اوعلتونو قایل شول . دین هـم دهغه
وخـت یـو اجتماعی ضرورت ؤ چـی څـو ټولنـه تریو حده پورې پـه
فکری لحاظ بسیا او قانعه کړی .

دمذهبی مراسمو پـه انکشاف سره پـه ټولنه کـی خاص اشخاص پیدا
شول او طبقاتی بنهی ظهور وکړ .

دهرموقف خلکـو دخپل ځان اوګټـودټینګوالی له پاره هڅـی پیل کـړې
اومذهبی حلقو هم دخپلو منافعو په منظور دقربانی مراسم دې حدتـه
ورسول چـی دارباب الانواعو د خوشحالی رازیی په همدی کـی
وباله . کله ناکله بـه یی ددښمنوقبیلو سره دجنگ پـه صورت کـی
دمخالفی قبیلی بندیان هـم دقربانی اونذر په توگه خپلو ارباب الانواعو
لـه پاره قربانی کـول اویا بخښل ،مگـر څومره چـی ټولنی انکشاف کاوه
اود تولید وسایلـو ، مناسباتو اومنابعو بدلون پیدا کـاوه د جنـگ
بندیان بیانه وژل کیـدل ، بلکـی روحانیونو اویا مقدسو ځایونه تـه
بخښل کیدل چـی پـه کار کولوکی ورڅخـه استفاده وکړی .

له بلی خوا داقتصادی مناسباتوپه پراختیا سره هم دبندیانو سـره

په سلوك کی تغییر راغی اودمرګ پر ځای یی دهغوی دکار څخه ابتدایی استفاده پیل کړه . دغه وضع په اجتماعی تاریخ کی ډېر اهمیت لری اوپه اجتماعی مناسباتو کی خاص باب پرانیزی چی دمریی توب په دوره شهرت لری . البته دې خبری ته باید پام وشی چی دشرق دغه اجتماعی دوره دغرب (یونان او روم) دمریی توب سره په څواړ خونوکی یو څه توپیر لری اودغربی مریی توب د دورې په بڼه باید ونه ګڼل شی ځکه چی دلته دتولید طرزاو مناسباتو یی دغرب سره اختلاف درلود .

مریی توب په لومړیو وختونوکی ډېر ابتدایی حالت درلود . حتی د ځینو خاصو خلکو څخه پرته چادې ته غاړه نه ایښوده چی یوپردی او اجنبی شخص پخپل کورکی وساتی. کله چی کروندې انکشاف وکړ باغونه او دمیوو مختلف النوع بوټې وروزل شول اوغوره میوه لرونکی ونی او بوټی اهلی ا وکینول شول ور سره په څنګ کی پټی او ویالی دیوم او ګینټی په واسطه جوړشول مالداری هم پرمختګ وکړاو داهلی حیواناتو لویی پادی او رمی منځ ته راغلی قلبه اویوه اختراع شوه داوسپنی او نورو فلزاتو ډول ډول الات داستعمال وړ وګر ځیدل دکار او زیار محصولات په هراړ خیزه توګه پریمانه او زیات شول نود کروندګرو ترمنځ د ذخیرې او زیرمی فکر او اندیښنه پیدا شوه .دوی به خپل مازاد محصولات په خوندی ځایونوکی ذخیره اوپا سره کول.

مالدارنو هم په پریمانه توګه دخپلو مالونو څخه شوده ، غوښه ، وړی ، پوستکی ، لیمڅی ، هډوکی اووچه سره تولیدول یعنی دواړه ډلی په دی بریالی شول چی دخپل لګښت نه زیات تولید وکړی. کروه ند ګرو هم ورځ په ورځ دخپل ځمکنی مالکیت سیمه پراخوله او لاانکشاف یی ورکاوه .

همدا دلګښت نه زیات تولید داستثمار او مریی توب اود مریی توب دانکشاف اصلی او محوری عامل وګرځید اوتصاحب او شخصی مالکیت ورځ په ورځ پرمختګ کاوه .

پخوا به چی کله قبیلوی جنګ پیښ شونو فاتحو قبیلو به دجنګ بندیان وژل اویا به یی خپلو ارباب الانواعو ته قربانی کول . په دې وخت کی نور دا بندیان نه وژل کیدل اود دې ضرورت پیدا شوچی دهغوی دکار او زیارنه د خپلوحاصلاتو د ډیرښت له پاره منظم کار واخلی او دانسان نه دبل انسان داستفادی په پیښی سره دمریی

تـوب دوره عملا پیل شوه .

دې خبرې تـه هـم باید پام وشي چـې دمریی توب عوامل لومړی پـه کروند ګروکی پیدا شول ځکه چـې دا شرایط لاپـه مالدارانو کـی منځ تـه راغلی نه وو . همدا رازیی په کروند ګروکـی دیر انکشاف وکړ مګر په ډیرو مالدارو قبیلو کی دا دوره هیڅ راغلی هـم نـه ده . له بلی خوا باید متوجه اوسو چی په افغانستان کی دپخوا وختو نو څخه ترهمدااوسه پـورې ډیر زیات قبایل په عنعنوی تـوګه مالداران پاتی شوی دی او د دې هیواد یوزیات شمیر نفوس ددې دورې یعنی مریتوب څخـه بـچ پاتی شـوی اوعلت یـی د شرایطو نشتوالی ؤ .

دهمدی دوری پـه پیل سره پـه ټولنه کـی طبقات منځ ته راغلل او دبډای او بیوزلی مفاهیم او موقفونه پـه جلا جلا ډول سره وټاکل شول اوتر منځ یـی حدود معین شول . دنرو او ښځو دواړو څخه دمریانو په توګـه کار اخیستل کیده . دقبیلواواشخاصو تر منځ دمالو نو دلوټو لوله کبله جنګ او جګړی پیل شوی اوهرچـااوهری قبیلی دخپل نفوذ دقلمرو دپر اختیاله پاره هڅـی او نښتـی شروع کړی چـی پـه دې جګړوکـی بـه دمقتدرو او بډایو روحانیونـوزیات لاس ؤ . پـه هره ذریعه به یی دخپلو مفادو پـه خاطر دا ډول سوق الجیشی کار ونـه روا اوګټور کار بالـه . مغلوبین بـه دخپلومالونوسـره یوځـای دغالبانو مال اوحتـی شخصی مالکیت ګڼـل کیـده .

دمریی توب ظهور پـه واقعیت کی دتولیدی قوتونو دتکامل نـه راپیدا شوی یوه طبیعی منطقی اجتماعی پیښه ده اوپـه هغـه وخـت کـی دیـوه اجتماعی پرمختګ نه راپیدا شو. له بلی خوا مریی توب دکارویش اسان کـړ .

دمریی توب پخوانی شکل او فـورم دپلار مشری (Patriarchal) مریـی توب دی . پـه دې وخت کی یومریی دتولید پـه چاروکی پـوره اغیزه نه درلوده بلکـی دیـوه آزادانسان پـه څیراو دیوه ملګری او مرستیال په توګه به یی پـه کورنی کـی ژوند کاوه ، او مریانو نرو او ښځوته هغه وخـت دنـورو آزاد وانسانانو سره دګډ ژونـد او اختلاط حقوق ورپه برخه وو . مریانو نرواوښځـو بـه دآزادو ، یعنـی غالبانو سره واده هم کولای شو او ماشـومـانو بـه یی هـم سره یوځای لوبی کولی ، چـی ترڅوبـه دزمانـی پـه تیریدو سره مریان پـه هماغه غالبه قبیله کـی ورك او منحل شول او دددوی زوزات به دهماغی قبیلی فعال غړی شول اود قبیلی پـه ټولو مراسموکـی به یی بی له کـوم توپیره

ګډون کاوه . مګر بیاهم باید داخبره‌هیره نه کړو چـی دلومړنیو مریونو دمرګ او ژوند واك به دخپلوخاوندانـو پـه لاس کـی ؤ .

دکالیـو تـولیـد :

دکروندې او مالداری په پراختیاسـره داجناسو مبادله هم رواج‌شوه او پر مختګ‌یی وکړ .دزمانی پـه تیریدو سـره دژوندانه پـه ټولو اړخونو کـی بدلون او انکشاف پیداشو ژوند دبسیط والی نـه دترکیب او مغلقتیا خواته روان ؤ . نورهرچـاپـه ځانګړی ډول نه‌شو کولای چـی پخپله هـم غذایی مـواد تولیدکـړی ، هم وسله جوړه کړی اوهم دکروندی اویا دکور سامانونه جـوړکړی . بلکی ژوند یوڅـه مغلق شو اودهر فن او کسب له پاره دتخصص‌او مسلك ضرورت پیـدا شو ، چی دهمدی اړتیا له کبله خاص کسبونه‌او مسلکی فنونه منځ تـه راغلل .

لاسـی صنایع دکروندی څخـه جلاشول او دتبادلی بازار ورځ‌په ورځ تودیده دآریایانو تـر منځ دفلـزی‌صنایعو سره آشنایی دمیلادنه دری یادوه نیم زره کاله پخوا پیل شوی‌وه . د دوی پښان داوسپنی دپیـدا کولونه وروستـه دسندان ، پـلك،امبور ،قلم او سوهان سره بلدشول او وروسته یی ورنه پـه پراخـه پیمانه کار اخیست . د فلز کـاری انکشاف دترکانی صنعـت تـه هـم‌پراختیا ورکړه او په ټولنه کـی یو شمیرخلك دپښ او ترکاڼ په نامه‌او صفت منځ ته راغلل . مسلکـی اوحرفه یی کلالان هـم پیدا شول اودڅـرخ پـه پیداینښت سره کلالـی‌هم پـرمختګ‌وکړ اودلاسی حالت نـه دڅـرخ پـه واسطه کلالـی هـم‌پوره پـرمخ لاړه .

دکلالانو او پښانونه پرته نـورصنعت کاران ، لکـه : ترکاڼان ، جولاګان او تیږی توږونکی هـم‌پیداشـول چـی په پای کـی دصنعت او کروندی ساحی هـم دانکشاف لـه کبله سره جلا شوې .

دکالیو تبادله بـه پخـوا پـه انفرادی صورت نه‌وه بلکی د دوی دمشرانو او سپین‌ږیرو او سپین‌سروپـه واسطه به‌اجرا کیدله چـی د بلی طایفی اویا دشپنو او کروندګرواویا حاصل ټولوونکو ترمنځ به کالی دهرې ټولنی دمشرانو پـه واسطـه مبادله کیدل اوعوض اجناس به‌یی پخپله مربوطه ټولنه کـی په‌مساوی‌توګه ویشل . یعنی دیوی اشتراکی ټولنی مالونه بـه دبلی اشتراکـی‌ټولنی سره جنس په جنس بدلیدل.

داځکه چی په یو واحده ټولنه کی به یوازی یوجنس تولیدیده اوپه بله کی به بل جنس . نوپخپله په ټولنه کی دننه تبادله ناممکنه وه مگر وروسته دا راز تبادلی په هره ټولنه کی دننه هم ممکنی اورایجی شوې اود نورو اړخونو دپرمختگ سره موازې په تبادلو اود تبادلو په نوعیت کی هم تحول اوبدلون دوځاره شو . کسب گرو اوصنعت کارانو به خپل صنایع ددهقانانو اوشپنو داجناسو سره بدلول اویا به یی دخپل کار په مقابل کی په قراردادی توگه دحاصل څویمه برخه تري اخیستله . د دوی ترمنځ به داړتیاوړ تړونونه هم موجود وو یعنی کسب گران به په دې مکلف ووچی دهغوی داړتیاوړ کافی مواد برابر کړی او په مقابل کی کسب گرو هم په دوی حق درلود چی لازم او ضروری مواد او اجناس په عوض کی ورکړی . دا تړونونه به هم دزمانی په تیریدو سره بدلیدل او کمی او کیفی تغییرات به په کی پیدا کیدل .

جنس په جنس تبادلی هم دزمانی په تیریدو سره ورو ورو انکشاف وکړ اوځینی خاص اجناس دمواد ودقیمت په توگه وټاکل شول .اجناسو قیمت پیدا کړاودقیمت معیار ځینی شیان لکه صدف، قیمتی فلزات ، قیمتی کانی او داسی نورتعین شول .

د اجناسو دقیمت پیدا کولو سره جوخت دذخیری او ثروت غونډ ولو فکر پیدا شو اوخلکو داجناسو پر ځای داجناسو دقیمت په ذخیره کولو پیل وکړ ځکه چی اجناس دمودی په تیریدو سره ورستیدل او خرابیدل ، مگر پخپله قیمتی فلزات لکه سره زر ،جواهر او صدف هیڅ نه خرابیدل اوله بلی خوایی کولای شول چی هر وخت پرې د خپلی اړتیاوړ مواد واخلی .

دقیمت ټاکنی داجناسو په تبادله کی ډیری اسانتیاوی راوستی اوله بله پلوه په ټولنه کی د زیات اجتماعی تحول سبب شو . څومره چی مبادلی تکامل کاوه اود ارزښت مفهوم لا دقیق شو پییسه دار زښت دمقیاس اود کالیو دگرځیدو په توگه لاخپل ځان څرگنداوه او جنس په جنس تبادلی ((Troc))خپل ځای پولی تبادلی ته پر یښود.

دکرکیلی او مالداری او ورسره جوخت دتبادلی په انکشاف سره هم په کورنۍ او هم په طایفه کې ژور اجتماعی تغیرات منځ ته راغلل . په طایفه کی اجتماعی طبقات او حرفه یی صنوف پوره څرگند شول اوپه کورنی کی هم کله چی نارینه داقتصاد پوره واکمن شو ، نواجتماعی موقف یی هم لوړشو . ښځه چی مخکی د پوره اقتصادی واکمنی خاونده وه او لوړاجتماعی موقف اومقام یی درلود دخپل

موقف نه یی تنزل وکړ او ورځ پـه ورځ یـی واك له لاسه ورکاوه . د کـورنه دباندې څـه چی پـه کورکی‌دننه یـی‌هم هغه پخوانی حکم چلول له لاسه ووتل او مهم علت یـی داوچـی ټولی اقتصادی منابع اود تولید وسایل دنارینه ولاس ته ورغلل اودتـولید په ټولو اړخونوکی دحاکمیت او واك خـاوند شـو .

مگر داخبره باید پـه یادولرو ،لکـه څنگه چـی دمخه وویل شول، دتمدن داسریع او منظم بدلون پـه کروندگرو کـی ډیر پـرمختگ وکړ اودیشین خلك ددې اقتصادی تحولاتومراکز وو . پوونده قبایل داقتصادی شرایطو لـه پلوه دې مرحلـی تـه رسیدلـی نه وو . نودغه بدلون هم پـه دوی کـی دومره محسوس اوڅـرگند نـه و .

لـه بله پلوه سره لـه دې‌چـی‌پـه ځینو ټولنو کـی داقتصـادی تغیراتو دغو شرایطو ډیری آریایـی‌قبیلی دخپل تاثیر لاندی‌همدی مرحلی تـه راوستی وی مگر ډیـر داسـی‌قبایل پـه آریایانو کـی موجود وو چـی داقتصاد پـه همدی مرحله کی‌بیـا هـم ښځه دپوره واك اوقـدرت خـاونده وه . ددې خبری مصداق‌په تاریخ کـی ثـابت دی ، ځکه چـی هغـه وخـت هـم پـه سـارماتـی Sarmati)قبیله کی‌ښځی‌بیا هـم نسبتاً ښـه اجتماعی مـوقـف‌درلود . ځکـه دې طایفی اسـونـه درلودل او داسونو پادی (ګلی) یـی‌درلودی (۱) ښځویی عیناً دنارینه ؤ غوندی داسونو پـه روزنه او پالنه کـی پوره لاس درلـود او دنارینه وغوندی یی وسله اچوله اوښځـی‌هـم پـه آسونو سپریدلی .

لـه بلی خواپه غرچـه قبایلو(غرجستان او دپامیر اصلـی او سیدونکی) کی دښځـی مقـام هیڅ‌تغیرنه وموندلی او هماغسی دتولید اواقتصادی منابعو او وسایلو واکمنه وه او لـه دې امله یی دنارینه و څخـه مقام او موقف لـوړ ؤ . ددې‌حالت بقایا اوس هم پـه غرچـه قبایلو کـی وجود لری . دمثال پـه توگه دغور دغلمین په دره‌کـی اوس هـم ټول اقتصادی منابع دښځوپـه واك کـی دی اودکور مشرتوب دنارینه پرځای دښځو پرغـاړه ده .همدا اوس پـه دې سیمـه کـی یـوه ښځـه کولای شی چـی خپـل‌میړه لـه کـوره وشړی اود ډیـرو بر خو څخـه یی محروم کړی .

داسلام دورتـگ نـه پخـوا پـه نورستان او شااو خوا نورو سیموکی هم دښځی د واکمنی ډیری بیلگـی‌موجـودی وی او څـرگنده محسوس کیدلای شوه چـی ښځـه دنارینه وسـره سـم او برابر حقوق لـری ،

---

(۱)دافغانستان تاریخ پـه روسی‌ژبه دښاغلی دوست پـه مننـه

بلکی دلازیات لوړ موقف خاونده وءاو اوس یی‌هم ډیر اثرات اوبقایا پاتی دی .

بده نه ده چی دواکمنی د دغه مسیر انتقال ته یو څه پام راواړوو: دمور مشری یا مورواکی نه پلارمشری ته انتقال ورو ، سست او په تدریجی توگه و اوپه راز رازډولو نویی انتقال موندلی دی . پخوا به ماشومان یوازی مورته منسوب‌وو اود مور نسب دپلار په نسبت امتیاز درلود . لکه چی دمخه وویل‌شول په غلمین کې اوس هم زوزات ټول دمور په نامه خلك‌پیژنی اود پلار په نسبت هیڅوك شهرت نه لری . مگر اوس دښوونځیو، حکومتی ادارو اود نورو سره دتماسو نو دفشار له امله دغه وضع‌ورو ورو تحول کوی او فورمیی ورځ په ورځ اوړی ،

مگر وروسته یوازی دپلار طایفه دماشومانو اولیا گڼل کیدل اودمور دطایفی سره به یی هم روابطدرلودل مگر په هغه اندازه نه‌چی دپلار په طایفه پورې په مربوط‌گڼل کیدل .

دمور مشری په نظام کی واده هم‌د ماتری لو کال (Matrilocal) په سیستم و .

(یعنی میړه به دښځی کورنی ته‌راودیده) اود ښځی دطایفی سره به یی استوگنه کوله چی دی‌وضعیت دپلار مشری په دوره کی بدلون وموند او معکوس حالت یی‌غوره کړ . له بلی خوابه د واده په مسله کی میړه او ښځی دواړودانتخاب حق درلود . مگر وروسته دا حق یوازې پلار ته حاصل ؤ اوبل‌چاپه کی مداخله نه شوه کولای اوله دی وروسته د پلار مشری‌کورنی منځ ته راغلی . دطایفی اشتراك یوازی دکورنی اشتراك ته‌راټیټ شو اود پلارنی نسب نه‌پیدا څو نسلونو به دتولید دمشتر کومنابعو څخه استفاده کوله اود یو میړه((Monogomy))کورنی‌جوړه شوه . ښځی له دی وروسته په یووخت کی له یومیړه نه‌زیات کولای نه شول اود ښځی‌په ناسته ولاړه او اجتماعی روابطوباندی اجتماعی ضوابط او مقررات وضع شول . ښځه دنارینه په‌متابعت مکلفه شوه مگر په مقابل کی نارینه چی په جنسی روابطوکی آزادی لاس ته کو له او کولای یی شول چی د خپلی ښځی نه‌پرته دجنگ په بندیانو کی د نورو ښځو (وینځو) سره هم بی له‌رسمی‌واده په آزاده توگه جنسی روابط ولری .

دښځی مقام په ځینو ټولنو کی‌دهمدې تحولاتو له‌کبله دومره‌راټیټ

شـو چـی دزمانی پـه تیریدو سره‌ښځـه هم دنورو مالونو غونډ‌ې‌دمیړه دمړینی سـره ژوندی وژل کیده (په هند کی دستی((Sati))دود او دستور او دنور ومالو نوسره بـه یوځـای پـه خاورو کـی منډل کیـده دارسم پـه نورو آریایانو کـی هیڅ‌رایج شوی نـه دی او په ا یرانی افغانی آریایانو کـی هیڅ سابقه نه لری ، بلکی دا دود یوازی په هندی آریایانـو کـی معمول او مروج شو.

دشخصی او خصوصی مالکیت‌پرمختګ

کلـه چـی په یوه قبیله کـی دتولید دتکامل لـه کبلـه نابرابری منځ تـه راغلی لـه هماغه وختـه ییو هیرارسی ((Heirarchy) (دمراتبو سلسلـی) سیستم راپیداشـو چـی دلومړی ځـل له پاره‌یـی پښان او بیا نور اهـل کسبه په یـوکاسب تبدیل کړل اود پلار مشری‌په کـورنی کـی‌هم دثروت توپیر رادوڅـاره شو . ځینو کورنیو غوره او ډیـرې ځمکی ونیولی او خپل ملکیت‌یـی کـړ چی ځینو به یی پـه ځنګ کـی مریونه او رمـی هـم درلودی‌مګر پـه مقابل کـی به یـی نورتش لاس او بیوزلی وو .

لـه بلی خـوا پـه طایفـه یـی‌دوره‌کـی چی مشران به اکثره پـه انتخابی توګه ټاکل کیـدل اود دوی‌تـرمنځ دمتقابلی همکاری نه پرته نور څـه نه وو دخصوصی مـالکیت‌په دوره کی دا وضع واو ښتله اود ثروت پـــه تمرکز سره دوراثـــت‌مسئله هـم دوڅاره شوه چی دهـر پلار میراث به بی‌له کومی دعوی‌اوجګړی څخـه نارینه اولادته انتقال کیده اودخپل پلار دمادی او معنـوی‌ارزښتونو مالك او خاوند بـه ګڼـل کیـده . (۱)

لـه بله پلوه پخوا بـه مشرانودطایفی دغرو ترمنـځ داجناسـو د مساوی ویش او دعدالـت د تـامین‌وظیفه درلوده اوکه خپل وظایف‌به یـی سرته ونه رسول نودغړو لـه‌خوا بـه معزولیده مګر په دی دوره کی دا وضعیت بیخی له منځـه‌لاړ.مشرانو ، متنفذینـو او چالاکانو د خپلی خصوصی مالکیت پـه پراختیاپیل وکړ اود تولید منابع یـی پـــه خپل لاس کـی ونیولی او ضمناً یی‌دخپلی شتمنی دساتنـی پـه منظور سیاسی قدرت هـم ترلاســه کـړ دمریانو پـه موجودیت سره‌یی دخپل سیاسی نفوذ لمن پراخه کړه دتولیدی‌منابعو پـه تصاحب سره په مقابلو جهاتوکـی بیوزلی اوتش لاسی پیداشول چی دهمدې ناداری په موجودیت

---

(۱) تاریخ جهان باستان ۹۷ مـخ

سره احتیاج اوپه نتیجه کی داطاعت مسئله رامنځ ته شوه اودپلار مشری داشتراکی ټولنی شتمنی یی‌دخپل ځان کړه . دقولبی په پیدایښت اود کروندی په تکامل سره انفرادی‌تولید هم پرمختګ وکړ او داتغیرد دی سبب شو چی لویه ټولنه له دننه پلوه ګډه وډه شوه دلویی کورنی په منځ کی نوری وړی‌کورنی راپیدا شوی چی هری یوې خصوصی شته منی ، ټاټوبی اوبیل‌خوراك درلود .

دخصوصی مالکیت پر مختګ ورووررو دثروت دخپریدو مخه ونیوله او دنارینه اولاد موروثی‌حقوقو استحکام‌وموند . دوراثت دټینګیدو سره سم اقتصادی او اجتماعی قدرت هم‌ورپه برخه کیده اوله بلی خوا دنجابت ، ټیټوالی ـ شرافت او سپکوالی‌مفاهیم په ټولنه کی رایج شول . دقدرت اوثروت خاوندان نجبا اواشراف او غریب اوبی وزلی خلك ټیټ او سپك وګڼل شول .دا مفاهیم‌او احکام هم دقدرت په ذریعه په خلکو ومنل شول . یوازی نجباواو اشرافو به په خپل نوم اونسب ویاړ کاوه اود خپلو نجیبو او شریفوپلرونو او نیکو یادونه به یی‌کوله چی دنجابت مفهوم هم ورو ورومورو‌ثی بنه پیدا کړه . میتافیزیکی انګیر نو او ماورا الطبیعی عقاید ودقدرت دخاوندانو دقوت دمزبو تولو په لارکی پوره مرسته وکړه .دروحانیونو او اشرافو ترمنځ متقابله همکاری ورځ په ورځ پسی ټینګیده‌او یو رایج معمول او دو دشو.

بیوزلی کورنی هم په وړو اوکوچنیو نورو کورنیو وویشل شوی اود محیط دتنګوالی او بیوزلی له امله تیښتی ته مجبور شول اود ژوند دسمون او رغاونی په نیت‌یی‌نورو سیموته کډی وکړې . دوی ناچاره ووچی بله طایفه او بل‌ځای کی هم دیورئیس اوبډای په تحت‌الحمایه کی په نیمه مستقله توګه ژوند وکړی .

له دې وخته وروسته هغه پخوانی طایفه ای قبیلوی روابطورو ورو‌له منځه لاړل اود خپلو خپلوانوټبرونو سره دمینی اواخلاص ځای دملکیت او قدرت مینی او علایقوونیو . د دوی روابط بیا په خپلوی اوعزیز ګلوی بنانه وو ، بلکی دګاوندیتوب په روابطو بنا شول‌چی دې راز ټولنو ته ګاوندی اشتراکی( ) ټولنی‌وایی.
داسی ټولنی چی ځینی وړی اوځینی یی لویی وی هم دقومی اوهم دمختلفو طایفو دافرادونه متشکلی‌شوی وی چی دیو ثروت دخاوند ترلاس لاندی اداره کیدل ، مګر په دواړو صورتونو کی نور دوی یو تربله خپل ځانونه خپلوان نه ګڼل .د داسی ټولنو په تشکل سره اقتصادی فعالیت پوره رونق پیداکړ.ګاونډی ټولنی بیاهم یوڅه ناڅه د

طایفه ای خواصو او عاداتو خاوندانی‌وی او پخوانی خصلتونه یی بیخی له لاسه ورکړی نه وو .

اشرافیت یو داسی سازمان اوتشکل ته اړه درلوده چی دده ثروت اوشته منی وساتی او دمریونو اوترلاس لاندې خلکو مقاومتونه مات کړی او څوك سر جگو لوته پری‌نه ږدی او یوی سیاسی روبناته یی ضرورت درلود چی دنوې پیداشوی طبقاتی ټولنی رشد او وده آسانه کړی . دهمدی منظور په اساس یوډول اتحادیی منځ ته راغلی چی دغو اتحادیو ته پټی یا «مخفی‌اتحادیی» وایی .

په دی وخت کی چی ثروت‌قطعی‌اهمیت پیدا کړی ؤ . په دې اتحادیو کی میلمستیا گانی او مادی همکاریوپوره رول درلود او یوازې هغو کسانو په کی دشمول حق درلوداوغړی‌کیدای شول چې بډای اود ثروت خاوندان به وو اوښی میلمستیاگانی‌به یی ورکولای شوې اود مادی مرستو جوگه به وو . ښځی ، واړه‌اوهغه آزاد خلك هم ددی اتحادیو له غړیتوب څخه محروم وو چی‌بیوزلی به وو.

داتحادیو دغړوپه شته منی‌به هیڅکله اوهیڅوك بلو سیدلای‌نه شواومتعر ضین به دغړیو له خوا په کلکه تنبیهه کیدل اوپه گډه سره به‌یی مخالف قوتو نه ماتول اود هغوی شته منی‌اوځان تل د دوی له خواد تعرض اوتالا لاندې و. په‌دی توگه په ټولنه کی دارباب قدرت اونفوذ ورځ په ورځ زیاتیده اوپه مقابل کی دښځومقام تنزل کاوه .

له بلی خوا بیوزلی ورځ‌په ورځ‌دمړو او بډایو پوروړی کیدل اوکه چیری په پورور کولو کی به‌یی‌ځنډ او یا انکار وکړ ، نوشته منی‌به یی ضبط او متمرد ته به داسی‌کلکه سزا ورکړل شوه چی دنورو له پاره به هم دعبرت درس‌شو. دې اتحادیو به کله ناکله د کلیوالی اویا سیمه ایزی محکمی‌حیثیت هم درلود او داسی قیود او ضوابط یی ایجاد کړل چی داتحادیوټول منافع په کی خوندی وو اودهر راز طغیان او بغاوت مخه یی نیوله په بل عبارت ویلای شو چی په دی دوره‌کی لومړنی اجتماعی قوانین‌منځ ته راغلل چی دقانون په تاریخ کی ستر اهمیت لری .

څو مره چی دبډایانو امتیاز اوقدرت استحکام پیدا کاوه په‌هماغه اندازه پخوانی طایفه ای دیموکراسی‌له منځه تله اوپر ځایی یی‌یوه نوې سیاسی مخبینا (روبنا) ، یعنی‌نظامی دیموکراسی قایمیدله . ددی دیموکراسی اداره هم دیورئیس اودیوی شورا په لاس کی‌وه ، مگر ددې دوه نظامونو ماهیت او خصوصیت یو تر بله سره ډیر توپیر

درلـــود .

په دې نظام کی رئیس ددیری‌شتـه منـی خـاوند او د زور وری کورنی څخه انتخابیږی چی شخصیت‌یی پـه ثروت ، دټبر پـه کثرت‌او دمریونو او اتباعو پـه ډیروالی‌اتکالـری او وروسته مراتب هـم پـه همدې توګه ټاکل کیږی .

دی‌ډول دیموکراسی ته ځکه نظامی‌دیموکـراسی ویل‌کیږی چی پـه دی ټولنه کـی پخپله جنګ اود جنـګـلـه پاره تیاری هـم خپل پخوانـی مفهوم له لاسـه ورکوی او بله بنه‌غوره کوی ځکه چـی پخوا به جنګ اکثراً دتجاوز د دفع اود ښکـار اوحاصل دسیمو څخه دتجاوز او تیری دلیری کـولو پـه خـاطرو ، مګـروروسته چـی ثروت تکامل وکړ ، جنګونه او جنګی تدارکات یوازی دثروت دغونډولو پـه خاطرو واو د نورو شته‌منی بـه یی لوټولی . دهمدی اغیزی لـه کبله دقبا یلو تـرمنځ هم‌اخ اوډب پیښیږی او دثـروت دغونډو لوله کبله جنګونه پیـل کیږی او مسلح قوتونه منـځ‌تـه راځـی چـی دخپل مشر قدرت پـه فوق‌العاده توګه تقویه کوی .یاپـه بله وینا خصوصی ټولنی‌منځ تـه راځـی چی دطایفی نه مستقلی‌دی اود خپلو ګټو او زیانونو پـه خاطـر جنګیږی . رئیس یامشر هـم‌هغه کسان راټولوی چی دده اوامرو تـه دزړه له کومی غاړه ږدی او دلوټ او چپاول حرص په کی زیات‌وی او خپلوان او عزیزان خپل اهمیـت‌اوباور لـه لاسه ورکوی .

په دې ټولنه کی نجبا اوبیوزلی‌محکومین دواړه ګـډون لـری چـی مریونه اوتر لاس لاندی خلك ددوی‌دګټود تامین له پاره استخدام شوی دی او رئیس پـه پای کـی دجګړه‌مارو مشروی او مطلقه قـدرت تـه رسیږی چـی دهمدی قدرت پراختیااوتوسعه د دولت دتشکل عامل‌ګرځی.

دولت چی پـه واقیعت کـی یـوداسـی ماشین دی چی دیـوی طبقی تسلط پربلی باندې تامینوی اوهغه وخـت منځ ته راځی چـی په یـوه ټولنـه کـی طبقاتی توپیرونه بیخی‌مشخص او جلا شوی وی .

دآریایانو کلتوری اړخ

لکه چـی دمخه وویل شول چـی‌پـه آریایانو کـی لومړی انشعاب‌د (...۳ق‌م) پـه شااو خواکی راغـی‌چـی یوه ډله یی داروپا خـواتـه لاړله او متباقی دمنځنی آسیا پـه‌غرونو او ورشو ګانوکـی پاتی‌شول.

د دوی سـره په‌جنګ کـی ځای‌پرځای سامی او غیر آریایی قومو نـه او قبیلی هـم اوسیدلی چـی دهغوی سره‌یی کلتوری تبادلی پـه

یوڅـه کمه اندازه درلودې ، مګـرداتبادلی دومره نه وی ، لکه څومر یی چی دخپلی بقا پـــه نیت دهغوی سره اختلافات راغلی دی .
کـه څـه هم موږ دلتـه دانشعاب کلمه راوړه او دا زما پـــه نظـر سمه نه ښکاری ، ځکه چی د دوی ترمنځ دکوم اختلاف په اثر بیلتون اویا شړل راغلی نه دی ، بلکی دپـر اختیا او وسعت له کبله خپاره شوی او هری خواته تللی دی .

پاتی آریایی قبایل هـم لاپسـی خپاره شول . د دوی دغرب پـه لور نور مدنیتونـه موجود وو چـی ددوی مخه یی نیوله ، مګر دجنوب لورته یـی مخه او ورشوګانی پراخه وی. دهندوکش غـر د دوی یو مقدس ځـای او لومړی ګرانه سیمه ده چی دسوونو کلونو په موده کـی یی د دی غره دلمنو او شمالی او جنوبی درو څخه استفاده کړی ده .
لکه چی دمخـه وویل شول چـــی آریایانو دآمو سیند پـه غاړه کـی د (۳۰۰۰ق م) پـه شااو خـواکـی دکلیتمینار پـه نامـه یوتمدن درلود او دلته را رسیدلی وو نود دې نیتی نـه وروسته دآمو سیند جنوبی او غـربی دروکـی پسی خپاره شول .دوی اکثره بلکی لـه یوی مخی په دغـه وخت کـی پوونده وو . .

دلرغونی باختر پـه ورشوګانو، دخوړونو پـه غاړو او پراخو د ښتوکـی به یی خپل مالونه پیول اوپـه دوبی کـی به دهندوکش لمنو ته ختل چـی ددې دود مظا هـــراوس هـم پـه کوچـی قبایلو کی مـوجود دی .

دا کلمه باید هیره نه شی چـی آریایی قبایل چی هر چیرته رسیدلی دی لومړی مالداران او پوونده وواو بیا ورسته کروند ګر شوی دی ښایی دا کلیـــه پـــه اکثرو نوروقومونو کـی هـم صدق وکړې.
دغه آریایان دآموسیند په شمالی اوجنوبی غاړو اود هندوکـش پـه جنوبی او شمالی ټولو لمنو او دروکـی خپاره شول او دخوړونو پـــه غاړویی په لومړنی کرونده اوزراعت پیـل وکـړ او ورځ پـه ورځ یـی زراعتی چارو ته پراختیا ورکوله .

لـه بلی خوا باید په یاد موویچـی لـه دوی نه مخکی د دوی نور ورونه قبایل چـی په تاریخ کـــی پـه دراوید یانو Dravidis مشهور دی دهندوکش په لمنو کی خپاره شـوی وو اود کروندې لومړنی چاری یی پیل کړی وی . نوی راغلی آریایی قبایل د دوی سـره آشنا شـول او پـه ځینو وختونوکی یـی سره یوتربلـه مخالفتونه هـم راغلی دی چی ښایـی ځینو دځینو نورو پـه ورشوګانـو او سیمو تعرض کړی وی او

یـوه قبیله دبلی قبیلی دفشار پـه اثـر پـه مهاجرت مجبوره شوی‌وی.

دآریایانو خپریدلو دسوونو کالونـوپه موده‌کی لاپسی وسعت وموند او د اوسنـی افغانستان جنوبی اوختیځو سیموتـه ورسیدل او نـوی ورشوګانی او ځرځایو نـه یی کشف‌او تسخیـر کړل . دوی دایون او مهاجرت په منظم اوپرله پسی‌توګه نـه وکړی بلکی دسوونو کلونوپه موده‌کی چـی دژمنیو او پسر لنیـوورشو ګانو ترمنځ بـه یی تګ‌اوراتګ کاوه او تدریجاً به یی ځایونـه اوورشوګانی هـم پیدا کولـی او یـا بدلولی چـی ددې ورشو ګانو پـه شااو خواکـی به یی خپلو زراعتـی حدودوته هـم پراختیا ورکوله اوکله به داسی مرحلی تـه ورسیدل چـی زراعتی اړخ به یی په پونده‌توب‌غښتلی او پیاوړی شو ، نود دیشینی ژوند به یی غوره کړ اود کوچی‌توب‌نه به یی لاس واخیسـت . البتـه ددیشینی سیمه به یی‌نوی ځـای اونـوی سیمه وه چی په همدی توګه یـی خپل حدود پراخول اونوی سیمی‌یـی کشفولی اوخپل قلمروته یـی پراختیاورکوله . دتاریخی‌ـ اجتماعی‌خاصـو تحولاتو پـه ترڅ کی یـی منظم قوتونه تشکیلول او دګاونډیوقبایلو سره‌یـی په متقابله اختلافاتو پیـل کـړی دی چی بحث بـه یـی‌وروسته راشی .

آریایی قبایل دتاریخ په یوه‌خاصه اقتصادی او اجتماعی دوره‌کـی د اوسنی افغانستان پـه مختلفو سیموکـی خپاره شول . دا مراحل په تیرو پاڼـوکـی ذکر شول اوس غواړوچی‌پـه کلتوری او مذهبی لحاظ ددوی پـه احوال یـو څـه رڼا واچوو .

آریایان دنورو قومونو غـوندې‌پـه لومړی وخت کی ناتور الیستان وو اود طبیعت لمانځه یی کولـه.پـه دوی کـی په‌هغه وخـت کـی چـی لادتمدن پـه ابتدایی مرحـله‌کـی وو منظم تولیدي اجتماعی او اقتصادی تشکیلات راغلی نه‌وو اوداسی شرایط منځ ته راغلی نه وو چـی دوی سیاسی منظم سازمانونه پیل کـړی . پخی کلا ګانی ، منظم عسکر او اجتماعی تشکیلات یی‌نـه درلودل . نودوی پـه طبیعـی قواو عقیده لرله او طبعی‌مظاهریی لمانځل.

ددې طبیعی قواو خیال او سـوچ‌دوی تـه دخپل ماحول او چاپیریال نـه پیداشـوی و او اکثـر ارباب‌الانواع او دیو تاګان یی دخپلی‌خوا او شا طبیعی مظاهر وو .

ځینی قبایلو خاص او جلا ارباب‌الانواع هـم درلودل چی په نوروکی یـی رواج نه‌درلود مګر ځینی داسی‌ارباب الانواع وو چـی ټولو قبایلو یی نماتځنه کولـه مګر یوی قبیلی بـه خاص خپـل نژدی مرستیال او

پر خپلی قبیلی ګران بالـه .
موږ دلته د دوی دهغـه وخـت‌مذهـب څیړو چـی هندی ، افغانـی اوماد او فارس قبایل سره یوځـای‌وو او مشترك دو دونه اوګډ ارباب الانواع یی نمنځل . دا وخت تقریباً د (۳۰۰۰) تـر (۱٦۰۰ق‌م) پـوری دوره ده چـی دوی دځینو سیندونو،لمـر ، سپوږمی اورعد اوبـرق ، باران او داسی نورو طبیعی مظاهرولمانځنه کوله . ددې خبری دلیل‌دادی چـی د دوی ارباب الانواع او دوداو دستور سره مشترك وچـی د هندی ، افغانی ، ماوراء النهـر اوایران دقبایلو په پاتی شونو مذهبی آثارو کـی د دغو ارباب الانواعویوراز نومونه راغلی او تکرار شـوی دی . دلتـه پـه لنـډ ډول پـه مختلفو آثـاروکـی د دوی دعقیدوی پړاوونو پـه مسیر یو څه رڼاچوو
کلـه چـی د دوی پـه تـولیدی‌قوتونوکـی یو څـه نظم او نسق پیدا شو ددوی مذهبی حلقی او عقیدوی روابط هـم یو څه سمبال شول او لومړی نظم چـی د دوی ترمنځ پیدا شو دلمر نمانځی اویا مهرـمیترا ـمیر پرستی یا (Mitraism) بڼه وه.
لمر نمانځنه ځکه مونږ یوه‌مذهبی‌دوره وټاکله چـی کـه څـه هـم دوی دنورو طبیعی قواو او مظاهرو سمبولونه نمانځل ، مګر میترا د دوی تر ټولو لوړ ، لـوی او ډیـردستاینی وړ رب النوع وچـی پـه ټولو آریایی قبایلو کـی یی درناوی‌کیده او دزمانی پـه تیریدوسره‌یی غیرآریایی قبایلو تـه هـم سرایت‌وکړ او داروپا پـه مختلفو سیمـو کـی یی معتقدان او پیـروان پیـداشـول تردې پـوری چـی دمسیحی دیـن یوسر سخت رقیـب او سیال‌ګڼل کیده دارب‌النوع تردی اندازی پـوری پـه آریایی قبایلو کـی دنمانځنی وړو چـی حتی دزردشتـی دیـن پـه وروستیو وختونـو کـی‌یـی بیرته ظهور وکـړ اودا هورا مزدا سره څنګ پـه څنګ یاورنـه لـږکم دنمانځنی او درناوی وړ و . دمیترانوم پـه ویدونو اود ګاتونـوڅخـه پرته پـه نوره اوستا کـی ډیـر ځله راغلی دی اوحتـی پـه‌اوستا کـی یوازې یو ځانګړی‌یشت ورته تخصیص شوی دی .
همدا ډول په هغـه میخی کتیبـه کی چـی دترکیـی دا ناطولـی‌د بغازکویی پـه سیمه کـی پـه‌میخی‌لیك موندل شـوی ده اود میلادنـه مخکی پـه (۱٤) پیړی پوری اړه‌لری‌دویدی عصر دنورو خدایا نـو پـه څنګ کـی دمیترارب النـوع نـوم‌او ذکـر هـم راغلـی دی . همـدا راز دا سوربانی پال (دبین‌النهـرین‌یو پاچا)دکتابخانی په یوه لوحـه

کی دمیترا نوم د «شمس» رب‌النوع‌له نامه سره همغاړی یاد شوی دی.
په ګاتونو کی دمیترا رب‌النوع‌یاد شوی نه‌دی او دا ځکه چی زردشت دخپل دینی ریفورم په لړکی‌نه غوښتل چی دا هورا مزدانه پرته بل رب‌النوع ته دومره لوړمقام ورکړی ، مګر په خلکو کی د دی دیو تامینه او نفوذ په دی‌اندازه و چی د زردشت نه وروسته په نوره اوستاکی یی بیرته نفوذاو د خول وکړ او ډیره یادونه‌یی راغلی ده . (۱)
په اوستاکی که څه هم میترا ته‌د خدایی مقام پاتی نه‌شو مګر د ځلارنا او درښتیا اوقول او پیمان دپرښتی په مفهوم یی ظهور وکړ. په ویدی سرو دونو کی هم درنا، ځلا اوسمون درب‌النوع په‌مفهوم یاد شوی دی .
په اوستا کی دغه ایزت(رب‌النوع) ددیرو اوصافو اودقدرت د ډیرو و مظاهرو خاوند بلل‌شوی‌لکه : دپراخود ښتو ، چابکواسونو، دزروسترګو ، زروغوږو اوزرګونوچالاکیو او . . . . خاوند اوداسی نوریاد شوی دی . ددی رب‌النوع‌یاایزت په باره‌کی په سلګونو بندونه اوستاین لیکونه راغلی دی‌او آریایی قبایلو به دجنګ اوجګړی په وخت‌کی اویا د دروغو دافشاکولو په برخه کی له هغه څخه ډیره هیله درلوده او دده سره‌یی‌نوراته (۸) کسه مرستیالان ګڼل‌چی د «هرا» دغره په څوکو ناست‌دی‌اود آریایی قبایلو سیمی څاری . د څارویو ثروت او قدرت بخښلو خاص‌قدرتونه دده په لاسوکی وو .
دلمر (میترا) نمانځنی طریقه اومذهب نورو غیر آریایی قبایلو او ښارونو ته هم نقل شوه او دبین‌النهرین ، سوریی او ترکیی له لاری آن تر رومه پورې دا مذهب ورسید.په (٦٦) میلادی کال کی میترایزم دروم یورسمی‌دین وګرځید او«نرون»دروم امپراتور دارمنستان دپادشاه په واسطه همدې مذهب ته‌غاړه‌کیښوده اود دیو کلسین او اوګالر یوس امپراتورانو په وخت کی میترا دټولو ارباب الانواعو څخه لوړمقام ونیو او دټولو مشرو ګڼل شو. اوددې رب‌النوع له پاره یی خاص او ځانګړی معابد او مزدکونه جوړ کړل‌چی مزدکونو ته به‌یی (Methreum) ویل . (۲)
دا مذهب دافریقا شمال بالکاناتو(دیونان نه پرته) د دانیوب سیند

---

(۱) ادبیات مزدیسنا
(۲)ادبیات مزدیسناد ښاغلی پورداودمهر یشت مقدمه

غاړه ، دهنګری درن سیند ، ایټالیااو داسی نورو ځایونوته ورسیداو لمن یی حتی انګلستان ته هم پراخه شوه .

دمیترا په برخه کـی راز رازافسانی او اساطیر جوړشـول او دا افسانـه ډیره مشهوره شوه چی میترالومړی دانسان پـه بنه پـه یوغار کـی شپنوته راځرګند شو اوشپنوو پیژاند .

دهمدې افسانی پـه بنابه یـی میتریومونه پـه غارونو ، یاد ځمکی لاندې ځایونو کـی جوړول .

دافسانه دوام مومی او وایی : کله چـی میترا دانسان پـه څیره څرګند شو ، نویو غویی یی حلال کړ دغوښی او وینی څخه یی خپلو پیروا نوته ډوډی او مقدس شـراب جـوړکړل اوپـه خپلو پیروانویی وخوړل اووینه یی په ځمکه تویه کړه چی ځمکه یی څربه او دحاصل لـه پاره چمتو کـړه . بیا وروسته بیـرتـه په بلـه څیری واوښت او آسمـان تـه وخوت . دمیترا پـه سرګـردچـاپیره دنور اورنا یوه شعله ده چی دلمر (شمس) نه یی اخیستی ده ځکه چـی میترا دلمر سـره جګړه وکړه اولمر مغلوب شو . کله چـی لمـردده قوت ولید نوخپله رڼایـی دده دسـر څخه تاوکړه . میترا داخـرت نیاومن دی او پـه هغه نړی کـی د خلکو شفیع دی .

ددی مذهب پیروانو عقیده درلوده چـی دخیر او شر ترمنځ دایمی جګړه روانه ده او انسان په نیکـو چارومکلف دی اوخیر پـه پای کـی پـه شـر باندې غلبه مومی .

دمیترا نفـوذ پـه اروپا کـی د(۳۹۲) میلادی پوری ورځ پـه ورځ زیاتیده او بنه رونق یی درلود ،مګرددی نیتهی نه وروسته د مسیحیت په استحکام سره مـخ پـه زوال روان شـو . (۱)

همد راز میترا په آریانا کـی دزردشتی مذهـب ترراتګه پوری په ټول شدت او قوت نمانځل کیده ،مګر دزردشتی مذهـب پـه ریفـور مستـی بنه کـی یی مقام راټیټ شواو اهوارا مزدا دلوی خدای په صفت وپیژندل شو اومیترا اونور ایزتان یی مرستیالان او عمالو تـه راټیټ شـول اوځینی آریایی ارباب الانواع یـی له برمه وغور ځول اوپر ځای یـی نور معنوی مفاهیم ودرول .

---

(۱) دښاغلی احسان طبری (بررسیهای درباره برخی جهان بینـی هـا و جنبش هـای اجتماعـی در ایـران)

میترا دشفیع ، منتقم او عادل‌خدای‌پـه صفت پیژندل کیده چـی د ظالمانو څخه انتقام اخلی او نیـک‌کـارانو ته پـه دنیا اوآخرت کـی دخپلو ښو کارونـو اجر او ثـواب‌ورکوی .

دمیترا یزم تصوفـی اړخ :

پـه دې مذهب کـی دا عقیده پـه کلکه سره موجوده وه چی دژوندانه پـه ټولو چارو کی باید عدالت اوبرابری وساتله شی . یوبه بل‌دور ور او خور په نامه یـا دول او دعبادت او قربانی پـه مراسمو کـی به یی یو ډول مساوات مراعات کاوه‌چی خاص دهمدې مذهب خاصه وه.(۱)

په دې دین کـی دتعمید مراسموهـم ځای نیولی و او هیڅ لیری نه ده چی دمسیحیت دا رسـم دهمدی‌مذهب دا غیزو پاتی شونی دو دوی. په‌دې مذهب کـی دقربانی مراسمواهمیت درلود اود میتـرا دخوشحالو لـوله پاره یی خپل ځاروی حلالول.دتعمید مراسـم پـه دې ډول اجـرا کیدل چی ځاروی به یی په یوه‌لوړځای کـی دقربانی له پاره څملا وه او لاندی به‌یی ورڅخه یو جالی‌دارلوښـی یاکوم رخت ونیو او دلوښی لاندې به یی هغه څوك کښیناوه‌چی‌دتعمید مراسم وربانـدی اجراشـی. دحلال شوی مال وینی به‌په شخص‌راتوی شوی او دهغه ټول وجود به پری ککړ شو. داوینه به د ده پروجود وچـه شوه او دیو یادری‌شوا روزنه وروسته به‌یی ځان مینځه.دا مراسم به‌هـم دیومشر یاروحانی شخص (ښځی یانر)په واسطه اجراکیدل . داشخص به ددی دود پـه اجرا کولو سره دنورو پلیدیو څخه پاك شـو او رسما به‌د دی دین غړی شـو .

دوی په تعبدی مسیرکـی یولـړمقامات درلودل چـی ډیر متقی به‌یی آخرین پړاوته رسیده . ددی مقاماتوشمیر اتوته رسیده چـی پـه دی تـرتیب سـره دی .

۱ـکارغه ۲ـ پرهیزگار ۳ـجګړن٤ـ زمـرك ٥ـ آریایـی ٦ـ ابـلاغ ۷ـ لمر ۸ـ پلار یا (پیر) .

همدا ډول ربانی عشایا دخدای‌دجسم سره‌دیو ځای کیدلومراسم او دو دهم موجود وچـی دیوې کتری‌ډوډی او شرابو پـه خوړلو سره‌به دوی دمیترا سره یو ځای کیدل اومیترا به په دوی کی حلول کاوه .

دتعمیـد دود تـراوسـه پـوری‌هـم په ځینو پښتنـو او آریا یـی

---

(۱) بررسیهای در باره برخی ....

قبایلو کـی وجود لری او عمومـاً خپل ماشومان دیو ځاروی پـه وینو ککړوی او غوښـه یی خیراتوی .ماشوم دوینی تروچوالی پـورې ډیر تودساتی اوپه نغـری کـی پراخـه اوربلوی او غوښه په همدی اور باندی پخوې اوپخه یی خلکو اوخپلوانوته ویشی او کلکه عقیده ورته لری . د دې دود اثر اوبقایا تراوسه پـورې موجود دی اوتر څو پخوانیو کلونو پورې یی غوره رواج درلود، مگـر اوس دمکتبونو او تعلیمـی مراکزو دا غیزو پـه اثـر ورو ورولـه منځه ځی اولمن یی ورتو لیږی.

دمیترا نمانځنـی د مذهب عـوامـل:

آریایانو دخپل جغرافیایی ماحول دکتنـی نـه په دی معتقدشول چی لمر د دوه لویو نعمتـونو بخښونکی دی چـی یویی رڼا او بل یی تودوخه ده . دا وستا دمتونو څخـه داسـی ښکاری چـی هغه وخت دغه سیمی ډیرې سـړی وی اوداسی فقری اوبندونه شته چـی ساړه اود شمـال باد په کې ډیر غندل شوی دی اوساړه یی دنورو ناوړو پیښو او مخلوقاتو پـه څیر داهمریمن یـا انگرو منـه پیدایښت بللی دی . نولمریی یـو نعمت بللی دی . له بلی خوا دژمی څو میاشتی د دوې در کود موسم دسړ ولـه لاسه دی او کلـه چـی دلمرتاوبه پـه پسرلی کـی ډیـر شـو نودشتی ، دغرو لمنی او ورشوگانی به شنی شوی اود کروند وفصلونو بـه په وده پیل وکړ . نولمر دژوندانـه دهـر اړخیز فیـض او برکـت منبع اوسر چینه وه چـی پـه دې سویه دوی هغه وخـت پـه ټولـو طبیعی مظاهروکی پـه دی اندازه گټور جسم درك نه کړای شو ، نودا یـی د ټولو طبیعی قوتونو څخه پورتـه وباله او سحرا میز طلوع او غروب یـی دوی بیخی مجذوب کړل.

دوی دلمر لویدلو او بیاراختلوتـه حیران شول او داسی فکریـی وکـړ چـی یوه بلـه ماورأ الطبیعی قوه شته چـی دغه رڼـه او تـوده گرده پنډوسکه هره ورځ بیایـی اوبیرته یـی راولی نوهغه یـی دلمـر خدای یامیترا وباله اود ټولو ارباب الانواعو دپاسه مقام یـی ورکـړ.

دنن ورځـی پوهنه دا تائید وی چـی لمر دځمکی پرمخ دټولو انرجیو مـور او زیږنده ده او د دې نـړی پـه ټولو پیښو کـی پوره اغیزه او اثـر لـری . نوکه څـه هم دوی هغه وخـت دلمر پـه دغو اسرارو پـوه نـه وو ، مگر دلمر خـارق العـاده اثرات یی طبیعی معجزات وبلل اود دی نظام داداری لـه پاره یی یومدبر او چلوونکی وټاکه چـی همدغه پراخ مذهـب تری پیدا شو .

دوی دخپل ژوندانه دیری چاری په همدې دیو تا پوری مربوطی وګڼلی او هغه یی دخپل ژوند په پیښو کی اغیز من او مؤثر وباله اودعبادت له پاره یی خاص مقررات او قوانین وضع او تفسیریی کړل اود خپل وخت له پاره یی یو واقعیت وګاته .

دمیترا له پاره په آریایا نوکی خاصی ورځی وټاکل شوی چی په دغو ورځو کی به یی جشنو نه کول اود منی د «مهرګان» اودپسرلی (یختیر) (۱) جشنونه خاص شهرت لری . په دی دین کی د ورځی دری وخته عبادت کیده چی یوسهاردلمر دراختو په وخت کی دویم د غرمی او دریم دلمر لویدو په وخت کی و . اوپه هر وخت کی به یی دخپل ژوندانه خاصی غوښتنی اوهیلی ورته وړاندی کولی .

دلمر درناوی تر اوسه پوری په اکثرو پښتنی قبایلو او ځای ځای په غیروپښتنی قبایلو کی موجود دی اودکسوف په وخت کی دوی اوس هم دا عقیده لری چی زموږ دبدواعمالو په واسطه لمر خپل مخ پټ کړی دی او ممکن چی په کومه سیمه کی اوس کوم ډیر بدعمل جریان ولری او په یابه په چالوی ظلم او تیری شوی وی .
عامیانه پښتانه اوس هم دسختی سیلی لګیدل د کوم چا دناحقه وژلو معلول بولی او فکر کوی چی دهغه مړی اروا په دی بادکی روانه ده او غواړی چی خلك پخپل جسداو دغه ظلم باندی خبرکړی .
همداسی دخسوف پیښه هم یوه بده انګیر نه ده .

په اوستا کی چی بیادغه رب النوع دایزت مقام ته راتیت شو بیایی هم دشفاعت صفت له لاسه نه دی ورکړی او عقیده یی درلوده چی میترا به دسروش اورشن سره یوځای درښتیاو یونکوار واګانی د چینوت (صراط) پل نه پورې باسی او د دوزخ ددیوانو څخه به یی ژغوری .

ساکی اوپښتنی قبایلو تردیره وخته پورې دغه مذهب وساته او د هخا منشیانو تروخته پوری یی هم زردشتی دین منلی نه و ، ځکه کله چی دساکو سره دهخا منشی کوروش جګړه پیښیږی ، نوهغه وخت هم دساکو مشره چی یوه ښځه وه او تامیره Tamiris)(۲) نومیده او زوی یی دفارسیانو دیوی خدعی اوټکی په اثر کوروش

(۱) امکان لری دپښتو د(اختر) کلمه د (یختیر)اوښتی فورم وی .
(۲) ـ تامیره په یونانی لیکنو کی Tamiris راغلی چی (is) یی یونانی لاحقه ده .

نیولـی واوبیایی وواژه ، نودغـه مشره هغه وخـت دساکو په (میترا) بـاندی داسـی سوګند یادوی چـی کـه زما زوی را خوشـی کړی نو ، سولـه به درسره وکړم اوکه نـه نو زه دساکو پـه خدای «دلمرخدای ـمیترا» باندی قسم خورم چې زه به ستاتنده په وینوماته کړم (۱)

کله چـی دخپل زوی دوژلو څخه خبره شوه ، نوکه څه هـم پارسیانو دغـه جنګ ته د کوروش په مشری دیـر پاخه ترتیبات نیولی وو مګـر د ساکو دجرئت او میړانی پـه اثریـی د پارسیانو لښکریاو واژه یـا بندیان کـړل اویا وتښتیدل اوسترکوروش دساکو له لاسه ووژل شو. دسـاکو ملکی د کوروش مړی پیداکـړ اوسریی دوینو پـه یوژی کی واچاوه او پـه دې توګـه یـی خپل سوګند پـر ځـای کـړ .

ویدی کلتور او عصـر

څرنګه چی موږ پـه تیرو پاڼوکـی ور تـه اشاره وکړه چی آریایان داوسنی افغانستان پـه درو اوورشوګانـو او د خوړو نو په غاړوکـی د (۳۰۰۰) ،(۳۵۰۰ق م) په حدودکـی میشه شول یو څه برخه یـی دآمو سیند په پورې غاړه ورشوګانو درواو د غرونو په لمنو کی استوګـن شـول او ورځ په ورځ یی دڅارویواو نفوسو شمیر زیاتیده او دسوونو کلونو په موده کی یی نوی ورشـوګانی ، پند غالی او مینی جوړولـی او دیشین کیدل .

د ماوراالنهر آریایان دخپلو لیـږدونو په لړکی آن دچین تر تورفانه پـورې ورسیدل او په غرب کی یـی دبین النهرین دمدنیت پولو تـه لمن اوږ ده شوه .

دافغانستان په سیمه کی لومړی دشمالی صفحاتو په درو ،ورشوګانو ، کڅیو اوغرو په لمنو کـی میشته شـول او دلرغونی باختر (بدخشان، کندوز ، بغلان ، سمنګان ، بلخ او شبرغان) په سیمه کی یی دژوندانه دمختلفو اړخونو پـه پرمـخ بیولـوپیل وکړ او مختلف قبایـل دهغـه وخت دشرایطو دتقاضا سره سم دقبیلوی اتحاد په بڼه په جلا سیمو کـی میشته او استوګن شول . دوی دخپل لومړی راتګ په وخت کی اکثره پوونده او مالداران وو ، په کـرارکرار دیشین شول او دکروند ګری چاروتـه یی پراختیا ورکړه .

---

(۱) دافغانستان ژبی اوتو کمونه د(ساکی ژبی)بحث

دوی په لومړی وخت کی پوونده‌وو او کرونـدگری یـی یو فرعـی کسب و . دا خبره سپینول ډیرسخت‌دی چـی معلومه شـی دوی کله او څـه وخت په کرونده پیل وکړ اوددیشینی ژوندیی غوره کړ ، مگر دا خبره یقینی ده چـی په تولیدی قواوباندی دمازادو نفوسو دفشار په اثر دوی کروندې ته دیوی غذایی منبع‌پـه توگه توجه وکړه او داتوجـه پـه یوه ډیر طولانی وخت کی وه. دباختر (کندوز او بغلان په کڅیو او دبلخ سین په غاړ و اولمنوکی)دوی خپل لومړنی زراعت پیـل کـړ اوبیا وروسته دنورو شا اوخوا سیموآریایانو هـم دغه شغل تعقیب کړ . داخبره پـوره معلومـه نـه‌ده چـی‌کرونده د دوی خپل ایجاد دی اوکـه دوی دغـه فـن لـه گاوندیو قبایلواوقومونو څخه زده کړی دی ، ځکه چـی په قطعی توگه د دوی تـرمنځ‌دغـه بیلتون یـو مشکل کار دی .

ویدی عصر هغـه دوره ده چـی‌پـه دې وخـت کـی دټولـو ختیځو آریانانو دو دونه ، معتقـدات ، دژوندانه طرز او تولیدی منابع اود تمدن او کلتور ټول اړخونه سـره‌یـو شـان وو .

د دوی په ژوند کـی سـادگـی‌موجوده وه او کالی یی وړیـن او څـرمین وو . دوی دغـه وخـت دوړیو اوبدل ، دڅرمنو رنگول اوساده دباغت زده و ، دوی دفلزاتو څخـه پـه ابتدایی ډول استفاده کولای‌شوه او د اوسپنی الات اود ښکار اودفاع‌وسلی یی لرلی چی مهمه وسله یی غشی او لیندې وی . اسونه ، پسونه وزی ، خره ، سپی اوغوایان یی ساتل . (۱)

ټولو یوشان عمومی جشنونه اواخترونه لرل اوپه ځینو قبیلو کـی بیا خاص جشنونه هـم موجود ووچی‌دنورو قبایلو سره بـه یـی توپیر درلـود . پـه جشنونو او میلوکـی‌به یی اتڼونه نڅاوی او نور مذهبی حـرکات کـول چـی نرو اوښځو اوخصوصاً ځوانانو بـه په‌کـی حتماً گډون کـــاوه .

دقربانی مراسمو اوپه ټولنه اودین کـی دنویو بالغانو دشمول له پـاره خاص مراسم موجود وو . داسونو ځغلول او پهلوانی په کـی پـه پراخه اندازه رایج وه ، بلکی‌دافنون د دوی ددیر ویاړ او پـه ټولنه کـی دلـوړ والـی او عـزت‌وسیلـه وه .

دغه وخت په دوی کـی دښځوپه ژوندانه قیود او ضوابط وضع شوی نه‌وو ، بلکی ښځو دنارینه وسـره‌سـم او برابر حقوق درلودل ، حتی

---

(۱) نگاهی بـه تاریخ جهـان ـ دښاغلـی جواهـر لعل نهرو لیکنه

په ډیرو قبایلو کی ښځو دنارینه و څخه فوقیت درلود او حتی په ډیرو آریایی قبایلو کی دمور مشری‌حالات موجود وو . تر دغه وخته پوري د دوی اقتصادی وضعیت‌دی‌درجی ته رسیدلی نه و چی دپلار مشری شرایط چمتو کړی اود ښځومقام په ټولنه کی راټیټ‌شی .

دسلګونو کلونو په دوره کی‌د دوی په اجتماعی او اقتصادی حالاتو کی بدلون راغی ، ځینوقبایلو کروندي ته مخه وکړه کورونه ، کلی او دا ستوګنی دایمی‌مرکزونه یی جوړ کړل او دیشینی ټولنی منځ ته راغلی .

پوونده قبایل دژمی دورشوګانودلټون په هڅه کی دافغانستان جنوبی او شرقی درو او کڅیوته راورسیدل او دزمانی په تیریدوسره کروند ګر شول . پوونده قبایلوبه کال په کال خپلو ورشو ګانو ته پراختیا ورکوله اویو کال به‌دبل کال نه زیات لیری تلل اوپسرلی او اوړی به خپلو غرنیو باندواو مینو ته دخپلو مالونو سره ختل.

دا جریان د ډیرو پیړیو په موده‌کی روان و او ورځ په‌ورځ د دوی په ژوند اود ځمکی او ورشوګانوپه پراختیا کی پر مختګ راته . دوی د دی سفرونو په لړکی دنورودیرو غیر آریایی قبایلو سره مخامخ کیدل اوپه کلتوری او مذهبی ارخ‌کی یی یو تربله متقابل اثرات پریښودل او اخیستل .

دویدی عصر مذهبی خوا :

دزردشتی دین ترراتګه پوري‌دوره موږد «ویدی» عصرپه نامه بولو ځکه چی آریایانو په دغه وخت کی یولړ فکری او ذهنی محصولات تولید کړی دی اوترموږپوري را رسیدلی دی چی اثرات یی تراوسه پوري په مختلفوقبایلو کی شته . دغه فکری محصولات د دوی د ژوندانه دمادی‌اومعنوی اړخونو غوره څرګندوی‌دی.

دوی یولړ عقاید اود ژوندانه قوانین منځ ته راوړل چی د دوی د ژوندانه د مختلفو اړخونو او خپل‌ماحول څخه راپیدا شوی دی . د دوی پوهانو دغو کلماتو ته مذهبی‌رنګ ورکړ او دارباب الانواعو په ستاینه کی یی‌یو راز منظومی‌ترانی جوړی کړي چی دتقدس مقام یی ونیو او وروسته به په‌ارثی توګه سینه په سینه په یاد وساتل کیدلی او په خپلو مراسمواوحتی دژوند په اکثرو اړخونو کی ورڅخه استفاده کوله اولوستل‌به یی. دغه وخت هندی ، ایرانی او افغانی آریایانو ټولو ګډ عنعنات ، مشترك عقاید او شریك دودونه

درلودل او دژوندانه په شئو ناتوکی یی دګډ طرز تفکر پیروی کوله. ددی وخت دوره موږ دمیلادو نه (۲۰۰۰) کاله پخوا ټاکلی شو ،ځکه چې د(۲۰۰۰ق م) نه وروسته دغه قبایل دمختلفو اجتماعی او اقتصادي سببو نو له کبله سره لیری شوی او مختلفو سیمو او مختلفو جهتونوته لیږ دیدلی دی.

دغه عقاید په نورو اریایا نوکی دزردشتی دین دراتګ له امله پخپل اصلی حالت پاتی نه شول اودزردشتی دین دریفورمی عقیدې په راتګ سره یی خپل اصلی شکل بدل کړ اووروسته داجتماعی اوسیاسی شرایطو اوحالاتو له کبله په زردشتی دین کی هم بدلون راغی اوبنه یی بدله شوه.

مګر یوازې دافغانستان شرقی ،جنوبی اودماورأالنهر اریایان ووچی خپل پخوانی عقاید یی تر ډیره وخته پورې وساتل اوهغوته یی دستاینی او تقدس په سترګه کتل.

په پای کی پخوانی اریایی عقایدیوازی هغو اریا یانوته پاتی شول چی دافغانستان په شرقی ، جنوبی اوجنوب شرقی اود پخوانی هند په سیمو کی خپاره شوی اومتوطن شوی وو. دغو آریایانو خپلی مقدسی ترانی دخپلو روحانیو نو په ذریعه ترپیریو پیړ یو په یادوساتلی او دخپلو لرغو نو او نویو ارباب الانواعو یادونه اوستاینه به یی کوله.

ددغو ترانو او ستاینو څخه دشفاهی ادبیانو یوه لویه مجموعه جوړه شوې وه چی یوازې دروحانیونو او مخصوصو خلکو په حافظو کی به ساتل کیده او دهرې کورنی دغړو به هم یو څه په یادوو. ددغه ویناو دخوند ورکولو له پاره په دوی کی مسلکی خلك پیداشول چې دغه غو ښتنی او کلمات یی دشعر اونظم په قالب کی واچول او خاص اهنګونه یی ورته جوړ کړل چی کیفیت یی څوڅله زیات شو. په دغه ترانواویا سرودونو کی په ارباب الانواعو برسیره ډیری حماسی صحنی هم تمثیل شوی دی او دخپلوډ یرو دښمنانواو غلیمانو غندنی هم په کی راغلی دی. دوی به دغو خوږ ژبو مسلکی روحانیوته ریشیان ویل چی مفردیی «ریشی» دی. ریشیان به دخپل وخت په متداولو ټولو پوهنو پوهیدل چې اکثرویی مذهبی رنګ دراود او ددوی اجتماعی اړخونه یی هم احاطه کول.

دغه روحانیون هم متبرك، هم شاعران، خطیبان اوهم ادیبان ګڼل کیدل. دوی به دمشاورینو او روحانیو نودواړو صفتونو دخاوند انوپه څیر په اجتماعی ژوندکی پوره اهمیت درلوداوپه مذهبی اوسیاسی چاروکی به یی خواصو او عواموته لارښوونی کولی. دزراعت او کروندې او داستو ګنی دځایو نودودانیو په پر مختګ سره دمالکیت پیښی ددوی په اجتما

عی ژوندکی پوره بدلون راوست اویووخت ددغو روحانیو نو څخه یو خاص او جلا کاست یاطبقه جوړه شوه‌چې بحث‌به یی وروسته راشی .

ددغو سرودونو څخه یوازی څلورآثار دهندی اریایانو سره محفوظ‌پاتی شوی ووچی هغوی ددغو شفاهی ادبیاتو لویه خزانه دزمانی دضیاع څخه وساتله اودلیك‌په ذریعه یی‌ثبت‌کړل.

یابه بل عبارت موږ اوس‌یوازی‌هغو ترانواو سرود ونو څخه خبر یوچې یوازې شرقی اریایانو ثبت‌کړی دی او دزمانی په تیریدو سره دهغوی په ذوق‌او داجتماعی شرایطوپه تحول‌سره په‌کی ډیربدلون راغلی ودهغو نورو سرودونو او ترا نوڅخه ناخبره یو چې‌دامودسیند دپورې او دې‌غاړی او دافغانستان نورو قبایلوسره موجود دوو اودژوندانه لارښو دیی ګڼل کیده .

دغه سرودونه چې‌دهندی قبایلوپه واسطه ساتل شوی او ثبت‌شوی دی اکثره لومړنی اوپخوانی لرغونی‌سرودونه یی دافغانستان په شرقی او جنوب شرقی درواو ورشو ګانوکی‌ویل شوی دی چې داسی ډیرنومونه په‌کی موندل کیږی چی حتی داوسنی‌افغانستان دسیمو اوسیند ونو اوسنی نومونه په‌کی ذکر شوی دی .

داسرودونه سره له دې‌چې دیولوی غنیمت په توګه ترموږه رار سیدلی دی ، مګریو شمیرډیر نوریی‌ضایع شوی او دنور وادیانو په‌راتګ سره یی اوس هیڅ څرك هم نه‌موندل‌کیږی . موږ دغه ورك‌شوی سرودونه دباختر سرودونو په نامه یادوو(۱)دغه معلوم اریایی سرودونه همدغه څواثار نه‌دی‌چی اوس موجوددی، بلکی‌دا دآریایی توکم دیولوی ادبی مذهبی اوسیاسی کلتوری اوتمدن یوووړاوکوچنی ښکارندوی اوبیلګه ده چې پخوانی فورمونه او بڼی یی له‌مینځه تللی دی او په‌قوې احتمال سره‌دغه سرود ونه‌دلرغونی اریانا په باخترکی ویل شوی وو ، ځکه چې‌هغه وخت هم اریایانو په باختر کی‌طبیعی قوتونه او سیمبولو نه نمنځل او دهغوی عبادت یی کاوه‌او په دی او سنیو سرودونو کی هم هماغه لرغونی ارباب الانواع پخپل‌قوت او بڼه ساتل شوی دی‌له بلی خواپه دغوموندل شویواومعلوموسرودونوکی‌د «بهلیکا =بلخ» (یا-کا) او کیانی کورنی دنومو یادونه مؤږته دایقین راکوی چې ددې سرودونو لومړنی ټاټوبی او منشأ حتما په باخترکی وه‌اود مهاجر تونوپه لړکی‌یی وورم او محتوا دواړه په هندکی‌بشپړ شوی‌اوتغییرات‌په‌کی راغلی‌دی.

---

(۱)دافغانستان‌پخوانی تاریخ دښاغلی کهزاد لیکنه

په ویدی سرود ونوکی ترټولو لرغونی ریګ وید (ریګ بید)دی مګر دپوهانو دتحلیل اوتجزیی په رڼاکی داثابته شوی ده چې دغه سرودونه هم ټول دیو وخت او عصر نه دی ، بلکې دډیرو زمانو او دورود شفاهی ادبیا تو اوعقاید ومجموعه ده، نوله دی خبری نه داثابتیږی چې دغو سرودونو څخه پخوانورې هم دورې هم تیری شوی دی اوله دې سرودونو څخه پرته نورې شفاهی ترانی اوعقیدوې سرودونه هم موجود ووچې اوس بیخی ورك اوله منځه تللی دی.

دوت (Dutt)پخپل اثر The Afghanistan of India کی لیکی چې :دریګ ودادمتن دډیرواختلافاتو څخه داجوتیږی چې دامجموعه دیوې پراخی دورې یوکوچنی اووړپاتی شونی یادګار دی او هغه څرګند تغیرونه چې په ویدی دوره کی پخپله دسرودونو په ژبه او سبك کی لیدل کیږی داخبره ښکاره کوی چې دویدی موجود وسرودونو څخه پخوا خامخا یو څه نورزیات سرودونه هم موجودووچې له بده مرغه هیڅ ثبت شوی نه دی اواوس یی هیڅ څرك نه ښکاري.(۱)

دریګ ویدپه متونوکی ځای پرځای د (پخوانیو پوهانو یا پخوانې سر ودونو)جملی او ترکیبونه لیدل کیږی چې له دې جملو څخه په څرګندډول دا خبره جوتیږی چې ددوی نه پخواهم په اریایانوکی ریشان او پوهان موجود ووچې همدغسی سرودونه به یی ویلی اوجوړ کړی وی ددغوور کوسر ودونو بیلګی او مظاهر په زردشتی او ستاکی لیدلای شو .

اوس به بده نه وی چی پخپله دویدی سرودونو دمعرفی په برخه کی یولنډ غوندې اجمالی بیان وړاندې کړو :

د «وید» کلمه او دویدونو تاریخی جریان :

«وید»دپوهنی معنی لری اومقصدترې هغه پوهه او معلومات دی چې ددوی دپوهانو شاعرانو او ادیبانـوله خوا ویل شوی او دمقدسو شفاهی عباراتو په دودیی یاد ساتل . ددی پوهی به برخه کی موږ تراوسه پو رې څلور کتابونه پیژنو چی نومونه یی دتاریخی قدامت اولرغونتوب په ترتیب سره پـه دې ډول دی :

۱ـ ریګ وید ـ۲ـ یجروید ـ۳ـ سماوید ـ۲ـ اتهرواوید .چې لومړیو اثاروته یی په مجموعی توګه ترای ویدا Tray - veda یادری ګونی پو هنی ویل اودځلورم یعنی اتهرویدزمانه وروستنی ده چی دمانو Manu دقانون همزولی اوهمعصری دی، ځکه چې دمانو په قانون کی هم دری وید

(۱) دپښتو ادبیاتو تاریخ دپوهاندحبیبی لیکنـه

ونـــه یادشوی دی او څلورم یعنی Atharva-veda)نوم نشته او دغـــه دری وید ونـه یـــی دتـــر ایـــم بـــر هم سنا تنم Trayam brahma Sanatnam په نامه یادکړی دی ، مگر دمانود کتاب په یو ځای کی بیاد څلورم ویدنوم هم اخلی چې له دې څخه څرگند یږی چې څلورم وید هم جوړ شوی دی او میدان ته را وتلی دی .(۱)

دویدی متونو دهغه وخت په هندکی مفسراوفقیه مدهاتیتی Medha-tithi هم دڅلورم وید نوم ذکر کړی دی .په لرغونو او پانیشا دو نوکی چی ډیر پخوانی یـــی مندك Mundakya او چهاندوك Chandogya دی دڅلورم ویدذکر او نوم راغلی دی .داسی نورد یرلر غونی هندی آریایی اثار موجوددی چی دڅلورم وید تائید او منښت کوې .

په هر صورت موږپه منلی تو گه تراوسه پورې څلور ویدونه پیژ نو چې دشرقی اریایانو په واسطـــه حفظ او ساتل شوی اوتر موږ پورې رارسیدلی دی .

ریگ وید یومنظوم اثردی چې داریایانو ډیرلرغونی خواږه اوطبیعی اشعار یی ساتلی دی .

یجروید یو خاص مقفی او مسجع رنگ لری ، سام وید یاسماوید دا هنگونو مجموعه ده اود فورم اوتاریخ له مخی یوتر بله سره توپیرلری.

په لومړیو دریووید ونوکی ترټولوډیرلر غونی ریگ وید Rig-Veda دی یاپه بل عبارت ریگوید دنور وویدونومور یانیاده چې نوروید ونه د همدې وید دافکار رونه متاثردی.(۲)

ویدونه دهغه وخت مقدس عبارات دی چی دنازلی شوې وحی حیثیت یی درلود پیروانو یی ددغو شفاهـــی اثارو تعلیمات کامل گڼل اودخپل دین دډیرولوړ واسناد واومدار کوپه سترگه یی ورته کتل . داتعلیمات ددوی دژوندانه په ټولو شئوناتو حاکم اوکنترو لران وواو دوړ ؤکتوب نه دزړ ښت اومرگ تروخته پورې یی په هره مرحله کی ددوی وظایف او وجایب ټاکل .

وروستنی ټول نور تعلیمات اوقوانین دهمدې مذهبـــی اسناد وترا غیزولاندې منځ ته راغلی دی او ټولو مذهبی رسومو عبادتونواواجتماعی ادا بوور څخه نشئت کړی دی .

که څه هم ددغووید ونو شمیرڅلورویا دریوته رسیږی ، مگـــر

---

(۱) گزیده سرودهاې ریگویدا دمقدمی(۱٦) مخ

(۲) گزیده سرودهاې ریگوید !دمقدمی (۱٦) مخ

ډیری نوری رسالی ، لیکنی اوداسی‌نور کتابونـه هم ور پورې نښلول شوی دی‌چې دمذهبی دودونو اونمانځنی اداب اوقوانین په کی تشریح شوی دی .په لنډ ډول‌که چیری ددغولرغو نو ختیځو اریایانو لرغونـی اثار صنف بندی کړونو په دغولاندې‌څلور وډلویی ویشلای شو .

۱ـسمهیتا (یاسنهیتا)(Samhitaچی دوید ونو تفسیـر اوتشریح ده

۲ براهماناگان(Brahmanasچی دوید ونو تفسیر او تشریح ده

۳ـ ارنیکایان (Aranyakasدی چې په ځنگله کی‌دجوړ وشو یو متنو نو مجموعه ده .

٤ـاوپانیشادونه (Upanishadsچې دویدی فلسفی‌ځ یړنه اوبیان‌دی نو په دې ډول سره موږ هرویدکتلای‌شو چې هم براهمانا هم ارنیکااوهم او پانیشاد لری .دریگوید متون یوه‌داسی مجموعه ده‌چې دځونسلو نود خلگو دافکار ومحصول دی اوله همدی‌امله یی په سرودونوکی هم اهنگی او دسبك یووالی نشته اوپه معنوی‌لحاظ یی‌هم سرودونه سره توپیرلری ځکه پخوانی او لرغونی سرودونـه یی طبیعی اوساده متعددو ارباب‌الا نو اعو ځخه پیل شوی او وروستی‌یی دفلسفی وجود دوحدت په افکار واغیزه من شوی اویو فکری تحـول‌په کی ښکاری .

له بله خوادمور مشری‌اود تولیددساده دورې اوټولنی نـه نیولی د طبقاتی ټولنی خصوصیات او ممیزات‌سره په گډه توگه په کی راغلی دی. دیو ژور تحلیل اوتدقیق نه وروسته کیدلای شی‌چې دغه سرودونه داقتصا دی او اجتماعی ټولنیز وپرمختگونوپه اساس صنف بندی شی او دهرې اجتماعی اواقتصادی دورې دخصوصیاتوپـه رڼاکی سره بیل او جلاشی .

په دغو معلومو سرودنوکی یوازی‌دهغو سیمو ، کڅیو ،غرونو سیندونو او جگړونو مونه راغلی دی چې‌سړی‌په زغرده سره ویلای شی چـې‌دغه سرودونه دباختر سیمی ځخه دمهاجرت‌نه وروسته ویلی شوی اوډیر لرغو نی یی هغه سرودونه دی چې دهندوکش په جنوبی لمنو او کڅیوکی‌و یلی شوی دی . دغه سرودنه چې‌دشفاهی حالت نه کتبی بڼی ته یی تکامل کړی دی اوتر موږ پورې‌رارسیدلی په پیړیو پیړ یوله یوی‌سینی نه بلی ته اوله یو مغزنه بل ته په ځوځله نقل شوی دی اوبیا وروسته لیکل شوی دی . سړی دټولو شفاهی‌اثار ودمسیر او جریان لـه مخی دا حکم کولای شی چې دغه سرودونه مکمل او بشپړ نه‌دی او برسیره پر دی چې دآریانا دشمالی لمنود سرودونو برخه په کی نشته اوهغه ثبت‌نه دی دشرقی اریانا یادهندوکش دجنوبی لمنوټول سرودونه هم په بشپړه

توګه ثبت او ضبطشوی نه دی . یوازې هغه سرودونه ثبتشوی دیچې دڅو پیړۍ یوپه دوران کی دیونه بلته رانقل شوی اوترهغه وخته پورې رارسیدلی وو . له بله پلوه دځینواریایی قبیلو ترمنځه دځمکو دمالکیت دتکامل په د وره کی یولړ اختلافاتاوشخړی وی چې ترډیرو ومودوییدوام کړیدی . هرې قبیلی یوشمیر ادیبان، شاعران او سرود جوړ وونکـــی لرل او په دغه جګړوکی به یی خپلاتلان ستایل اومدحی ترانی اودارباب الانواعو څخه هیلی اود هغویمرستیبه یی په کی ترسیمولی . نودریګوید پرته دغه ویدونه چی خاص داباسینیدغاړو دمقتدرو او حاکمو اریایی قبا یلود ذهن سره برابر سرودونه دیطبعاً اوحتماهغه سرودونه په کیضبط شوی نه دی چېددغو آریایانو دمخالفو او معاندو قبایلو دریشیا نو له خو اویلشوی اوددوی غند نه اویانوره مخالفه وینا په کی شوی وه،یاد هغو قبایلو دخاصو اتلانواویا اربابالانواعو ستاینه اونمنځه په کی راغلی وه .

له بلی خواد زمانی توپیر له مخیدغه سرودونه په اغلب احتمالسوره د (۲۰۰۰ق‌م) نه را وروسته وختمحصول دی ، یعنی داد هغـه وخت سرودونه دی چېدباختر نه داوسنیافغانستان شرقی ، جنوبی شرقی او جنوبی خواته په مهاجرت پیل کړیدی اود اقتصادی تکامل له مخی دوی نوی دپلار مشری په دوره کی داخلیږیاوپه کرونده ، دځمکو په مالکیتاو اجتماعی تشکیلاتو په بنسټ کیښودلو پیل کوی .

دغه سرودونه چېاوس دبشرپه لاس کی دی اوپه مختلفو ژبوترجمه شوی اودپوهانو له خواپه کی ډیرېڅیړنی شوی دی موږ دمعلومو سرود ونو په نامه یادوواو هغه سرودونه چې دزمانی په اوږده موده کیدمختلفو پیښوله کبله له منځه تللی اوورکشوی دیدنامعلومو سرودو نو پـه نامه بولو .

که څه هم څوکپه واقعی توګه دا ویلی نه شی چې دغه نامعلوم سر ودونه څومره ؟کله؟او چیری ورکشوی دی ؟مګر داسی اسناداو مدارک دتاریخ او ژبپو هانو په لاس کـــیشته چې داتری ثابتیږی چی ددغوسر ودونو څخه دمخه یولړ نورسرودونه هم ویل شویوو چې اوس زموږ په لاس کی نشته اوداسی تاریخی پیښیمنځ ته راغلی دی چې ددغوسرودونو ځای نورونو یوشیانو اومواد وډکړیدی اودغه سرودونه یی له منځـه وړی دی .

دریګویدا سرودونه په واقعیت کی دلرغونو اودشرقی اریایانو دنو

یو سرودونو داتصال حلقه اوکړی‌ده،ځکه که له یوې خوا دنویو سرودونو سره ارتباط لری اوپیوندونه یی ورسره نښلی ، نوله بله پلوه په کی داسی سرودونه ، عبارات اوجملی راغلی دی چې دپخوانیو سرودونو، پخوانیو ریشیا نواو نوروسند رویادونه کوی . مثلادریگویدا په ځینو سرودونو کـی داسی جملی راغلی دی ؛«پخوانی پوهان» یا«پخوانی‌سرودونه» چې ددې فقرو څخـه موږ په دې‌پوهیږ وچې‌دآریایانو ذهنی او فکری محصول یوازې همدغه معلوم سرودونه نه وو، بلکې دوی دویدی معلو مو سرودونو دزمانی څخه پخواپـــه (٥ـ٦) سووکلونوکی حتما داسی نور ډیر شفاهی ادبیات لرل چې اوس‌له منځه تللی دی .

له بل پلوه دریگویدا اوگاتونودژبوډیر نژدی ورته والی چې ترډیره وخته پورې یی اروپایی پوهان په‌دې اشتباه کی اچولی ووچې گوندې دگاتونو ژبه دویدی ژبی اوښتی اومنحرفه بڼه ده داثابتوی چې یووخت پـه لرغونی اریانا (لرغونی باختر)کی ددغو قبایلو ژبه سره یوه‌وه او بیاوروسته په‌کی لهجوی انشعاب اوبیلتون راغلی اونورې ژبی‌تری‌جوړې‌شوی دی.

موږ داسی اټکل کولا شوچې یووخت داسی وچې داموسیند دواړوخو او د «اریك»ژبی نه وروسته یوه‌بله مشترکه ژبه هم درلوده چې دد غواریایانو او سنیو ژبو مور وه.

څرنگه چې معلوم سرودونه اکثرادهندوکش په جنوبی او شرقی درو ، داباسین پر غاړو او دپنجاب په‌ورشو گانو کی ویل شوی دی ، نونا معلوم سرودونه‌د هندوکش په شمالی درو ، ورشو گانواو دخوړونو په کڅیوکی هغه وخت ویل‌شوی دی چې‌داریایی قبایلو شمیر ډیرنه واوپه همدغو ځمکو بسیا وو او داجتماعی‌او اقتصادی تشکیلاتو له پلوه یی دومره پر مختگ کړی‌نه و. دزردشتی‌دین تر راتگه پورې دټولو شرقی‌اریا یانو ترمنځ دغه سرودونه یوشان‌وواو په عقاید و، افکارو ، دودو نو اوکلتورکی یی سره توپیرنه و، مگردمهاجرتو نو او بیلو ، بیلواجتماعی او اقتصادی پښنودراتگ په اثریی‌پـه ټولو اړخونو کـی ورځ‌په ورځ اختلافات پیدا کیدل اویوتر بله سره‌لیری کیدل .

د«وید» کلمه بنایی ډیره پخوانی‌وی اوممکن چې په لرغونی اریاناکی به هم داسی سرودونه ووچې دغـواریایانو به د غه سندری اونغمی مقد سی گڼلی او«وید» به یی ورته وایه. که څه هم موږ داوستا اووید ونود مذهبی افکار ودمقایسی په صورت دې نتیجی ته رسیږو چې ددوی‌دعقا ید واونورو فکری اوشعوری اثاروترمنځ‌ډیر نژدیوالی اوپیوستون‌لیدل کیږی اولکه څرنگه چې‌دریگویدانه پرته نورویدونه ددوی د اجتماعی، اقتصادی او فکری انکشاف خاص‌مراحل څرگندوی .زردشتی دین هم‌ددوی داجتماعی تشکیلاتو یوه انقلابی اوپرمختللی بڼه ده چې دوی دشرایطو له مخی مجبورو وچې پخپلو عقاید وکی‌هم تغییر او بدلون را ولی .

موږ دلته دویدی سرودونو سره نورڅه کارنه لرواویوازې‌دهغو بر خوسره علاقه لرو چې په هغوکی زموږ دلرغونی هیواد دکلتور او تمدن په اړ خونو څه رڼااچولی شی اودژوندانه په مختلفو مراحلو اوتکاملی پړاوونو په برخه کی یی څه ناڅه معلومات‌راکوی .

اجتماعی بڼه او تشکیلات :

لکه څرنگه چی‌دمخه موویل‌چی‌په اریایی ټولنه کی دکروند گرو اولسو نوپه منځ کی دمالکیت په پیدا کیدوسره دښځو مقام له پخوانی برمه را ولوید اونارینه ویی ورځ پـه ورځ‌صلاحیتو نه ځان ته منحصر کول او مقام یی لوړیده چې‌په پای کی دبل‌اجتماعی مترقی پړاوته په رسیدلـو سره یی دمشریا «پاتی Pati »مقام‌ونیو اودمریی توب دوره پیل کیږی مگرپه پونده واو کوچیانو کی تـرډیره وختـــه پورې دښځو مقـام د اقتصادی صلاحیت له کبله پر ځای‌پاتی شو او دکروند گرو ټولنو په نسبت یی مقام تنزل ونه کړ . ځکه‌چې په پوونده ټولنوکی شخصی ما لکیت (پرته له څارویوڅخه)موجودنه واود مالونو ورشوگانی دقبیلی‌مشترك مال گڼل کیده او فردی مالکیت پـرمختگ‌کولی نه شو اوپه کوچیانی‌ژو ندکی دکروند گرو په اندازه دمریانوڅخه استفاده نه شوه کیدلای .

مگر له بده مرغه یوبل‌مهم عامل‌پیدا شو چې‌په پوونده قبایلوکی هم دښځو مقام دپخوا په نسبت راټیټ‌شواو نارینه دښځی په نسبت دډیرو صلاحیتو نو خاوند شو .

څرنگه چې د(۲۰۰۰ق‌م)په شااوخواکی اریایانو دځمکی او ورشو گا نود تنگوالی او دنفوسو دډیروالی‌له امله په پوونده بڼه مهاجرتونه پیل کړل ، نوله یوې خوایی دورشوگانواواستوگنی‌ځایونه په سردنور وقبایلو سره جنگونه راغلل او له بلی خوایی دځینو عواملوپه اثر پخپلو منځو کی هم یو تر بله شخړی اولا نجی‌پیدا شوی چی دغه مهاجر قبایل له

یوی خوا مجبورشول چې خپل بشری‌قوتونـه سره متحد کړی او پخپلو منځوکی اجتماعی تشکیلاتو او اولسی‌جرګوتـه خپل پام واړوی ، نودوی مجبور وو چی خپل ځوانان اود جنګ‌افراد چی حتما به نارینه وومنظم کړ ی او دمقابل لوری جنګ‌ته یی ولیږی‌او دخپل ژوندانه دبقاپه خاطر مقامت وکړی نواریایان چې هغه وخت دنوروقومونو پـه نسبت زیږه او زړه ور وو پخپلو حریفانو باندې دغلبی نه وروسته فاتح مشران او زړه ور ځو انان دروحانیو نو ښځـو او نرو اوسپیـــن ږیـرو لـــه خـــوا نمـا نځـل کیـدل او ستـاینـه بـه یـی‌کیدله. همدی جنګو نواوجګړودنارینه ومقام ته یوقوت ورکړ اومقام یـی‌لوړ شو .

داهم یو مجبوریت واو په اجتماعی‌ژوندکی پر مختګ ودهمدې پروسی پربنا په دوی کی یولړ اجتماعی نورتشکیلات هـم منځ ته راغلل چـې که څه‌هم ښځو به په کی ګډون کاوه ، مګر اداری صلاحیت یی‌دنارینه وپه لاس‌کی و . دزمانی په تیریدوسره دهمداسی پیښو په‌اثرچې اکثره به‌دنو یو ورشوګانو اوټاټو بو پـه سرجګړوته مجبور یدل په دوی کی موقتی او دایمی جرګی او مجلسونه‌رایج شول .

له بلی خوا په دوی کی اجتماعی‌اولسی مفاهیم رایج شول.دکورنی‌نه ئیولی دټولی قبیلی دسیمی اومحیطدپیژندنی له پاره یی یولړ مفاهیـــم وضع کړل او هر واحد ته یی یونوم‌کیښود چې‌دغه تشکیلات په عنعنوی توګه په دوی کی پاتی شول‌او حتی‌ترنن ورځی پورې اوس‌هم دغه نو مونه دافغانستان په ختیځو ولایاتوکی پخپل پخوانی شکل اوفورم پاتی دی چې اوس یی اکثره خلك په معنی نه پوهیږی او ځینو میرزا یانویی‌هم شکل وربدل کړی دی .

دایوه خبره باید په یادو لرو چې‌دافغانستان په شرقی سیموکی دشما لی سیمو په نسبت دغوایانو روزنی‌ډیر پر مختګ وکړ اودغوا یانو په څنګ کی‌دګندهارا په حوزه‌کی وزې‌او پسونه هم روزل کیدل ، مګر هغه لوړ مقام چې ددوی په نزد غوایانواو خصوصا لنګوغوا ګا نـو در لود او دتقدس مقام‌یی ونیو پسونو اووزو دومره مقدس او اوچت حیثیت نه درلود ځکه چې ددوی اکثره اجتماعی‌ویشونه او تشکیلات دغوایا نو دور شو ګانو ، پنډ غالو او روزنځیو په‌اساس کیدل او ددوی بشری اولسی نظام هم په همدغو نو مویاد یده .

دویدی عصر کورنی چې دوی به «کولا Kula »بلله په پښتنوکی اوس هم د«کهول ـکوول»کلمه دکورنی دغړو مجموعی ته ویل کیږی . دا لومړنی تشکیل وچې پـه تدریج‌سره عشیری او قبیلی دبر خوویش

ته رسیده دویدی سردونو دیادونوله مخی ښځو او نرو په ډیروبر خو کی مساوی اوسم سمکی حقوق‌درلودل، مګر بیا هم‌د ذکر شویو دلایلو او دکروندې سره دبلدید لو په‌اثر په‌جنسی حقوقوکی نارینه ته داولیت مقام ورکړ شوی و، ځکه‌چې په ویدی‌سرودونوکی اکثرا دکورنی په غړو کی لومړی دنارینه ونومونه اخیستل‌کیږی او بیا وروسته مور او لورد پلار او زوی نه وروسته یادیږی .خو بیاهم یو شمیر شاعرانی اوریشیا نی ښځی په‌کی وې چې ستر روحانی‌موقفونه یی په برخه شوی وو.(۱)

اوس غواړو چې ددوی په اجتماعی‌ژوندکی دهغو کلماتو تشریح اویا دونـه وکړ وچې دهمدی پووندې واقتصادی منبع ، یعنی غوایانو پـه نامـه پوری منسوب عشیـروی اوقبیلوی مراتب پری مرتب‌او جوړشوی وو :

ګوترا : Gothra ګوشتی د ګوترا یا Goshti کلمه ددوی دعشیروی کالونی یا ټاټوبی په مقابل کی استعمالیده چې معنی یی ؛ (دغوایا نو روزنځی یاپنډ غالی) دی‌چې یوی‌طایفی یاعشیری بـه دخپلو مالونه له پاره یوه مشترك ورشو اوګډپنډ غالی درلود . اوددغه پنډغالی مشراوداره چی ته به یی «ګوتراپاتی»وایه چې دده دمشری لاندې به‌دغه مالونه او غوایان روزل کیدل اودوښوورشو ګانو نورو تربیوی چارو اداره به‌یی کوله . دوی‌به دغوایانو مشترکی ورشو او څرځای ته ګوشتـــــه Ghoshta)ویل . دغه کلمه‌اوس‌هم دننګرهار ولایت دکابل سیند په کوزنی برخه کی ژوندی ده او دیـــوې‌او لسوالی نـــوم دی (۲) . دغه سیمه واقعا له یوی خوادسینددغاړو دپراخی طبیعی ورشو او لـه بلی خوا دنژدې غرو دلمنو په لرلوسره دغوا یانو یوغوره روزنځـی او پالنځی دی .

ګرامه :په‌دې کلمه کی هم دغوایی مفهوم پروت دی‌او اوس هم په ځینو پښتنی سیموکی «ګورم» هغی‌پادې ته ویل کیږی چې دیواولس‌یا قریی دټولو خلکو دغوایا نو مجموعه‌وی که څه هم ځینو خلکو دغه کلمه دمطلق «اولس» یا عشیری په مفهوم‌تعبیر کړې ده مګر زیات احتمال دادی چې درسته ده چې دا ولس معنـــی‌ورکوی ، مګر هغه اولس چې‌دغوایا

---

(۱) دافغانستان پخوانی تاریخ (٤)مخ

۲ـپه یوه پښتو متل‌کی ددغې سیمی‌نوم داسی یادشوی دی ؟(په ګوشته کې ځوانان شته)

نولـه پاره یی یوه مشترك ورشـودرلوده اویاپه بل‌عبارت چی غوایان یی یو ځای ځریدل . (۱)

گوجانا :داکلمه هـم دگوشتی پـه ځیر دیو اولس او عشیری مشترکی ورشو یاپنه غالی تـه ویل کیدل ،مگر دگوشتی په اندازه به پراخه نه وه . دغه کلمه اوس هم په همدی بنه دشینوارو دهسکی مینی پـه او لسوالی کی ژوندی ده اود یوې‌داسی‌قریی نوم دی چې‌دازارنا وخوړ پـه غاړه پرته ده‌اوهم پراخه غرنی ورشوپه ځنگ کی لرې چې دغه نوم اوس په یوځه تغییر سره په (گجنه) Gajana

یا دیږی اواوس یی ځوك‌په اصلـی‌معنی نه پوهیږی .

ویلای شوچې دځو گجنو ځخه یـوه‌گوشته او دځو گوشتو مجموعی ته به یی «گرامه» ویل . اودځو گرامه مجموعی ته به یی «ویس» وایه . د اجتماعی او اقتصادی پرمختگ او دځینو دفاعی چارولهٔ کبله دوی په یو لړ نورو اجتماعی مراتبو هـم مجبورشـول اودمشر توب اوکشر توب ، اتحاد او اطاعت مفاهیم پـه کی رایج‌شول . دوی دگرامه ، گو جانا ، او ویس دچارو دتنظیم اوسمون اوداجتماعی اتحاد له پاره واړه اولوی مشران وټاکل چې‌تر ټولو لوی، یعنی دقبیلی‌مشر بـه «ویس‌پاتی» یا«راجا» بلل کیده . (۲)

تردغه وخته پورې چې ددوی‌ژوند اساسا په مالداری متکی واو کو چیانی بنه یی درلوده‌اود ځمکی‌شخصی‌مالکیت لاپه کی دومره پوخ او منظم حالت نه درلود . که ځه‌هم په دوی‌کی‌اجتماعی مراتب منځ ته راغلی وو ، مگر (ویس‌پاتی) اوراجا په‌دغو کوچیو او لسونو کی دمطلقیت مرحلی ته رسیدلی نه و بلکې یوډول دیموکراتیك او مذهبی اصول ووچې ددوی په ژوندیی حاکمیت درلود او رئیس‌او مشربه دنورو مشرا نوله خواټا کل کیده او لیری کول اوپر ځای یی‌دبل مشر ټاکل دومره گران کار نه و ځ،که چې هغه وخت دقدرت پایی‌او ارگان یوازې قبیلوی محبوبیت او قبیلوی قدرت وچې دخلکو له خواورکول کیدای شو اوبیرته ترې هم اخیستل کیدای شو .

دویدی عصر اریایانو دخپلو ماتوگودو درغو او اولا نجود حلولو لـه

۱ـ په پښتو کلاسیکو ادبیاتو کې د(عشیری ، ځوعشیرو دمجموعی)معنا یې‌لرله ـوگوری (زړه پانگـه)

(۲)دافغانستان پخوانی تاریخ

پاره داسی نور اجتماعی تشکیلات هم‌لرل چې اوس یی‌هم په اکثروپښتنی قبایلو کی دپاتی شونی په توگه دجرگی اودجرگی دمشخصو افراد ووجود او مقررات ترنن ورځی‌پورې پاتی‌دی.په ویدې عصرکی دقبیلو دداخلی او خارجی مسایلو اولانجو په برخه کی‌دلازمو اقداماتو او تجویز ونو دنیو لوله پاره دوه مهمی جرگی موجودې‌وی چې یوه به نسبتا وړه اوپه کلی او اولس کی به جوړیدله او لازمی‌اولسی دیمو کراتیکی فیصلی به یی کولی . دیو اولس او قریی خلك به سره راغونډ شول چې ښځو به هم په کی گډون گاوه او داولس ماتـــی‌گوډې به یی رغولی چې دې مجلس ته به یی سبها(Sabha)وایه‌چی اوس هم دهمدی کلمی په استنا د دهند اولس جرگی ته «لوک‌سبها»یعنی (دخلکو جرگه) ویل کیږی .د دې جرگی دصلاحیتو نو او تصمیمونو سیمه به کوچنی او وړه وه اود محلی خلکو داخلی لانجی بـــه یـــی‌فیصله کولی .

دویم مجلس چې د«سمیتی» په نامه یادیده دخوگوشتو اوحتی ویسو نو مشرانو به دکومی مهمی پیښی‌په پیدا کیدلو سره لویه غونډه جوړو له اودمشرانود بحث او مباحثی نه‌وروسته به یی درایو په اکثریت‌سره لازمی فیصلی کولی او ددوی لـــوی‌مشر یاراجا به په کی هم گډون کاوه . په بحثونو اودافکارو په اظهار به‌هیڅ راز قید اوبند یزنه و ، بلکی هر مشر به خپل نظریات او افکار په‌ازادانه توگه څرگند ول اودنور وله خوا به پرې غور کیده .

دریگوید دیو سرودنه داســـی‌څرگند یزی چې‌تر دغه‌وخته پورې‌په دوی کی دثروت معیار یوازې څاروی‌او مالونه وواود ځمکی مالکیت لاپه دوی کی دومره اهمیت پیدا کړی‌نه‌و. په یو سرودکی داندرارب‌النوع ته داسی خطاب کوې ؛«اې‌اندرا !ستاملگری یعنی‌هغه کسان چې اسونه ،گا ډی ، رمی او شتمنی لری په‌سمیتی‌جرگه کی گډون کوی .» (۱)

ددې سرودنه دوه خبری څرگندیزی ؛

یوه داچې په دوی‌کی په اجتماعی‌او اقتصادی توگه دمالونود ډیرښت اودمالداری دثروت په اساس اجتماعی‌توپیر پیدا شوی‌و .

دویمه داچی دثروت معیار یوازی‌څاروی وواو ددغـــه ثروت ددیرښت له کبله دوی دیو امتیاز خاوندان‌شوی ووچې دمشرانو په جرگه کی یی دگډون حق ترلاسه کولای شو .دغو جرگو له بلی خوا دمقننه قوی حیثیت درلود او ددوی موضوعـــه‌مقررات به پخپلو ټولو مربوطو او

---

(۱) دافغانستان پخوانی تاریخ

لسونو کی نافذوو او په اجتماعی‌ژوندکی به پری عمل کیده . ددغو اولسی مقرراتو څخه دسرغړ وونکوله پاره مجازات هم وو . چابه چې‌ددوی دفیصلو اومقرراتو څخه په ښکاره‌توګه مخالفت کاوه نولومړی به یی ور باندې اقتصادی او اجتماعی تعذیرات او بند یزونه ولګول اومجرم به یی په تجرید کی پریښود . پـــه پښتنی قبایلو کی ددغو بند یزونو دود په ډیر شدت سره عملی کیږی‌چې دوی ورته «دتیږی غورځـول ، ناغه پرې ایښودل»وایی چې مفهوم‌یی دمجرم سره دهرراز روابطو پری کول دی او پخپلو ټولو اجتماعی شئوناتو کی‌دمجرم‌دبرخی‌اخیستو محرومیت دی.دمجرم سره‌به هیڅ رازتعاون اومرسته دهیچا له خوانه کیږی او که چاور سره روابط وساتل اویایی ورسره مرسته وکړه ، نودوضع شوی تړون له مخی دهغه سره هم هماغسی‌چلند کیږی .

که‌چیری به جرم شدید واوشرم‌او خجالت به یی ډیرو خلکوته راجع کیده ، نو مجازات به یی سخت اوداقتصادی او اجتماعی بندیزونو څخه برسیره دمجرم دسر اوځان دخطـــراحتمال هم موجود و . دغه دودهـــم اوس په پښتنو کی رواج لری اوهغی‌ته «سیخ کول» وایی. په شینوارو کی دغه‌مفهوم اودود په ډیر شدت‌سره اوس هم جریان لری . دسیخ کولو څخه مقصد دادی چې دمجرم دشتمنی په اندازه څاروی او پسونـــه اخلی اوقربانوی یی .

البته پخوادغه مالونه ددوی دیورب النوع له‌پاره نذرانه کیدل او ټولو خلکو به دهغه اورد پاسه چی‌دوی به بل ګړی و وریتی شوی او په سیخونو کی ټومبلی‌غوښی خوړلی‌او دریشیانو او مشرانو له‌خوا به په خاصو مراسمو سره ورته ویشل‌کیدلی مګر اوس یوازی دغه دود د اقتصادی او اجتماعی مجازاتو له پاره‌پاتی دی اونور رسمونه یی له منځه تللی دی .

دویدی عصر په پوونده قبایلوکی یوراز خاصه دیموکراسی وه‌چې اوس یی نمونه په نړی کی موندلی‌نه‌شو . هلته دایمی اومستقر حکومت او دولت وجودنه درلود اوداجتماعی‌مراتبو سلسلی یی هم کومه خاصه بڼه نه درلوده ،بلکې‌دهر رې مرتبی‌شخص به په فعالانه توګه پخپلوور ځنیو چارو بوخت واو دانسان څخه‌دانسان داستفادی (استثمار) شکل‌په کی بیخی وجود نه درلود . مګردغه‌پوونده قبایلو بیا هم یولړ قوانین او مقررات درلودل چې په مذهبـــی‌رنګ به ککړوو او دځینو اجتماعی مقرراتو پر ځای کولوکی به‌یی هم دخپلو ارباب الانواعو خوشحالی ګڼله

او مخالفت به یی دهغوی دقهراوغضب‌درا پارلو باعث‌ګانه . څومره چې دو یدی عصر قبایلو دخپلو مهاجرتو نوپه لړکی شرقی او غربی هیوادوته لیږ دیدل‌او دنور وغیر اریایی قبایلوسره مخامخ کیدل هماغو مره یی‌په ژوندانه کی بدلون او توپیر پیښیده‌اودځمکو دمالکیتونو او دایمی جایداد ونودتصاحب له امله یی په اجتماعی‌مراتبو کی تغییراو بدلون پیښیده‌او ددایمی ټاټوبو په استقرار سره یی‌طبقاتی تضاد ونه دو څاره کیدل .

لکه چې دمخه موویل دځمکی دمالکیت په انکشاف سره په دوی کی دیو انسان استفاده دبل انسان څخه پیل شوه اودجګړو بندیان بـه یی‌د خپلو کارونو داجرا کولولـــه پاره‌استخدامول اوبزګری چې یووخت په اریایانوکی دیو ډیر شریف شغل په‌صفت یادیده وروسته یوټیټ شغل وګڼل شـو اوپخپلـــه آریایانـــوکـــه څـــه هـم دځمکـو اصلـی خاوندان به وو ددهقانی چاروته لاس‌نه نژدی کـــاوه .

داریانا په دننه سیموکی بیاهم‌داسی قبایل موجود وو چې دپرا خو ځمکو خاوندان او دیشین وو ، مګربیا هم په‌دوی کی یو ډول دځمکـو اشتراکیت وجود درلـودچی دمغولوتر زمانی پورې یی دودونه اوقوانین پخپل حال پاتی وو، په داسی توګه‌چې دقبایلو تر منځ چې کومی دکرو ندې ځمکی ویشل شوی وې‌څوکاله به یوی قبیلی ورڅخه استفاده کوله او بلـی قبیلـــی به دبلی ځمکی‌څخـــه ګټـــه اخیستـــه دټاکلـــی وخـت نـــه وروسته به دغه ځمکی‌یوتر بله سره بدلیدلی اوبیا به د څوکالو له پاره یوې قبیلی دبلـی په‌ځمکو واړول . طبیعی منابع ، ورشو ګانی ځنګلو نه او داوبه خور ډیروسایل اوس هم‌په اکثرو قبایلو کی شریك مال ګڼل کیزی او عامه استفاده ترې کیږی .

واده :لکه چې دمخه موویلی دی‌څومره چې ژوند پر مختګ کـاوه او پیچلی کیده په هماغه اندازه پـه اجتماعی مناسباتو کی تغیرراته او مغلقه بڼـه یی پیدا کوله . دواده‌اصول دویدی عصرپه لومړیو پړاوو نوکی ډیر ساده او بسیـط وو او دمستقیمی موافقی او خوښونی څخـه وروسته په ساده ، مګرمذهبی اصولو سرته رسیده . البته دمور مشری په دوره‌کی حالات بل‌شان ووچې بحث‌یی دمخه تیرشوی دی ، مګر دپلار مشری په عصرکی ډپلار او مور اوحتی ورور موافقه شرط وه اودخوښو نی اوانتخاب په مسئله باندی یوڅه قیود وضع شول . البته دغه قیود بیاهم دومره سخت نه وواود انتخاب‌قطعی خنډ نه واقع کیده .ځکـه چې په دوی کی‌ځینی داسی‌میلی اوجشنونه ووچې هلته به نراوښځی ځوانان او زاړه په ازادانه توګه سره ګډوډګر ځیدل چې ددغو جشنونو څخه یی

ډیر مشهور جشن د «سامانه» په نوم یادیده چې ددغو ځوانانو به خپل ډ یر ښایسته کالی اغوستل اودپیغلواوزلمیانو له پاره یوتر بله دانتخاب بهتر ینه او غوره موقع وه .(۱)

دنوی کال میله هم ډیره پخوانی ده مگر کله چې دوی ډیر وتودو اود استوا کرښی نژدې مدارو نو تــه ورسیدل او ځینی قبایل په سړوسیمو کی پاتی شول دجغرافیایی محیط دتوپیر په اثر په دغو میلوکی یولږ څه توپیر ونه پیدا شول .

دپلارواکی په دوره کی چې دوی دیشین شول اوپه ژوندکی یی ستر اجتماعی اواقتصادی تحولات پیداشول دواده په مسئله کی هم کړکیچونه دو څاره کیدل .

دمور مشری په عصرکی نارینه دښځی کورته راودیده اوپه اصطلاح دطلاق صلاحیت هم دښځی په لاس کی و، مگرورروسته دپلارمشری په عصر کی به ښځه دنارینه کورته راودیده او دولور منحوس دود په دوی کی هیڅ رایج نه وکه څه هم مالی تحفوپه کی اهمیت درلود.دواده اساس په عشق اومینه ټینگ او غایه اوهدف به په کی داولاد پیدا کول وو. بی اولا دی پــه دوی کی دومره لوی غم گڼل کیده چې گواکی بی اولاده میړه او ښځه هیڅ نه لری .په ویدې سرودونو کی دارباب الانواعو څخه ډیره کلکه هیله داولاد ده،اودغه داولادغوښتنی په باب ډیر شفاهی ادبیات اوس هم په اکثرو پښتنی قبایلوکی موجوددی چې دې ته دښځی لمن زرغونیدل وایی . دبیټ نیکه دعا اوهیله کټه متې دویدی سرودونو داولاد غوښتنی د هیلو سره سمون خوری .

په دغه لاندې سرودکی له یوی خوادبشر دیوې طبیعی غریزی دتمایــل ترسیم شوی دی او له بله پلوه دابنکاره کوی چې دښځو په نسبت نا رینه فوقیت او لوړ اجتماعی موقف درلود . سرود دادی :

«زلمیان دپیغلوله آوازسره دومره مینه ده لکه چې رب النوع خپله ستا ینه دبشر له خولی واورې .»

دوی به په ودونوکی خاص دودونه لرل اتنونه ، نڅاوی ، موسیقی اوسندری به په هره ښادی کی معمول رسم او دودو . ښځو اونر ودواړو به په کی گډون کاو ه

مجرد اویلغوز ژوند په دوی کی لوی عیب واو خلکو به ورته پــه سپکه سترگه کتل . لکه چې په سرودکی دواده ضرورت ته داسی اشا

---

(۱)دافغانستان پخوانی تاریخ دکهزادلیکنه .

ره شوي ده ؛«ښځه دسړی له پاره دوېره ضرورده لکه چې ژی دلیندې له پاره ضرورد ه»(۱)

هغه وخت چې په اریایی ټولنوکی طبقاتی تضادونو شدت موندلی نه و ، نود پلار مشری په دوره کی هم یوه ښځه رایج وه ، مګر کله چې طبقات اودولت منځ ته راځی دلویانواو روحانیو نوله خوا دڅو ښځو کول او ساتل رایج شول .په عامو خلکوکی دویم واده ډیره لږاو نادرشو . ښځه به دنکاح دیوه معمولی عبارت نه وروسته چې دمیړه له خوا به ویل کیده کورته راوستل کیده اودکورنی نغری داورنه به یی په داسی حال کی څوځلی ګرځوله چی ښځه به مخکی او میړه به ورپسی روان و .د نغری اور ددوی په نزد ډیر مقدس واو دغو ګرځیدلو لوی فلسفی مفهوم درلود .

سوما ـ یاهوما :

دغه دیوبوټی نوم دی چی اوس په پښتوکی د«اومه» Ouma په نامه مشهور دی (۲). پاڼی نه لری اومنډوکی یی بندونه لری . دبوټی ونه وړه ده اوپه غرنیو سیموکی شین کیږی . دمنډو کومنځو نه ډډوی او دوینی په څیر سور رنګ لری.په فلکلوری طب کی دډیرو مر ضو نو اوزخمونو له پاره استعمالیږی .ددی بوټی څخه په ویدی او اوستایی عصرونوکی یوډول مخصوص شراب جوړیدل چی دوی به دمیلوا وجشنونو او داسی نورو ښادیو په مراسموکی څښل او مستی اوجرئت به یی ورکاوه په دی مشروب کی به نور لبنیات اوخواږه مواد لکه شات هم ګډ یدل او په مخصوصو مراسمو سره به دپیغلو نجونو له خوا دسپوږمی په شپه راشکول کیدل اودریشیا نوله خوابه دسوما دمخصوصو سرودونو په ویلو سره په مخصوصو لوښوکی ټکول کیدل اوبیا به تخمیر کیدل . دامشروب او بوټی په دوی کی ډیر مقدس واو اکثراً دقربانیو په مراسموکی هم تری کار اخیستل کیده . ددې بوټی له پاره یی په همدی نامه یوخاص رب النوع ټا کلی واو دنورو نعمتو نو هیلی به یی هم ورځینی کولی.دسومارب النوع یی دخلکو او نورو ارباب الانواعو ترمنځ دقربانیو او دسوما دشرابو رسو ونکی باله . خصوصا «اندرا» چې د«وارونا» نه وروسته دویم رب النوع

---

(۱) دافغانستان پخوانی تاریخ(۱۵٤)مخ

۲ ـ ددغو بوټی نوم په زړه یونانی کی ـ Ephedra دی په لوید یځو طبی کتابونو کی په همدغه نامه پیژندل کیږی .

واود جنګ ګټونکی اومرستیال بلل کیده دسوما په ذریعه ددوی حامی او مددګار ګرځیده . نودوی به دسوماياهو ماشراب دکوم سیند په غاړه ځښل اودخپلی عقیدی سره سم به یی دهوماپه واسطه داندرا توجه جلبوله.

دسوماشیره به دتخمرنه وروسته دوړینو دستمالو اوصافیو څخه چنید له او بیا په یولوی لرګین خم کی اچول کیده اود پخیدلو اوجوش تر مرحلی پوری به پریښودل کیده کله به چې په جوش راغله اودتخمرموده به یی پوره شوه ، نو په مخصوصو کاسوکی به دروحانیونو په ذریعه ویشل کیده او ټولو به په ګډه دریشی ترلاربښوونی لاندې مقدسی سند ری ویلی اوراز راز دعاګانی او هیلی به یی کولی . دوی به اکثرا دباران غوښتلو مراسم هم دسوما دشرابو په څښلوسره اجرأ کول او غوښتل به یی چې خدایان باید اوس خوشحال شوی وی اودغه لوښی چې موږ په کی دسوما نذرانه ارباب الانواعو ته وړاندې کړه باید چې له بارانه ډک شی لوښی بـه یی تردیره وختـه پـورې په داګ پریښی وواوزریی کورته نه وړل . (۱)

دسوما کلمه چې په اوستاکی هوماراغلی ده عینا همدغه مفهوم لری اودغه مشروب په اوستایی دوره کی هم رواج درلود ، که څه هم په ګاتو نوکی په صریحه لهجه ددې مشروب غندنه شوی ده مګر دزردشتی دین د تحولاتو له امله بیرته مقدس ګڼل شوی اوپخوانی ویدی دود بیرته تازه شوی دی . هوما شراب په اوستایی دوره کی هم مقدس وواو په مخصوصو دودونو سره به دپخوا په شان دغه شراب جوړیدل اوروحانیو نو به پر مخصوصو تشریفاتو سره خلکو تـه ویشل اونذرانی به یی وړاندی کولی . د هـو مـا پـه باب پـه اوستا کـی یـو مخصـو صـه افسا نه راغلی چې داساطیر ولـه جملی څخه ده او دهغوځایو نو نومو نه اخلی چې دغه بوټی په کی شین کیږی . دغه ځایونه ټول په اوسنی افغانستان کی په ډیرکم اسمی تغییرسره اوس هم موجود دی . لـه دې جغرافیایی معلوماتو ځینی داسی اسناد په لاس راځی چی ویدی سرودونه اوزردشتی دین دواړه په همدی خاوره کی پیدا شوی ، روزل شوی او ورو سته بیا شرقا اوغربا نورو اریایی قبایلوته خپاره شوی دی .

په اوستاکی دغه افسانه پـه دی ډول ده ؛

دهوما بوټی په اسمانونوکی ؤ یوګوربت چې سینا نومیده دغه بوټـی یی دهرا برزیتی (هریتی بریزا) Haratibareza

---

(۱) برګزیده سرود هاې ریګویدا ـ۳۰۶ـ ۳۰۷ مخونه

دغره له پاسه کیښود اوله دی لوړوغرونو څخه یی بیا واخیست او په «یوپایی ری سینا ـ دګوربت ترا لوتولوړ» یعنی هندوکش په لوړوغرو نو، ، ستیرا Staera دتیرا په غرونو ، کوسرا دا(دغورد کوراسون غرونه)په پاورنه(پروان)سپی ټاکونا ګیری (سپین غر) اونور وغرونو دپاسه یی خپور کړ . (۱)

په اتهرویدکی ددې ګیاه دشنـــه کیدو ځای «موجاوات» یعنی داوسنی منجان غرچې دبدخشان او نورستان ترمنځ لوړ غـردی یادشوی دی (۲)

امکان لری چې دغه مشـروب داسلام تر راتګه پورې په افغانستان کی موجود وی مګر داسلام دین پـه راتګه سره یی جوړول منع شوی او له منځه تللی وی . دافغانستان په اکثرو تاریخی کیندونوکی یوډول لوی ختین پاخه خمونه موندل کیږی چې اکثرا احتمال لری دهمدې مشروب د جوړ ولوله پاره جوړ شوی وی اونمونی یی په هر ځان کی زښتی ډیری دی

اوس بده نه ده چې دویدی کلتورنه وروسته په خاصه توګه داریا یی قبایلو په مهاجرت یوڅـه رڼاواچوواوو ګورو هغه قبایل چې دغرب ، شرق اوجنوب شرق خواته لاړلڅه نومیدل او څنګه خپاره شول .

له اریانا څخه هند اوفارس تـه دځینواریایی قبایلو مهاجرت اوخپریدل

هغه وخت چې اریایی کوچیو اوپوونده قبایلو داریانا څخه هرې خواته هجرت کاوه پخپله داریانا دهغه وخت مرکـــز ، یعنی لرغونـــی باختر او اوسنی افغانستان کـــی ځای پرځای دایمی اولسونه میشته شوی اونسبتا داجتماعی ژوند ډیر پراوونه یی تیرکړی وو. دغه دایمی استوګن چې عمو مأکروند ګراو دځمکـو مالکان وو دپخوکلاګا نو او ابتدایی ښاری ژوند خاوندان وو . دوی دخپل لومړنی مدنیت اساس په کندوز اوبغلان او دا سی نورو کلتوری اواقتصادی مرکزونو اوسمسورو سیموکی کیښوداود لته یی لومړنی دایمی استوګنځی جوړ کړل اوپه مسلکی کرنه بوخت شو ل ، مګر دتاریخی قراینو څخه داخبره جوته ده چې دغه سیمه دنورو پوو نده اریایی قبایلو معبـــر او لار وه او دمنځنی اسیا څخه وروسته هم د یر قبایل داموسیند څخه را اوښتی دی اوددغو دیشینو قبایلو سره یی جګړی او شخړی راغلی دی . داســی ښکاری چې دوی ددغه مرکز پـه پر یښود لو مجبور شـــوی او دبلـخ دسیند غاړو تـه کوچیدلـــی دی یا

---

(۱) دافغانستان پخوانی تاریخ.

(۲) دافغانستان پخوانی تاریخ

داسی احتمال هم‌شته چې ددغه ځای‌او بلخ‌مدنیتونه سره‌همزولی‌اوهمغاړی دی اوهرځای لومړی دخپلووړ ومرکزونو څخه اداره کیدل ، مګر وروسته چې دبزګر واو پوونده قبایلو ترمنځ‌دبیلتون‌ډیری‌پیړی تیری‌شوی‌دی‌ددغو دووشغلونو دخاوندا نو ترمنځ‌جګړی‌اولانجی پیښی شوی دی اودیشین و اړه حکومتونه ددوی ددفاع له امله په اتحاد او دیوګډلوی قوت په جوړ ولو مجبور شوی دی .

په هر صورت په ویدی زمانه کی که داموسیند نه پورې غاړه‌ساك ، دیر بیکان اوداسی نور قبایل‌پوونده‌وو په څنګ کی‌یی دخوارزم په سیمه کی دکروند وله پاره داوبه خوردیرپراخ او پخپل عصرکی پر مختللی سیستم موجود و . داموسیند جنوبی‌خواته هم همدا حال و ، که له یوې خوایو شمیر زیات قبایل پوونده وو، نوله بلی خوا په لرغونی باختر (کندز ، بغلان ، سمنګان ، بلخ ،شبرغان) اراکو زیا ، دکابل په حوزه هرات ، سیستان او دکندهار دوادی‌په امتدادکی دکروندې مدنیت پر مختګ کاوه اومحلی دیشین حکومتونه اودولتونه جوړشوی اوجوړ یدل.

اریایی پوونده قبایل دطبیعی‌لاروڅخه دخوړ ونو اوسیند ونوپه غاړ واو دورشو ګانوپه امتداد هرې خواته پرله پسی لیږ دیدل اونویو نو یو ځایو نو ته رسیدل .

داخلك یوځل اوپه یووخت روان‌شوی نه دی ، بلکې دسوونو کلونو په‌موده کی په متناوب ډول خپاره‌شوی ، دوی به دموسم په تغیر سره بیرته خپلو لومړنیو ټاټو بوته راګرزیدل اوبیا به‌دموسم په تغیر سره دخپلو مالونو دښی روزنی په خاطربیرته تلل . دهمدې تګ اوراتګ په پیړیوکی به‌ځینی خلك دپوونده توب‌نه پاتی شول اوددیشینی ژوند به یی غوره‌کړ اودزمانی په تیریدوسره‌بـه ځای پر ځای دیو دایمی کروند ګرژوند خاوندان شول .

۱ ـدهند خواته داریایی قبایلومهاجرت :

که څه هم داخبره‌ډیره ګرانه ده‌چې‌په یقینی ډول سره دباختر څخه دار یایی قبایلو یالومړی قبیلی دمهاجرت‌نیټه وټاکل شی ، ځکه چې پوونده قبایل اکثراً په لیږ داوکوچ کی‌وی،نوپوونده قبایـل باختر ته درار سیدو سره سم په‌کوچ اومهاجرت کی وواوپر یو ځای تمیدل، ددوی دمالداری په زیان تمامیده . مګر بیاهم دوی‌دباختر اوهندوکش دغرو په لمنوکی دځو سووکلو نو په موده‌کی خپاره‌شول اودنفوسو او مالونو دډیرښت د فشارله امله هری خواته ولیږ دیدل‌موږ هغه قبایل په دی‌حساب کی نه

راولو چې دلرغونی اریانا یاد اوسنی‌افغانستان په داخلی سیمه کی پاتی شول یوازی همدومره یادونه یی کووچې دکومولارو څخه دباختر نه ولیږ دیدل موږ هغه قبایل مهاجر بو لوچې‌داریانا دپولو څخه دختیځ او لو ید یځ په لور دباندې ووتل اوهلته یی‌نوې او قوی مدنیتو نه تشکیل کړل.

دباختر څخه ددې قبایلو دمهاجرت‌نیټه دمیلادنه مخکی (۲۰۰۰) کلونو په شا اوخواکی اټکلیږی اودهند په لور دنورو قبایلو دمهاجرتو نو پــه نسبت مخکی رسیدلی دی .

دمور خینو داټکل لــه مخی دوی‌په (۱٦۰۰ قــم) په شااوخوا کی داندوس دسیند په غاړو میشته شوی‌وو او دپخوانیو مدنیتو دتماس په اثر یی‌هلته دیوځلاند مدنیت بنسټ‌کیښود(۱)

دهند په لور اریایی قبایل دباختر دشرق اوجنوب اوجنوب غرب په لارو ، درو او خوړونو په غاړ وکرار کرارلیږدیدلی دی . دکابل (کوبها) کرو مــو (کرمــی) ګومل (ګوماتی) راسا(کونړسیند) سوتی (سوات) ارغنداب (سراسواتی) هتومنت (هیلمنــد) دسیند ونو په لار واو درو روان شوی او په دغه هره دره‌کی یی سوونــه کلونه تیرکړی او تدریجاً یی خپلی ورشوګانی پراخه کړی اوودانی یی‌په کی جوړې کړی دی.

دوی لــــه یـــوی خوا په هغه‌اندازه ورشو ګانو ، کڅیو اوسیمو ته اړتیالرله چې دوی ته یی‌کفایت‌کاوه اودخپلو نفوسو اومالونو په تنا سب یی نوې ځایونه اوسیمی نیولی‌نود دوی په لیږدکی هیڅ رازبیړی‌ته ضرورت نه و، له بلی خوا دوی‌په دې نه پوهیدل چې کوم ځای ته به ور سیږی ! مګرنوې ورشوګانی او استوګنځی یی لټول لــه بلی خواد دوی پخپلو منځوکی هم یولړ قبیلوی اختلافات راتلل چې اکثره به دځمکو او ورشوګانو په تصاحب پیښیدل چــی‌دې کارهم دوی ډیر ځنډول .

دریم داچې ددوی دخپل منځ نه پرته په دغو سیموکی یولړ نور قبا یل هم اباد ووچې ددوی نه مخکی‌دغو سیموته راغلی اومیشته وو چې په تاریخ کی دډراویډ یانوپه نامــه بلل شوی دی . ددغوبومی اوسیدو نکو سره ددوی ډیر اختلافات اوجنګونه پیښیدل اویوتربله یی سره په بده سترګه کتل .

که څه‌هم موږ دلته دباختر څخه‌داریایی قبایلو مهاجرت بیانو و، مګر دا یادونه ضروری ګڼوچې وخت په وخت نور پوونده قبایل هم دمنځنی

---

(۱) نګاهی بتاریخ جهان ، جواهرلال‌نهرو.

اسیا څخه داموسیند جنوب ته دمهاجمومهاجرو په بڼه راتلل اوتلل اوکله به دخپلو گاونډ یوقبایلو دفشار په اثردی خوا ته په مهاجرت مجبوریدل چې ددی مهاجرو قبایلو راتگ وروسته دباختری دولت او مدنیت له پاره یو لری سرخوږی جوړه کړه دباختر حکومت هم ددوی د مخنیوی له پاره تدا فعی استحکامات جوړ کړل اودهغو له جملی څخه دډیرو زړو ودانیو پاتی شونی اثار اوس هم پاتی دی چې اغلب احتمال لری چې دکندوز کلمه هم اصلا کیان دیس یاکیان دژوی چې دباختر دکیانی کورنی دحکومت په وخت کی یوه پخه چونې او بالاحصارو. (۱)

اوس خپلی اصلی موضوع ته راځواودهند خواته داریایی قبایلو مهاجرت په لنډه توگه څیړو .

په ویدی سرودونوکی یولړ داسی اساطیری نومونه راغلی دی چې دمرکزی او غربی اریایانو له پاره هم مشخص اومقدس وو اوځینی واقعات یاد شوی دی چې دټولو له پاره هغه وخت گډافتخارات وولکه دیما(جمشید) نوم چی هم په مرکزي اوغربی اوهم په شرقی اوجنوب شرقی اریایانو کی دتقدس مقام لری اوپه ویدی سرودونوکی داسي عبارات راغلی چې هلته یماد مړیورب النوع اوداخروي جهان شفیع اومخور بلل شوی دی .یما په اوستاکی هم دډیرښکلی او دمرکزي مدنیت لومړی موسس اوحتمی دښاری ژوند بنسټ ایښود ونکی بلل شوی دی . دبلهیکا ، بلخیکا بلخ او بلخیان کلمی په ویدی سرودونو کی ځای پرځای یادي شوي دي . اوحتی یوشمیر خلك دبلخیانو یعنی دبلخ نه راغلوخلکو په نامه بلل شوی دی .

ددي له پاره چې دشرقی اریایی قبیلو موضوع په اجمالی توگه وڅیړو ، نواریایی قبایل ختیځ ته دمهاجرت دتقدم اوتاخرله مخی په دریو برخو یشو .

۱ـ دبهاراته گروپ :پخپله بهاراته قبیله چې هم پخپله دنفوسو دډیروالی له کبله ډیره قوی وه او هم دمتحد ینو قبایلو په موجودیت سره ډیره پیاوړي وه اولومړی قبیله وه چې داریانا دسرحد ونو څخه اوښتی اوداندوس (سند) دواړ وغاړوته ورسیده او دویدي سرودونو وروستی اکثره برخی په همدی قبیلی پورې اړه لری .دي قبیلی دهنددهغه وخت اکثره شمال اوشمال مغربی برخی ونیولی اودهغه ځای دبومی اوسیدو نکوسره یی څوسوه کلنی پرله پسی جگړی اوشخړی هم راغلی دی . همد

۱ـ امکان لری دکندوز کلمه (کند+یز) وی چې (کند) دښار په معنا ساکی کلمه ده اودیزـ دیس =سیمه ده

غه قبیله وه چې لوړ اجتماعی تشکیلات اواقتصادی پرمختګو نه یی په برخه شول اودباختر ددولت نه وروسته لومړنی قبیله وه چې دنورو قبایلو په نسبت په کی دمخه اجتماعی طبقات اوتضاد ونه دوخاره شول اودزمانی په تیریدو سره مختلف طبقات اوکاستونه په کی تشکیل شول .ددې قبیلی سره د«سرنجیانأ »قبیله هم ملګری او متحده وه .

۲ـ یادو ګروپ :په دې ګروپ کی پنځه قبیلی شاملی اوسره متحدی وی چې نومونه یی دادی : یادو ـ توروواشا ـ درهیو ـ انو ـاوپورو ـ دا پنځه واړه قبیلی دپنګه جانا یعنی پنځوقبیلوپه نامه هم شهرت لری.(۱) ددې ګروپ اودبهاراته ګروپ ترمنځ کله ناکله جګړې اواختلافات هم پیښ شوی دی .دې ګروپ دبهاراته ګروپ نه وروسته دباختر دورشوګانو څخه مهاجرت کړی دی .همداعلت دی چی دبهاراته قبیلی په ځینو سرودونو کی دغه ګروپ غندل شوی اودوی یی دبی دین په نامه هم یادکړی دی .

۳ـ دپکتها یاپښتا ګروپ : په دې ګروپ کی هم پنځه قبیلی شاملی دی ۱ـ پکتها ۲ـشیوا ۳ـ بهالانا ٤ـالینا ٥ـویشانن (۲)

په ویدی سرودونو کی ددغو اکثرو قبایلو یادونه شوې ده اویا دوګروپ دنویو راغلو په نامه یادشوی دی اوداسی ښکاری چی حتمأ وروسته ورغلی دی . مګر دپکتهاګروپ قبایل دومره وړاندې لاړنه شول او زیا تره یی داریانا دننه اومنتهاداریانا سرحد ونوته ورسیدل او په دغو سیمو کی خپاره شول .

زما پـه شخصی عقیده د«شیوا»قبیله دساك قبیله ده چې دتاریخ په اوږ دوکی دغه دوه قبیلی سره تل یو ځای متحدې اویو ځای راغلی دی له بلی خواد اوسینو نویو نظریا توله مخی چې دژبپو هنی اوتاریخ په قوا عدوبنادی داسی ښکارې چې ددغو دواړ وقبایلو ژبه یوه وه . اوس هم چیری چی ساك دی ژبه یی پښتوده اودګومان له مخی داسی اټکل کیږ ي چی دغه قبایل ترډیرو وختو نوپوری پوونده وواویوتربله سره په تماس کی وو. که ځینو لیکنو تـه اعتبار ورکړ و، نوساك قبایل هم د پښتنو غوندی خپاره وو اوپه ویدی سرووونو اویا دنور وجغرافیه اوتاریخ لیکونکو په اسناد وکی دپکتها قبیلی ذکر راغلی دی ، یوازې د یوی برخی ذکر یی راغلی او په ټولو پښتنو نه اطلاق کیږی داداجتماعی څیړنو له مخی هم سمه ښکاری چې پوونده قبایل تل سره په یو ځای کی نه وی ، بلکې

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی

(۲) همدغه اثـــر

هری خوا ته خپاره واره شوی ژوندکوی .
لکه څرنګه چی په بهاراته ګروپ کی بهاراته قبیله مهمه وهمدا رازپه یادو ګروپ کـــی یادو اوتور واشاقبیلی مهمی اوستری وی . په همدې ډول په پکتها ګروپ کی د پکتها او«شیوا» قبایل ډیر مهم اوډیروو . د شیوا کلمه ښایی چی دزمانی په تیریدو سره شیواك شوی وی اودعبارتو نود او ښتون نه وروسته دشیواك څخه ساك جوړ شوی وی .
له بلی خوادیادو ګروپ اوپکتها ګروپ یو تر بله سره نسلاً نژدی(۱)اودبهاراته ګروپ څخه نسبتاً لری وو. له بله پلوه په ویدی سرودونو کی یادوګروپ قبایل دپار سوا قبیلی سره یوځای اونژدی ښودل شوی دی ، نوله دې څخه داسی ښکاری چی پښتانـــه هم اوساك هم دبهارتیا نوپه نسبت دپار سیا نو سره نژدی او خپلوان وو .(۲)
داخبره اوس دژبپو هانوله خواهم تثبیت شوی ده چی پښتو ژبه دشر قی ، یعنی هندې زړواریایی ژبوپه نسبت دغربی لرغونو اریایی ژبوسره دخپلوی نژدی روابط لری .
دختیځ خواته داریایانو دمهاجرت په برخه کی غوره منبع پخپله ویدی سرودونـــه اوځینی نور خپاره وارهمنابع دی چې دویدی سرودونو پـــه نسبت دومره معلومات نـــه لری . دتاریخ څیړونکو په عقیده اریایی قبایل دهند خاورې ته د(۱۶۰۰ق ـم)په شااو خواکی رسیدلی دی ، څـر نګه چې اریایان زیږه ، دطبیعت دهرراز سختیو اوکړ اوونوسره روږد دی اوپه جنګ کی ماهران وو ، نوپه خپل قوم اوغیرت ډیر مغرور او اوسرکښ وو. داو ارو ځمکو خاوندان چې ددوی په نسبت متمدن اوامن خوښوونکی خلك وو ددوی دیر غلونواو مخامخ کیدو قدرت یی نه درلود ، په ورو ورویی ځایونه دوی ته خوښی کول اواریایان یی پر ځای میشته کیدل . په اریایی ویدی سرودونوکی ددغو شخړ واو جنګو نو ډیـــر مظاهر او اسناد موجود دی چې دهغو مخالفو بومی خلکو ډیرلوی عظمت ، قدرت او تمدن ترې څرګند یږي .
په ځینو سرودونوکی ددوی دخطالسیر ښه څرك اواسناد موجود دی لکه چې په یوسرودکی چې دوی سندهو (اندوس) ته خطاب کوی داســـی

---

(۱)په هغه جګړه کی چـــی دلسو ملکانو په جګړه مشهوره وهدغه وروستی دوه ګروپونه چی مجموعاً لس قبیلی وی دبهاراته قبیلی پـــه خلاف سره متحدی شوی وی .
(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکی ـ۱۱۹مخ

وایی :
«ای سندهو !ته لومړی خپلی څپه وهونکی اومستی اوبه دتریشتاما ،را سا ، سوتی اودکوبها » دسیندونوسره ګډوی او بیا پخپله عراده «ګومانی» او«کرومو» راکاږی (۱)یالکه دغه بل سرود چی «ماروت» د بادرب النوع ته په خطاب کی ویل‌شوی دی «ایماروته !له اسمان یاد هواله منځ یاله نژدې ځایونو څخه راوالوزه او راشه اوله موږ څخه ډیر زرمه ځه اسا (کونړسیند)کرومو(دکرمی سیند یادره) انی‌تابها ،کوبها (کابل سیند) مه پریږه ده‌چې تاوځنډوی یاد «سارایو» مست سیند ستالا ره بنده کړی .....،) (۲) په ځینو ویدی سرودونوکی د«سراسو اتی» سیند یاد شوی دی او پوهان‌عقیده لری چی‌ددغه سیند کوم‌اوصاف او څرنګوالی چې په ویدی سرودونوکی راغلی دی هغه حتمأدهلمند مست سینددی اوځیړونکی عقیده لری چی‌اریایان یوازی دختیځ لورته نه ، بلکی داریانا دجنوب لورته یی‌هم‌مهاجرت کړی واو دهلمند اوارغنداب دمستو سیند ونو په غاړ واو کڅیوکی‌یی څوپیړی تیرې کړی اودبلوچستان دهغه وخت دبومی خلکو سره دشخړواولانجونه وروسته دهند خواته لیږ دیدلی دی .

لکه څرنګه چې دمخه وویل شول‌چې دمهاجرتو نو نیټه مود(۲۰۰۰ق‌م) څخه پیل شوی وګڼله اوهند ته موددوی رسیدل د(۱٦۰۰ ق‌م) په‌حد و دودو کی وټاکه نوطبعأ (٤۰۰) کاله‌دوی دافغانستان په غرو ، کڅیو ور شوګانو درواو دخوړ ونوپه غاړو تیرکړل چې یو شمیریی همدلته ځای پر ځای میشته شول اواوس هم اوسیږی‌مګر یو شمیریی داریانا دحدودوڅخه واوښتل اودهند په‌هوا رومیدانوکی‌یی نفوذ وکړ اوهلته دیو ځلانده تمدن خاوندان شول . دریګوید په یو سرودکی‌دبومی خلکو سره دجنګ صحنه اودهغوی قدرت داندر ارب النوع له خولی داسی تمثیلوی :

«ما ځمکه اریه ته‌و بخښله اوباران دهغو کسانو له پاره ـروم‌چې ماته نذرراوړی ! ....

دسوما په مستی کی می‌د «شمبرې» Shambara

(۹۹) کوټونه وران کړل ـ سلم‌کوټ‌می هغه وخت وران کړ چې د«دیوداس

---

(۱) دافغانستان پخوانی تاریخ .
(۲) دافغانستان پخوانی تاریخ .

اتهتکوه» سره‌می‌مرسته کوله ....»(۱)
دیو داس دبهاراته قبیلی مشرو اودسو داس دکورنی ثخه و . سوداس دبهاراته قبیلی هغه مشرؤ چې دده‌دپلویانو اومخالفانو تر منځ د«راوی» سیند په غاړه یومشهور جنګ پیښ‌شوی اوداجنګ پخپلـه داریایی قبا یلو په‌منځ کی ډیرلوی اومهم جنګ‌دی چې دلسوملکانو په جنګ شهرت لری . په ویدی سرودونوکی ددغی‌جګړې علت اوشامل‌اړخونه یاد شوی دی .موږدلته دپیښی دعلت ثخه تیریږ واوزموږ له پاره اهمیت نه لری ، مګر دهغو قبایلو دنومو سره علاقه لروچې په دغه سرودونوکی یادشوی دی ، ځکه چې‌دغه قبایل اوس هـم‌زموږ په ګران هیوادکی شته اوزموږ داجتماعی تاریخ‌له پاره‌ډیراهمیت لرې.

ددې قبایلو دتشخیص په برخه کی‌داخلی او خارجی څیړونکو یـو ثـه تحقیقونه کړی دی ، مګر بیاهم پـه یقینی توګه دغه نومو نه اوځایونه یی پوره تثبیت شوی نه دی‌او دلته یی دنومود فقه اللغت ثخه تیریږو ، خود غومره وایو چې:

داقبایل دباختر ثخـه دشرق ،جنوب غرب او جنوب شرق خواته په بیلو وختو نوکی روان شول اودکـرنی چارې‌یی په هـدې‌ملك کی دپوو نده توب‌په ثنګ کی پرمخ بوتلـی‌اوپوره مهارت یی په کی پیدا کړ .

په دغه قبایلو کی داریانا پـه‌حدودوکی دننه اجتماعی طبقات پیدا شوی نه وو ، مګر کله چی دهنـدخاورې ته ورسیدل اودهغه ځای د بومی خلکو سره دډیرو جنګونو ثخه وروسته دپراخو ځمکو خاوندان شول او اجتماعی مختلف طبقات په کی پیداشول چې پوهانو دغه اجتماعی طبقی ثلور ګڼلی دی :

۱ـ روحانیون یاریشیان

۲تور کښبان ، یااشراف‌حاکم‌طبقات

۳ویشیا یادکسب اوحرفی خاوندان

٤ ټیټه یا شوډ ره طبقه .

۱ـ دروحانیونو وظیفی :

که چیری ویدې سرودونه په غوروکتل شی ، نو اکثره یی‌په قربانی ډك دی اوهر ثوك دخپلی یوې‌هیلی‌او ارزود سرته رسو لوله پاره‌مجبور ؤ چې‌دخپل توان سـره سـم قربانی‌ورکړی . فردی‌اوهم اجتماعی قبیلوی

---

(۱) ګزیده سرودهای ریګویدا (۹)مخ

قربانی موجودې وی . داقربانی به دیو خوړ یاسیند په غاړه دروحانیو نوپه ورسطه اولارښوونه اجرا کیدل. دسوما شراب به هم روحانیو نو تر تیبول اوویشل . داور بلول په هره قربانی کی حتمی وو، ځکه چې دوی فکر کاوه اګنی رب النوع (داورخدای)چې دنورو معبودا نواو انسانانو تر منځ واسطه ده دغه قربانی نور ومعبود انوته رسوی اوهغوی خوشحا لیږې اودهیله من یاارزو منوهیلی سرته رسیږی . لـه بلی خوا ویدی سرودونه چی د روحانیو نولـه خواویل شوی دی په نذراو قربانی ډیرتا کید او ټینګار کوی اوپه دی کار کی ددوی مادی اومعنوی ډیـر فواید او ګټې وی . دزمانی په تـیر یدو اوداجتماعی او اقتصادی حالاتو په پـر مختګ سره ددغو روحانی ډلو څخـه یوقشر اوطبقه جوړه شوه.روحانیون دهغه وخت دټولنی په ټولو چا روکه بنادی به وه اوکـه ویر بیخی شا مل او مسلط وواوټولی چاری ددوی په لارښودنه اومشوره کیدلی ، تر دی پورې چی دوی به دراجاګا نواو امیرانو دمشاورینو حیثیت هم درلوداودروحا نی چارونه پرته یی په سیاسی چاروکی هم کار درلود .

په پای کی دوی دپراخ اوعظیم قدرت او ثروت خاوندان شـول . در یګوید په ځینو سرودونو کی داسی یالکه دغه بل سرود چی د «ماروت» عبارات هم شته چی دوی دځانو نوله پاره ثروت ، دامیرانو له پاره شهرت او جلال اودعوامو له پاره روزی غواړې. روحانیو نو پخپله بی دمذهبی چار و څخه بل کار او کسب نه درلود اوداشرافو اونجباؤ په څنګ کی یی په بیغمه دټولنی دغوره تولید اتو څخه استفاده کوله . په ډیرو ویدی سرو دونوکی دغنیمت اودو لجی د مالونوپه برخه کی ډیری یادونی شوی دی او داسی تري څرګند یږی چې ریشیانو به اشراف تل د جنګ له پاره تحر یکول او لمسول او دارباب الانواعو څخه به یی دوی ته مرسته اوتعاون غوښته . کله به چی دوی دښمن مات کړ ، نود غنیمت اودو لجی مالونه به یوازې دروحانیـو نو اواشرافو تـرمنځـه ویشل کیدل ، دداسی ډیرو امتیاز ونوله کبله له دوی نه هم داشرفو تر څنګ دټولنی یو بډای او شته من قشر جوړ شو .

۲ـاشراف یاامیره طبقه :

دغه یوه سیاسی طبقه وه چې دغه وخت په دوی کی هغه پخوانی دیمو کراسی چې هرچا به خپل کار پخپله کاوه او رئیس یامشر بـه دقبیلی یا قوم دافرادو په واسطه مستقیم یادلو یو جرګو دغړو په واسطه ټاکل کیده له منځه تللی وه ، ځکه دوی دقبیلوی ژوند څخه ښاری اودپوونده

توب له حالت څخه دګڼې اومتمدنې ټولنې دتشکیل حالت ته نرقی کړی وه.او لسی قدرت لکه دپخوا غوندې په اولس کی خپورنه و ، بلکې تمرکزیی پیدا کړی ؤ اودعوامو څخه خواصوته منتقل شوی ؤ . اجتماعی تشکیلاتو داقتصادی پر مختګ په اثر ورځ په ورځ وده موند له اواشراف په ارثی توګه دټولنی نــه لوړاو اوچت مقام ته رسیدل ، تردې پورې چې ځینــو شاهی کورنیو دروحانیو نوپه مرسته داسی اساطیر دځانونو له پاره جوړ کړل چې دشاهی کورنی دنسب شجره به ددوی ارباب الانواعو تــه رسید له .امیرانو اواشرافو ددیموکراتیک او مشروط مشر توب نــه دمطلقیت او دیکتاتوری مقام ونیو او دعواموهرڅه دخواصولــه پاره قربان او ځار شول . دې طبقی هم دکار او کسب سره کومه علاقه نه درلوده ، بلکی دژوند انه چاروته لاس ورووړل یی دځانونو لپاره شرم اوعار ګاڼــه .د دې دواړو طبقوټولی چارې به ورته مریانو اووینځو سرته رسولی اودمر یانو قشرخپله ټوله خپلواکی او ازادی له لاسه ورکړې وه .

۳ـ دکسب اوهنر خاوندان :

دخلك هغه صنعتګران ووچی خپلی ټولنی تــه یی راز راز لاسی وسایل لکه دکروندې سامان ، داغوستلو له پاره رختونه ، فلزی الات ، دترکانی محصولات اودهغی ټولنی ټول مایحتاج افزار او اسبابونه چوړول .

داخبره باید هیره نه شی چې اریایی قبایلو تردغه وخته پوری پومبه نه پیژند له او داغوستلو له پاره یی دحیوانی محصولاتو ، یعنی وړیو او پــو ستکو څخه کار اخیست پومبــه دهندد پخوانی تمدن په مراکز ولکه هرپه او موهنجو دیروکی ډیر پخواپیژندل شوې وه اود استفادې تاریخ یی دځینو پوهانو داټکل پر خلاف دمصر څخه ډیر پخوانی دی . اریایی قبایلو هم دپومبی سره دبلدیت پــه مرسته داغوستلواونساجی پرمحصولا توکــی ډیرپر مختګ وکړ اوراز رازنځی ټوکران یــی جوړ کړای شول . په لومړ نیو ویدی سرودونو کــی دنخی ټوکرانو هیڅ یادونه نشته او دوړینو تــو کرانو یادونه کوی اودسوماد شرابوپه تصفیه اوځبیښلوکی دوړینو شمکلیو «دغوړیود چنولو له پاره کوچنی ټوکر»او صافیو یادونه کوی اوروحانیو نوبه هم دسوما شرابو دجوړولو او تصفیه کولو په مرا سمو کی دغواګانو پوستکی اغوستل.

داهم باید له یادونه باسو چې دغوایا نود وژلو دتحریم مسئله یوه اجتماعی او اقتصادی پیښــه وه اوعلت یی داوچې کروندې دپرمختګ په

اثر غوایانو ته ډیر ضرورت واوغوایان دیوی او زراعتی چاروله پاره‌یوه محرکــه قوه وپیژندل شوه او ددې‌اقتصادی عامل داغیزی له کبله دقر بانی په مراسمو کی‌هم تحول پیداشو.

دشپنه توب اوپوونده ګری په‌عصرکی دغوایانو قربانی نه یوازی‌دا چې منع نه‌وه ، بلکی دارباب الانواعودخوشحالی له پاره یوه‌مهمه ذریعه وه او دوی به‌دخپلو فتوحاتو اوبریالیتوبونونه وروسته هغه مالونه‌او غوایان په‌خاصو مراسمو قربانی‌کول‌چی دمقابل لوری نه به یی‌راوستلی وو او غواګانی به یی‌داجتماعی مراتبوپه سویــه سره ویشلی کسب ګری طبقی هم‌دومره اهمیت نه‌درلود ،مګرداچې یوه ضروری ډله وه‌بیا هم‌ور ته دومره په سبکه سترګه نه کتل‌کیدل .

۲ـ شوډرا ـ یاسوډ ره ډله :

دا طبقه دټولو طبقاتو څخه خواره‌اوبیوزله اوهغه بومی خلك وو چې‌دفا تحواریایانو له خوا نیول شوی اوټولنه یی داریایانو سره په جګړوکی شیندل شوی اودماتی‌سره‌مخامخ‌شوی‌ددوی ځمکــی اوجایدا دونــه یی ور څخه ونیول او ددوی‌څخه یی‌دیونا، نی ټولنی په څیر دمریانو او وینځو کار اخیست او داکار حتمی دی درجی‌ته ورسید چی کله نا کله به دیورا جــا پــه مرګ ســره مــریونه‌او وینځـــی هـــم دده دنــورو مــالــو نـــو پــه څــیر ورسره یوځـــــای وژل کـــیــدل . ددی طبقی څخه که څه هم‌ددې اریایی ټولنی ټول ثقیل اودرانه کارونه دوی اجرأ کول ، بیاهم کرکه کیدله اوتماس او نژدیکت ورسره اکیدأ منع وؤ. دغه تاثیرات دهند په‌ټولنه کی‌د (۱۹٤٥)ع کال پورې پخپل شدت‌او قوت پاتی وو ، مګر مهاتما ګاندی دغه بندړمات کړ اوټول یی یوشان‌ور ونه وبلل ده به پخپله هم‌ددوی سره‌یوځای ګوزاره کوله او ورسره‌دمینی او الفت اظهار به یی کاوه .

دغرب خواته مهاجرت

که څه هم ځینی پوهان دغرب خواته داریایی قبایلو دمهاجرت په لړی کی یوازی «ماد» او «پارسوا» قبایل‌دمخه یادوی ، مګرخبره داسی نه‌ده

، بلکې یولړ نور قبایل‌چې حتی ددې‌قبایلو نه قوی اوزور ور وو امکان لری چې دغه دوه‌قبایل دهغوی دفشارله کبله دلرغونی پارس یااوسنی‌ایر ان‌ته په کوچ‌او کډه‌کولو مجبورشوی‌وی . دغه قبایل دتمدن اوکلتور له مخی دباختری ، ماداوپارسوا اوختیځ‌اریایی ګروپ په نسبت وروسته پاتی وو ، مګردبشری قوت له مخی ددغوټولو قبایلو څخه کم او وروسته نه وو ، بلکی په تاریخ‌کی یی ځای‌پرځای داسی پیښی منځ ته راوستی‌دی چې ددغو قبایلو سره داختلافی‌مسایلوپه ترڅ کی دمخامخ کیدو په اثر یی‌دغه نور متمدن قبایل مات کړی‌اوحتی ایل کړی هم دی ، مګر څرنګه چې دوی ترډیره وخته پورې پوونده‌وواو مرکزی‌دیشین‌اجتماعی تشکیلات او منظم کلتوریی نه درلود ،نوددوی‌خپل لیکلی اثار یا هیڅ پاتی نه دی یاهغه څه چې پاتی شوی‌دی دنشت‌سره برابر دی . نورو ګاونډ یوقبا یلو په خپلواثاروکی ډیر غندلی دی‌او حسودانه عبارات یی دشدید مخا لفت څرګندوی دی دغه قبایل اکثره‌دپارتیانا او ماورأ النهر خلك اواو سید ونکی دی چې‌د تاریخ په اوږدوکی هری خوا ته خوزیدلی دی .

دتاریخی اسناد وڅخه چې ډیرکړکیچن او الول دی داسی څرګندیږی چې هیڅ قبیلی کوم‌مستقیم خط تعقیب‌کړی نه دی اودزمانی دغورځو پرځو په دوران‌کی‌یی مختلف حالات اوپیښی‌لیدلی دی اویوه قبیله کله څوځایه شوی اوپه بیلو جهتونو تللی ده .البته دابیلتون ددوی دیو اقتصادی حیاتی او اجتماعی ضرورت له مخی‌شوی چی اوس یی‌موږ کټ مټ‌نه شو تصویرولای .کله یوه قبیله دبلـی‌قبیلی دفشار په اثر دیو ځای پریښو دلوته اړشوی او یایو وړوکی مدنیت‌دنورو قبایلو له‌لاسه تالا ترغی‌شوی او ځای یی نورو قبایلو نیولی دی . کله یوه قبیله‌دبلی له خوا مغلو بـــه شوی لیدل کیږي مـــګر بیاڅه موده وروسته ورڅخه یوه حاکمه او مقتدره قبیله جوړه شوې وی .

لکه څنګه چې دباختر څخه دختیځ‌او جنوب خواته اریایی قبایلو پـــه مهاجرت پیل وکړ په همدې ډول یی‌غرب ، شمال اوشمال غرب‌او جنوب غرب خواوته په مهاجرتو نو پیل وکړاو پوونده قبایل‌ورځ په ورځ له‌خپل اصلی اولرغونی ټاټوبی (باختر) څخه کوچیدل . ترکومه ځایه پورې چې تاریخی اسناد زموږ سره مرسته کوی‌دغرب خواته د«ماد» او«پارسوا» قبا یل شهرت لری اود باختر څخه لومړی‌دجنوب ، جنوب‌غرب او بیا دغرب‌په لور لاړل . داقبایل هغه وخت چې‌دمرکزی اریایانو له‌خواپه بلخ‌کی‌دتمدن او کلتور یوپراخ او منظم مرکز جوړشوی ؤ لاپوونده اومهاجروو اوکوچی

ژوندیی درلود چې دهمدی کو چونوپه لړکی لومړی دجنوب غرب خواته لاړل اودپارو پامیزاددغرونو په لمنواوکڅیوکی خپاره‌شول اودسوونو کلو نو په موده‌کی یی دمالداری په څنګ‌کی ابتدایی کرونده هم زده‌کړه .دې قبایلو هم دشرقی اریایانو په څیـردسیند ونو اوخوړ ونو غاړی‌او طبیعی معبرونه تعقیب کړل . داریانا جنوب‌ته ،یعنی دهیلمنداوارغنداب دسیمو نه وروسته دفراه‌رود ، خاشرود اوهریرود له لارې دلوط ددښتی دطی کولونه وروسته داوسنی ایران مرکز اوشا اوخوا سیموته ورسیدل .

داامکان ډیر موجود دی چې دغه قبایل د«اوسیتی =ساکو» ، پهلوا ، پښتنو ، پارتیانو اوارمنی قبایلو دفشار له لاسه تدریجاً داریانا څخه په وتلو او کډه کولو مجبور شوی وی، ځکه هغه وخت چې دوی پارس ته رسیږې ددوی اودباختر ددولت ترمنځ دغه سیمی اوورشوګانی دپاسنیو ذکر شویو قبایلو په لاس کی وی اوځای پرځای یی جلامد نیتونه تشکیل کړی ووچې کله ناکله به‌د باختـرلرغونی مدنیت ورڅخه په تنګ ؤ ، داړی اویر غلونـه به یی وربانديکول . ددغو قبایلو دحملو څخه داسی څرګند یږې چې ددوی څخه یومقتدرقوت جوړشوی واو دقدرت له مخی یی دباختر دولت سره سیالی اورقابت کاوه .

له بله پلوه که چیری ایران ته دماداو پارسو اقبایلو دورتګ نه د مخه دځینوهغو قبایلو نومونو وګوروچې دهمدې‌قبایلو دفشارپه اثردځمکی پریښود لو اووروسته ددوی ددولت‌دتشکیل په وخت کی اطاعت اوغاړه کیښود لوته مجبورې شوی‌دی ، نویوه قبیله د«کاسیانو»په نامه مشهور ه وه اودغه قبیله اکثر تاریخ پوهان‌اریایی بلکې پښتنو سره نسلا مشتر که قبیلـه بولی .نو که چیری دااحتمال درست وی نود دغو قبایلو نه پخوا دهندې قبایلو سره همزولی اریایی قبایل داوسنی ایران خاورې‌ته رسیـدلی وو او ماد اوپارسوا ددویم‌مهاجرت خلک‌دی . ددغو قبایلو پـه ورتګ سره دنورو قبایلو اثرات بیادتاریخ په پاڼوکی ورك شوی اوله منځه تللی دی .

مادا وپارسوا قبایل هغه وخت چـی‌داوسنی ایران‌خاورې‌ته ورسیدل‌ډیر ضعیف اوډیره موده دآشوریانو (داوسنی عراقی سامی نسله خلك‌وو) تر فشار او اثر لاندې وو .

پوهان ایران ته دماد اوپارسواقبایلو نیټـه د(۱۳۰۰ ق‌ـم) وخت ښیی چې هغـه وخت دوی دپوونده‌وپه بڼه هلته رسیدلی وو اومالونه یی‌درلودل . که څـه هم اریایانو دهغه وخت‌په تاریخ کی هیڅ غیر ار

یایی قوم ته ایل‌شوی نه دی اوکــه چیری وربانديې دبل‌قوم له خوا فشار راغلی دی‌نوفورأ یی‌هغه ځای‌پریښی‌اوبلی ځواته تللی دی ،مګردا دوه لومړی اریایی قبیلی دی چې دپردیواطاعت ته غاړه ږدی‌اودآشو ریانوظلم اوتیری تــه سرونه ټیټوی . امکان‌لری چې ددوی دبیرته راتګ مخــه هغونورو اریایی قبایلو نیولی وه‌چې‌دهغودلاسه داریانا دخاورې په پر یښود لومجبور شوی وو اوددغومقتدرو قبایلو دموجودیت له امله به بیر ته دختیځ لورته راتلای نه شول .

ددی سره آشوری نسل دومره‌ګډشو او اغیزه یی وربانديې وکړه چې حتی ډیرو مورخینو یوقوم اونژاد هم‌بللی دی . دهغوی کلتور اوژبه او حتی نسل سوچه پاتی نه شول اوتراوسه پورې هم‌ددوی اودسامی‌قبایلو یوپه بل باندی متقابل اثرات څرګندی اوبیلګــی یی موندلی کیږي .

" لومړی قبیله ې ځان‌یی داشوریانودمتابعت څخه خلاص کړاو خپلواکی یی واخسته مادی قبیله وه‌او پارسواقبیله یی هم حاکمیت ټینګ‌کــړ .د (۲۰۰)کالونه وروسته پارسوا قبیله ښتلی شوه اودقدرت واګی یی‌پــه لاس‌کی ونیولی . موږ دلته‌ددې نه‌زیات دغه مهاجر قبایل نه څیړو او خپل اصلی مقصد ، یعنی دمرکزی یابلخی اریایانو په څیړنه پیل کوو :

مرکزی یاباختری اریایان

داکثرو غربی او ایرانی مورخینوپه منځ‌کی دغه‌دودبیخی‌رواج موندلی دی چې دنړی داریایی توکم دڅیړنی‌په پیل‌کی خبره‌د «مادی»او «پارسی» قبایلو څخه پیل کوی اواکثره پخوانی کتابونه ددغه توکم مسقط الرأس په غلط ډول دخپل اصلی ټاټوبی څخه ډیر لیری‌داسی‌ځای کی‌لټوی‌چی هلته ددغه توکم‌اثار دمیلادڅخه دیوزرکلونود شااو خوا څخه مخکی هیڅ‌نه موندل کیږی . کله چې داخبره ددوی پــه ذهن کی ومنل شوه چې داریایی تو کم لومړی ټاټوبی داوسنی ایران خاوره وبولی ، بیا دهغو ټولو ځمکنیو اسماو دجغرافیایی موقعیت دتعین‌په برخه کی دیولړ پراخو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ شی او ددغــوسیمو دټاکلو له پاره به‌دومره لیری فرضیی اوقیاسو نه په کاراچوی چې‌هیڅ راز منطقی تسلسل اواجتماعی پیوند به‌نه لری .

زما په‌عقیده داټولی ستونزی‌دوی‌ته دهغه لیکنو څخه راپیدا شوې‌چې دپارسواد قبیلی‌دهخامنشیانو په‌دوره‌کی‌چې هغه وخت داریایانو یوازینی قدرت ګڼل کیده ، څو یونانی لیکوالو او مورخینو دهغوی په برخه کی

لیکنی کړی اودهغو دربارونو عظمت‌اوجلال یی ترسیم کړی دی له بلـه پلوه دپارس اوسنی نوم چې‌ایران‌دی‌او په همدی روانه پیړۍ کی وربا ندی ایښودل شوی دی دتوکم پیژندونکو اوتاریخ پوهانو دمغالطی سبـب شوی دی او دوی ګومان کړی دی‌چې‌ګوندې دادهغی لرغونی اریانا یاارانو یج پاتی شونی یادګاردی ، حال‌داچې‌دغه نوم دومـره سابقه نه لری او دشلمی پیړۍ مولوددی او زموږ سره‌دپخوانیو تاریخونو په بناکافی اسناد شته چی اریانا دهمدی زمه وږدخاوری‌یو لرغونی نوم ؤ .اواریانا ویجه هم زموږ په غرنیو علاقوکی‌غالباً داوسنی‌بدخشان اودشا اوخواد کومی سیمی نوم دی . په شاهناموکې : دایران‌نه‌مقصد هماغه لرغونی اریانا ده چـې مرکزیی بلخ دی .

له بلی خوا دهخامنشیانو په هغوجعلی شجرة الانسابوکی چـې ددوی مقصد تـری دخپل نسب لوړ والی ؤاکثرویی ځانونه دهغو بلخـی شاهی کورنیو دلویو او مقتدرو شاهانـواحفاد او زوزاد بللی دی چی اساطیر یی داکثرو اریایانو که‌شرقی وو اوکه غربی ، ټولو په یادوو . اودغه وخت لیك‌او کتابت‌پوره وده‌کړی‌وه .هخامنشی امیرانو دخپل وخت دا عما لو کتیبی لیکلی دی چې دغه وخت‌دهغـی زمانی سره متصادف دی‌چې د بلخ مرکز دګاونډ یو اریایی قبایلودقدرتونو له لاسه ضعیف شوی او پخوانی قدرت ورته پاتی نه ؤ . ددغوقبایلو قدرت دومره ؤچې دهخا منشی کورنی لوی فاتح کوروش که‌څه هم ډیرلیری ملکونه فتح کـړل مګرپه پای کی دساکی قبایلو له‌لاسه ووژل شواو هخامنشی عسکر یی‌تالا ترغی کړل .

څرنګه چې دلرغونی باختر دلومړنی‌تمدن دبنسټ کیښودلو اوبیاو ده‌کو لو په عصر کی لیك او کتابت موجودنه ؤ او ددوی قوانین ، عقاید ، فو لکلور اودودونه په شفاهی توګـه ددوی ترمنځ نافذ وواوسینه په سینه داسلافو څخه اخلافوته منتقل کیدل‌چی ویدی سرودونه یی یوپاتی شونی یا ګاردی ، نودهغه وخت‌زموږ سره‌اوس‌کوم لیکلی اسناد اومدارك‌نشته چې دهغوپه رڼاکی دلرغونی اریایی‌تمدن په برخه کی مستقیم اکاډیمیك مطالعات اوڅیړنی وشی . موږدلتـه‌مجبور یو چې پـه‌هغو اساطیر واوا فسانو اتکاوکړ وچې‌په لرغونـو اوستایی اوویدی اثاروکی پاتی دی . دغه لیکنی که څه هم دهغه وخت‌دذهنیت سره سم افسانوی اوماورأا الطبیعی رنګ لری ، مګر بیا هم که‌چیری دیو واقعیت په سترګه ورته وکتل‌شـی نودومـره موادتـری‌ر اویستل کیدای شی چې زموږ دلرغونی خاورې دمدنیت‌په‌خطالسیر اوانکشاف‌باندی پوره رڼا اچوی.

په ویدی سرودونو کی داسی ډیرمواد موندل کیږی چې زموږ دلرغونی خاورې دپخوانی مدنیت دبیلګو څرګندونه تری کیږی اوداسی ډیرنومونه اواعلام په کی راغلی دی چی داویستایی نومونو موجودیت او واقعیت ته قوت ورکوی . که څه هم په ویدی‌سرودونو کی‌لومړنیو اریایی امیرانو ته درب النوع مقام ورکړ شوی اوددمثال په توګه «یما» یا جمشید دمړیو شفیع او رب‌النوع بلل شوی دی اوهغه بڼ چې یما جوړ کړی ؤدوی دفر دوس‌او یاپه بل عبارت دوی ورته داخروې جنت په توګه قایل وو ، تر دې پورې چې ځینی مخصوص داسی‌سرودونه هم ووچې دروحانیونو په واسطه دمړی له پاسه ویل کیدل اوهغه مړی به یی په روحانی توګـــه «یما» او دهغه فردوس تـــه ورلیږه‌مثلا دریګ ویدپه یو سرودکی داسی ویل شوی دی :

«یما» (دمړیو باچا) په یوه‌ونه کی‌چې ښایسته اوښکلی پانی اوښاخونه لـــری دنورو خدایانو سره دسوما دشرابوپه څښلو بوخت ؤ . زما پلار داوطلب شو چی هماغلته دخپلو نیکونو سره یو ځای شی .

ددی منظری دکتلو له کبله غمګین‌شوم او خوشحال نه شوم ، ځکه‌چې ماغوښتل چـــې دده دبیادویم ځل په دیدار مشرف شم .....»

داسرود پســـی اوږددی اوبیا دهمدی سرود پـــه یو ځای کی دمړی څخه داسی پوښتنه کیږی.«ته چاپیداکړی؟داارابه چادلته راوسته؟ایاداسی څوك شته چې‌موږته ووایی چې تادی‌سفرته څه توښه او څوری راوړی دی؟ »...په همدی‌سرودکی وروسته وایی:

«همدالوړعرش دی . د«یم» استوګنځی اودخدایانو ټاټوبی چی پخوانی ماشومان دلته راځی . دادخدا یانـــوشپیلی ده‌چې غږوی‌یی اوله هری‌خوا څخه روحانی او ازونه اوریدل کیږی‌اودی سیمی‌ته خاصه ښکلا ورکوی.»

دریګویدا په یوبل سرودکی داسی ویل شوی دی :«دمړیوله اروا ګانو ، دهیواد حاکم ، هغـــه چې دغښتلو اولوړ وغرونو دلړونو څخـــه تیر شوی دی اودډیرو پردیسانو په لار اوخط السیرته یی پام دی .دویو سوت Vivasvat زوی دی.ای‌یما باچا !موږ تاته خپل نذرونه و ړاندی کوو ، زموږلارموږ ته دلومړی‌ځل له پاره یما پیداکړه . داورشوبه له موږ څخه هیڅکله وانه خیستله شی. هغه ځای چې زموږ لرغونی‌نیکو نه ورغلی دی اوهغه چې وروسته دنیاته راغلی‌دی.پخپله لارلاړل...»(۱

(۱) ګزیدهٔ سرودهای‌ریګویدا (۱۹٤)مخ

دوی داسی فکرکاوه هغه روحانی‌نړی چی یماپه کی حکومت کـوی پـه ورهکی یی دوهسپی‌دی‌اودغه فردوس‌ته پردی خلك نه پریږدی اوخپلوان هم چې دښواعمالو خاوندان نـه وی‌اویما ورته اجازه ورنه کړی ننوتلو ته نه پریږدی .

ددغو سرودونو څخه موږته څوټکی په لاس راځی چې دهغوله مخی موږ پـه دې متیقن کوی چې یما دډیروغرونو څخه تیرشوی او دهوارو ځمکو په لور یی مزلونه کړی اوخلك‌یی راغونډ کړی اودلومړنی ټولنیز تشکیل نظم او اجتماعی او اقتصادی‌تحول بنسټ یی ایښی دی .

له بلی خوایو قوی احتمال موجوددی‌چې اریایانو به تر ډیری مودی پوری خپل مړی دیما دلاسه جوړشوی ښاراو یاپه بل عبارات دختیځ اولویدیځ دټولو اریایانو مسقط الراس‌ته رالیږل‌اودلته به یی په‌خاصو مراسمو تـد فیـن اوتجهیز کاوه . خپلو لومړنیوټاټوبی ته دمړیو لیږل اوس‌هم‌په افغا نی قبایلو کی رایج دی .

دریم داچې یما اکثراً دښکلی اولویی رمی دخاوند په‌صفت ستایـل شوی دی چې داټکی تری څرګندیږی‌چې یما دهغی زمانی شخص دی چـې دټولو شپنو اوابتدایی کروند ګروباچا واودا ټول پری راغونډ اوډیره موده یی یوځای سره شپی اوورځی‌تیری کړی دی .

په ویدی سرودونو اود دختیځواریایانو په نورو لرغونو متونو اواسنا دوکی دلرغونو اریایانو دحال شرح‌اودهغو دژوندانه دکړوو واومدنیت په باره کی دومره کافی مواد نشته‌چې دموثقو مدارکو دتسلسل‌په توګه ترې کارواخیستل شی اوعلت یی‌هم‌امکان لری داوی چې ددوی دمهاجرت په لړکی دداسی نویو پیښو او حالاتو اونورو غیر اریایی قومونو سره مخامخ شوی دی چې خپل زاړه اساطیریی ترزیاتی اندازې‌پوری هیر کړی دی اوپر ځای یی نوی تاریخی پیښی‌اودژوندانه نوی اسالیب راغلی دی چی دوی ورسره په ورځنی ژوندانه کی مخامخ او دخپلو هیلو دتسکین له پاره یی نوی معنوی اومادی‌سمبولونه وضع کړل ، مګربیاهم ځای‌پر ځای داسی مواد په کی شته چې دمرکزی اریایانو په برخه کی داویستا یی یادونو سره پوره مرسته کوی،نو موږ هـم مجبوراً دهمدغو منابعو څخه په استفادی سره دمرکزی اریایانو دپخوانیو ټولنود حالاتو په څیړ

لو پیل کوو اوپه اوستایی متونو کی‌داریایانو دحال پلټنه کوو : (۱)

پیش دادیان ـ یاپره داتان

داویستا په یشتونوکی ځای پرځای دلرغونومرکزی‌اریایانو دمشرانو اوامیرانو یادونی شته چې دهغوی‌هغه نذرونه اوقربانی یادوی چې دوی دناهید ایزت له‌پاره کړی دی‌اود هغو قربانیو په برکت دبرم او مشری مقام ته رسیدلی دی . کـــه څه هم دغه نومونه یوتر بله ګډوډ دی او یوازی روحانی اویو څه سیاسی امارت یی‌ښوول شوی دی چـی مذهبی رنګ لری ، موږیی قدامت‌اوپرله پسی والی‌لړی زموږ دګران‌هیو اد دهغو شاهنامو په مرسته ترتیبووچی زموږدنیکونو څخه‌دزرګونوکلونو را په‌دی خواسینه‌په‌سینه راپاتی‌شوی وواو ددی لرغونی هیواد په خاو ره‌کی دپیاوړ واوغښتلو پوهانو اوشاعرانو له خوا ثبت شوی اویادګاریی ترموږ پوری رارسیدلی دی . ددغوټولو اثارو دمطالعی اومقایسی څخه موږ ترټولو دهوشنګ نوم دمخه‌ګنواوددی معلومو اسناد وپه اتکایی لومړ ی پیشدادی مشرګنو :

هوشنګ

دانوم په اوستا کی هیوشنګـه Hio shegah بلل شوی اود اوستا مفسرینو دښوودا نیو جوړونکی په‌م فهوم ترجمه کړی دی .په اوستـاکی اکثراً دهـوشنګ سره د(پره دات) پیشدادی نسبتی صفـت راغلی دی،مګربه بندهش‌کی هوشنګ‌داریایا نو مورث اعلی یالومړی نیکه ګڼل شوی اوداریایا نو دلومړی موراو پلار نه چې‌دوی ورته «ماشیه»او «ماشیتوئی» ویل دده تر عصره‌پورې(۹۳)کاله زمانه اټکلوی . ماشـه‌او ماشویی ته داریایانو دادم اوحوا په‌څیرد لومړنی موراو پلار په بڼه قا یل دی . مګرپه ویدی سرودنو کی‌داریایانو لومړی مور او پلار «یم»او

---

(۱) که څه‌هم دلوستونکو دخبرتیاله پاره په کاروو چې اویستا اومر بوط نور اثاریی معرفی شوی وای ،مګر څرنګه چې زموږ دمطالعاتو لړی په‌کرونو لوژیك ډول داریایی مدنیت‌څیړل دی ، نوموږ دلته دزمانی دتر تیب دمراعات له کبله دهغو کسانونومونه څیړوچې داویستا څخه ډیر پخوانی اوحتی دمهاجرتونو څخه هـم‌پخواتیر شوی دی او تقریباً یوزرکاله وروسته په اوستایی متونو کی یادشوی دی .

«یمی» ګڼی چې دواړه سره ورور اوخور وو او غبرګونی پیدا شوی وو، مګر دمور په ګیډه کی لاددوی نکاح تړل شوی وه .

د«پره» کلمه دپخوانی او مخکینی‌معنی لری او «دات ـ ذات »دعادل او نیاومن معنی لری چې دحاکمیت مفهوم‌په کی پروت دی . یاپـه بل عبارت «دات» دحاکم معنی لری چې دنیاو اوعدالت مفهوم په کی نغښتل شوی‌دی چې‌ددواړو معنی لومړنی عادل مشـردی . داویستایی عقیدی له مخی هو شنګ د«کیانمه وارینو (۱) »یا کیانی‌برم خاوند ؤ .

یما ـ یم ـ جم ـ جمشید

په کومه اندازه چې‌داریایانو دغه لرغونی مشر شهرت لری اوحتی په دری او پښتو کلاسیکو ادبیاتو کی‌منعکس شوی اویاد شوی دی په دی اندازه یوهم شهرت نه لری.په ویدی‌سرودونو ، اویستا ، شاهنامو او د شاعرانو په دیوانو نوکی یـی ډیره‌یادونه راغلی او په لږ لفظی توپیر اکثرو شاعرانو یاد کړی دی اوډیربرکات اوفیوضات یی ورته منسوب کړی دی . عامه ذهنیت اوس‌هم‌داسی‌دی‌چې یمابه جام درلود ، چې‌دهغه دکتلو په واسطه به‌دټولو راتلونکوپښنو څخه خبریده .

دا اریایی مشرپه اوستا اوویدونوکی د«یمه» (Yama)په نامه یادشوی‌دی اود«ښایسته» کلمه‌ورسره زیاته شوی ده .

په ګاتونوکی د«یما» نوم یوازی‌یو ځل‌د«یمه» په بڼه راغلی دی . ګاتونه چی داویستا ډیره لرغونی برخه ده اوپه غالب ګومان پخپله دلو

---

(۱) دغه کلمه ځینو مستشر قینود«کیانی رڼا» په‌معنی ترجمه کړې ده مګر فارسی لیکوالا نو دغه کلمـه«فرکیانی» یعنی کیانی «برم» پـه معنـی ترجمـه کـړی ده

مګردغه کلمه او مفهوم یی اوس هم‌په پښتنو کی ژوندی ده . پښتانـه وایی چی دپلانـی په تندی کـی رڼاځلیږی یاوایی : دپلانی په‌وچولی کی رڼا ځلیده .ددې لنډو جملو څخه‌ددوی‌مقصد نیکی طالع او اقبال دی چـی ذاتاً یوچاته ورکړ شوی وی اوهرکاراو پیښه دده دهیلی سره سمه سر ته رسیږی . هو= ښه . ـرینو= رڼا ـ ددواړو کلمو مجموعی معنی ښه رڼا یا مبارکه رڼاکیږی چې‌کیانی مبارکه رڼامعنی ورکوی .دوی داکلمه یوازی دقومی مشرانو له پاره استعمال کړی ده چې محبوبیت به یی درلود او خلکو به یی متابعت کاوه .

ی مصلح زردشت له خولی پاتی شونی اثردی دیما په باره کی دنوری اویستا په خلاف تذکر کوی اوهلته یما دده دکارونو له کبله مجرم اوګنهکار بلل شوی دی ، ځکه چی هلته ویل کیږی «یمادخلکو دخوشحالی له پاره دغوښی خوراك مروج کړ اوبل داچې له حده زیات مغرور شو اودخپلو تعهد ونونه واوښت . » داویستا په ابان یشت کی داسی راغلی دی :»زردشت دسوما (هوما) څخه پوښتنه و کړه په دی مادی نړی کې دلومړی ځل له پا ره چاوز بیښلی او هغه ته په عوض کی څه اجراو برخه ورکړ شوه ؟ـسو ما په ځواب کی وویل :لومړنی انسان چې زه یی په دی مادی نړی کی وز بیښلم وې ونګهان ـ ویو نجهان دی په ویدی سرودونو کی ویـو سونت vivasvant راغلی دی)په عوض کی دجمشید پـه ځیـر زوی ورکړ شو چې دښی رمی خاونددی . په خلکو کی دلوړی رتبی څښتن دی اودلمر په ځیر ځلیږی . هغـه څوك چی دده دامارت په دوره کـی څاروی او انسانان نه مړه کیدل اواوبه او وابنه دڅښاك اوخوراك په حیث هیڅ نه خلاصیدل . دزړه وریمادسلطنت په وخت کی نه ساړه وو اونه تودوخی وه . نړی ددیو په واسطه پیدا شوی مرګ اوکینی څخه ژغور لی وه . دده دحکومت په وخت کـی پلار اوزوی به دواړه دپنځـه لس کلنوزلمیانو په ځیرښکاره کیدل . »دیما په برخه کی ویدی سرودونو اود اویستاوروستنیو برخو په افسانوی توګه یادونه کړی ده اویولړنکلو نه یی بیان کړی دی چې موږ تـری اټکل کولای شوچی دغه لرغونی امیران ددوی دزمانی څخه هم ډیر پخواتیـرشوی دی اوددوی سره یی یوازې تصو ری انځور پاتی دی .

څرنګه چې دمخه موهم وویل چې دباختر څخه دمهاجرت په وخت کی د وی لیك نه درلود ، نوددغو شاهانو په برخه کی دهمدغو منابعو څخـه پرته نور څه مدارك نشته . دغوشاهانو په غربی اوشرقی اریایی ښاخو نوحکومت او مشری چلولی ده . نوکه موږ ددوی دمهاجرت نیټه د(۲۰۰۰ ق م) له شا اوخوا څخه دمخه وټاکو، نوددغو شاهانو دسلطنت او امارت دوره هم د(۲۵۰۰ـ۳۰۰۰ ق م) په حدودوکی ټاکل کیدلی شی . اوس ددی له پاره چی دغه موضوع پوره روښانه شی دیما باچا په باره کـی هغه مذهبی افسانوی داستان رانقلووچې داویستا په یوی وروستی بر خی «وندیداد» (۱) کی راغلی دی .

---

(۱)ادبیات مزده سینا (۱۸۱) مخ

«زردشت داهورا مزدا څخه پـوښتنه وکړه چې ای مقدسه اودمعنوی نړی خالقه !له ما څخه پرته دی دبشرپه نسل کی‌دلومړی ځل لپاره‌له چاسره خبری وکړی او اهورایی زردشتـــی‌دین دی چاته وسپاره . هغه وخت ورته اهورا مزدا وویل :چې ای زماپاکه زردشته !له تانه پرته می‌لومړی ځل‌دښکلی اوښی رمی خاوند جم‌سره‌خبری وکړی او اهورایی زردشتی د ین می‌ده ته وسپاره او ورته‌می وویل : ای دویو نگهان زویه ښکلیه جمه !زه‌دخپل دین له پاره تاټاکم اوځان چمتو کړه ! ! ښکلی جم ځواب راکړ چې زه‌ددی وظیفی له پاره غاړه نه شم کیښودلای اوددی کارورنه یم . ددین پالنه او خپرونه زماله وسی‌پوره نه ده .

نوهغه وخت ماورته وویل چې که‌چیری زمادین خپرلو اوپاللو له پاره چمتونه یی ، نودا غوره گنم چې زمادنړی (مخلوق) پالنـــه وکـــړی اونړی پراخه اوارته کړی اودجهان‌ساتونکی اوملاتړ اوسی .نوهغه وخت ښکلی جم ځواب راکړ چې‌ومی منله، زه به ستاجهان وپالم اونړی بـه پراخه کړم اوتل به یی ساتنه اوځارنه او حمایت کوم . زمادسلطنت په مهال کی بایدنه سوړ اونه تود بادوالوزی اونه دی‌مرگ اوخپگان وی .نو هغه وخت می ښکلی جم‌ته دوه‌شیان ورکړل . یو دزروغمی (۱) او بله زرینه امسا په دی توگه جم داقتدار خاوند شو .

وروسته دجم پـه سلطنت دری‌سوه ژمی تیرشول .ځمکه دوړواولو یو ځارویو او خلکو اوسپیو اومرغـانواو داورد سرو شغلوځخه ډکه شوه په دی ډول چی په وړ واو سترو ځارویو باندی ځای تنگ شو .له هغه وروسته می جم ته‌خبر ورکړ ورته‌می وویل : ای دو یو نگهان زویـه ښکلیه جمه !

ځمکـه دوړ واو لویوځارویو اوخلکو اوسپیو اومرغانو او داورد سر ولمبو څخه ډکه شوی ده اود وړواولویو ځارویو له پاره ځای تنگ شوی

---

(۱) ښاغلی کهزاد دغمی پـر ځای د(غویی) کلمه راوړی ده اولیکلی یی دی‌چی «یوه‌طلایی امسااوبل داوسپنی‌غویی چې دسروزرونه جوړ شوی و » زماپه گومان پخپله په دغه فقره‌کی یو مخالفت شته چې داوسپنی غو یـی چی دسروزونه جوړ شوی و ،،، یعنی څه؟ځکه دانه شی‌کیدلای‌چی هم داوسپنی څخه وی اودهم سروزرنه جوړ شوی وي . په اوستایی متن کی د«سوفار» کلمه راغلی ده چې د«گوتمی» معنی لری اودغلته هم تری دسروزرو گوتمی مراد دی چې دغه‌دوه شیان عیناً د سلیمان(ع)دداستان سره مطابقت لری .

دی ، نوهغه ووچی جم‌په ماسپښین‌کی درنا‌په لورمخه ورکړه اود لمر په لار روان شو . پخپل طلایی غمـی(گوتمی) یی ځمکه وسولوله او خپله طلایی امسایی ورباندی راښکله اوویی ویل :ای گرانی (دځمکی واکمنی پریښتی) سپندار مذ!مخکی شه اوخپل‌ځان وغوړوه چی‌تر څولوی اوواړه ځا روی‌او خلك راونغښتل شی. نوځمکی‌خپله لمن وغوړوله او یوپه دریمه برخه لویه (اوارته) شوه وړو اولویو څارویو او خلکو دخپلی خوښـی سره سم ځای پیدا کړ .

دجم په سلطنت کی‌دری سوه‌نورژمی هم تیرشول .ځمکه بیادلو یـو اووړو څارویو اوخلکو اوسپیو او مرغانو اوداورد سرولمبو څخه ډکه شوه او ځای تنگ شو . جم ددری سوه‌کاله پخوا په څیر نیمه ورځ کـی در ناخواته مخه وکړه اودلمر په لارروان شو .»

دا واقعه دری ځلی تکراشوی ده‌او په دریم ځل په آریاویج‌کی دوا نگوهی دیتا په غاړه اهورا مزداد نوروایز تا نوسره جرگه وکړه اویماد ښی‌رمی خاوند دخپلو غوره‌خلکو سره‌جرگه وکړه . نواهورا مزدا ورتـه وویل چـی ای دویـو نگهان زویـه‌ښکلیه جمه ! په مادی جهان باندی به ډیر سخت ژمی راشی او تباه کوونکی ساړه به ورسره وی . دوا ورو پوسی به دډیر لوړ غره ځخه دځوارشو (؟)په لوړوالی ووریږی . دځار ویو دریمه برخه به مړه شی . په هولناکو سیمو کی (بیدیا واوکو یر ونوکی) دغرونو دپاسه په دروکی‌دژمی نه دمخه دغه هیواد ورشوگا نی لری . کله چی واوری ویلی‌شوی‌نوډیری او به به‌راوانـی شی اودا نړی داوسیدنی وړنه ښکاری . نوددی‌پیښی دراتگ لـه کبله یو باغ (واره Vara)جـوړ کـړی چی‌له هری خوا څخـه دیو اسپ دځغا ستی په اندازه اوږده (لوړه) وی.هلته دوړ واو لویو څارویو خلکو او سپیو او مرغانو او داورد سرولمبوتخم په کی راغونډکړه . دابن(واره Vara)چی‌هره خوایی دیوها سـر(زرقدمونه) په اندازه وی دخلکو دا ستوگنی له پاره اوږده وی . هلته‌څرځایو نه پیدا کړه . کوډغالی (د ځمکی‌خونی) بالا خانی او کړکی‌والی‌خونی جوړی کړه . داسـی سړی او ښځی هلته راټول کړه چی دځمکـی‌په مخ‌ډیر غوره او ډیرښکلی اوپی مخی وی . همدا راز دداسی څارویواو حیواناتو تخمونه راغونډ کړه چی ټوټولو لوی ، ښه اوښایسته وی .دبوټو څخه هغه چی‌ښه لوړ او ښه بوی ولری اودخورا کونو څخه هغـه چی‌ډیر خواږه خوندو روی تخمونه یی هلته وساته اوداتخمونه چی هررازوی یوه جوړه یی هلته راوړه .

تـر څو پـه هغه ټوله موده کـــی‌چی خلك په واره کـــی او سپږ ی دغه تخمونه وراسته او خراب‌نه شی . هغه کسان‌چې ناقص‌دی لکه : لیونی کړوپ او پیس وی یاهغـه څوك چې‌کوم یو اهریمنی ناروغی او افت په‌کی ولیدل شی باید چې واری‌ته را داخل نه شی . ددی سیمـــی (بڼ) په‌لوړه برخه کی نه‌خیابانـه (کوڅی) په منځنی برخه کی‌شپږخیابا نه او په وړه‌یا دریمه برخه کی دری خیابانه جوړکړه . دلویی اولوړی سیمی په برخه کی یوزر نارینه اوښځی په منځنی کی شپږ سوه او په وړه برخه کی دری سوه استوګن کړه. داګذرونه ټول په طلایی غمی پـه نخښه کړه او دواره له‌پاره یوورجوړکړه چی رڼا په‌کی راننوځی

جم له ځان سره سوچ وکړ چـې‌زه به څنګه دغسی واره چې اهورا مزدا وویل جوړه کړم اهورا مزدا وویل :ای‌دویو نګهان‌زویه ښکلیه جمه! ځمکـه پخپلـه پونده راوګروه وروسته یی پخپلولا سونو واغږه لکـه څنګه یی چې‌اوس خلك اغږی . نو هغه وخت جمشید لکه څنګه‌چې ورته اهورا مزدا وویل وکړل او واره یـی‌جوړه کـړه . واړه او لـوی څاروی خلك ، بوټی او غذاګانی یی په کی‌راغونډ کړل .»

داستان او سطیره یولږ څه نورهم دوام لری مګر موږ یی دهغی برخی سره کارنه لرو او یوازی‌دهمدی تیروشو یو عباراتو په څیړنه اکتفاکوو:

۱ ـ ددې داستان څخه داسی وخت ا ټکلیږی چې هغه وخت دیو لوی طو فان خبرورکول کیږی چې دنوح (ع) دطوفان سره ورته والی لری ، مګر دنوح په طوفان کی بیړی دنجات‌اوخوندی پاتی کیدو ځان بلل شوی‌دی حال دا چی دلته دیو طبیعی ماحول اواستوګنځی څخه یو مصنوعی مدنـی حالت ته انتقال لیدل کیږی .له بلی‌خواد یما دامسا اوګوتمی افسانه د سلیمان(ع)دامسال اوګوتمی دحکایت‌سره ورته والی لری . موږ ددغودوه دینو نوتر منځ دتشابه ټکی لیدلای‌شو .

۲ـ ددغی واري او استوګنځی او دیماستاینه اونمانځنه موږ په ویدی سر ودونوکی هم‌لیدلای شوچی لنډه‌یادو نه یی دمخه تیره شوه‌اودلته یی‌تکرارلا زم نه دی .

۳ـ دغی واری ته‌که څه‌هم افسانوی‌مذهبی رنګ ورکړ شوی دی ، مګر دایو حقیقت دی چی دهرملت لرغونی‌روایات اوحکایات‌چی واقعیت هم‌ولری دماورأ الطبیعی او افسانوی مواد وسره ګډ شوی وی اوموږ یی ددیرو دلایلو په موجودیت سره یوواقعیت بولو او لازم نه دی چـی نور دلایل دلته راوړو !دمخه هم په‌دې برخه کی کافی اولازم معلومات ورکړ شوی دی.

٤ـ ددی داستان دمتن څخه داسـی‌معلومیږی چی دوی دختیځ (اریانا و یجه) څخه دغرب لورته تللی دی‌اوداځای حتماً دبلخ سیمه ده ، مګرزما پخپل ګومان دغه واره داوسنی بلخ‌ځای نه وه ، بلکې دغـه ځای داو سنی بلخ جنوب ته دبلخ دسیند پرغاړه داوسنی دیهدادی دکلی پرځای ؤ ، ځکه چی په اویستایی متن کی دوارې کوڅی د«دیهه» په لفظ یا شوی دی چی معنی یی استوګنځی یاکوڅه ده . ددیهدادی کلمه عیناً دادیانو (پیش دادیانو) یعنی هماغو حاکمانواو امیرانو کلی یاکوڅه معنی لری . اوسنی بلخ دکرنی دانکشاف دوروستی پراخی مرحلی مولوددی، ځکه چې هغه وخت نه دومره وخت واونه کرنی دومره انکشاف کړی ؤ چـی (۱۸) نهرونـه دې وویستل شـی .بلکی دا چې یمادښی رمی دخاوندپه صفت یاد شوی دی دیـوې پوونده‌قبیلی دمشر نمایندګی کوی او دغه حکایت دکرنی او پراخو ښاری ودانیوسره دبلدیت‌دلومړنی مرحلی څرګندو نه کوی . له بلی خوا داخبره منطق‌ته نژدی ښکارې چی دوی لومړی‌په هغو سیموکی استوګنه کوله‌چې‌سیندبه ورسره نژدې ؤ . له بله پلـوه په دغه افسانه کی دویالی اوږ دوالی زرقدمه ښودل شوی دی ، نود بلخ دسیند او اوسنی بلخ دښار ترمنځ زښت ډیر واټن موجـود دی .

٥ـ ددې افسانی څخه داسی ښکاری‌چی دطبیعی‌نباتاتو په روز نه اودو حشی حیواناتو په ایل کولوکی دوی‌یو څه پرمختګ کړی ؤ اوهمدا علت دی چې دغه باغ دختیځو اریایانو په نزد چې هغه وخت یو فوق العاده ا عجازی کارؤ او دومره اهمیت یی‌درلوده چې دفردوس خطاب یی ورته کړی اوهلته دخپلو مړیو دارواګانوپه لیږ لوسپار ښتنه کوې . ددې‌له پاره چې د دوی مړی هم خوشحال وی، نو روحانیو نو به په خاصو مـرا سمو هغه ویدی سرودونه دمړی دتابوت دپاسه ویل چی دریشیانو له خوا ویل شوی اودهمدې منظور له‌پاره تخصیص ورکړ شوی ؤ .

په سمه ټوګه ددې استو ګنځی دټاکلو په برخه کی ډیر مشکلات وجود لری ،مګر دومره‌ویلای شوچی دوی‌دداریانا ویجه څخه (چی‌موږ یی‌په ا ټکلی توګه دبدخشان کومه سیمـه یاد امو اوسیر دریا تر منځ کوم ځای ګنهو) دغرب خواتـه لاړل اودا ځای‌دځینو نورو دلایلو په بنا باید حتماً د بلخ دسیند غاړه وی .

دهغه وخت داریایانو په نزد څوغرونو اوسیند ونوډیر تقدس درلود چی ټول یی داوسنی افغانستان په‌شمالی (هندوکش‌لړی) او جنوب‌غر بی برخو کی موجود دی چی مفصـل‌بحث به یی وروسته راشـی ، مګر دلته دغه یوه خبره لازمه بولم چې‌د افغانستان شمالـی سیمی او جنوب

غربی برخی یوتر بله سره مستقیم‌ارتباط لری او داوستا دمتونو لـه مخی دا څرګنده بریښی چی دبلخ کندهار ، سیستان ، زابل اوهرات اریایا نو یو تربله یوه ګډه اتحادیه درلوه‌او ددغو خلکو تر منځ دزردشت د ظهور تروخته پورې پاخه علایق موجود وودا اټکل ښایی حقیقت ولری چې دغه سیمی دیو واحد اجتماعـی‌شکیل لاندې اداره کیدلی .

موږ تراوسه پورې بلخ اوباختر اریایانو دیوازینی مرکز په توګه پیژنو ، مګر زه شخصاً عقیده لرم چې‌دوی‌په سیستان کی یوبل مرکز هـم درلود چې دوی‌به دژمی له پاره ترې‌ښار اخیست اوداسی ګومان کیږې‌چې دوی به دپسرلی په وخت کی پـه نظمه توګه دخپلومالو نو سره یو ځای شمالی صفحاتوته راتلل او کله ه یی چې دمنی په موسم کی خپلی ځمکی وکرلی نوبیا به دجنوب غرب خوا روان شول .

زه دغه ادعا ځکه کوم چی دبلخ‌و سیستان (جنوب‌غربی ټولی سیمی) تر منځ دومره روابط موجود ووچې دغه وخت داریایانو داشخاصـو او طبیعی ماحول نومونه دومره سـردې اومخلوط دی چی ډیر پوهان یـی حیران کړی او حتی داشتباه سـره‌خامخ کړی دی . کله چې‌دافغانستان په شمالی صفحاتو کی دکوم سینـدنوم پیدا کړی او ځای یی وټاکی ور سره یو ځای‌بل سیند هم‌په هماغـه‌سیمه کی لټوی اوداوستایی متونود جغـرافیایی موقعیت سره چـې دوی‌ګومان کړی سیند موافقت ونه لری ، نو فوراً یی حکم کړی‌دی چی دغه به کوم افسانوی سیند یاغروی .

زه به ددغی عقیده په رڼاکـی‌هڅه وکړم چې دغه نومونه په همد غو سیموکی وټاکم. دیماواره) Vara په اوستایی متونوکی هم ډیر ځلـه استعمال شوې ده اودهمدې مفهوم‌له کبله دوی یو خاص ایزت (پـرښته یارب‌النوع) ته عقیده لرله او په‌اوستاکی خشترئیر یه (Xsathra Vairya)یاد شوی دی چی معنی‌یی ښکلی هیواد او ښایسته مملکت دی . دایوتل ترتله اهورایی ملـک‌ګڼل شوی اوعالی جنت بلل شوی دی، تردی پورې چې دوی عقیده درلوده‌چی هغه داهورا مزدا اوپرښتګانو ټا ټوبی دی .

دهمدی ایزت په قدرت کی خدایی‌عزت اوشاهی جلال دی ، همدغه دفلزاتو ساتونکی او دعدالت حامی‌بلل کیده .

دیما یاجمشید په برخه کی طبری‌هم ډیر څه ویلی دی ، مګرد افسانی حیثیت لری .

مګر موږ دموضوع دارتباط لـه مخی دغه یوه فقره یی رااخلو چی یما دضحاك (داوستااژی دهاك) له لاسه ژوبل شو اوپه ټپی صورت زابـــل (زاول) ته وتښتید او دهغه ځـای دباچا لوریی وکړه اودهغی نه یی زوی پیدا شو . په پای کی وایی چې یمادزابل باچاهم وشاړه اودچین دسیند په غاړه دضحاك لښکر ودیوې ونـی په ډډکی پیدا کړ اودسپیتورا (سپین توری) نومی شخص له لاسه ووژل شو. یا په اره باندې دونی سره یوځای اره کری شو . موږ اوس دلته دهغونورو اریایی مشرانو اوهغو غیر اریا یی واکمنانو یادونه لازمه ګڼو چی داریایی تمدن په تعمیری یا تخریبی برخه کی یی اغیزه درلوده .

ضحاك ـ یااژی دهاکـــه

لکه څنګه چې په اریایی یاد داشتونواو اساطیروکی دیما نوم افسانوی بڼه پیدا کړې ده ضحاك دویم شخص دی چې دیما او داریایانو دتمدن اوکلتور دیو مخالف عنصر په توګه افسانوی حیثیت پیدا کړی دی چې کله یی ور ته داژدها خطاب کړی اوکله یی داهریمن یو فاسد استازی بللـی دی . په لنډ ډول ویلای شو چی ددغـه شخص دمنسوب قوم له لاسه یو ځل دیما په وخت کی اریایی تمدن رنګ شوی اودغه اریایی ټولنه تالا ترغی شوې ده . ځینو مورخینو دغه شخص اوقوم یی غربی ، چاکلدانی ، چااشو ری او ځینو کردان بللی دی . کـه چیری ددې شخص په باره کی دمور خینو ټول نظریات راغونډ کړو نوموضوع بلی خواته ځی او ډیر اوږدوا لی مومی مګر زه پخپله عقیده لرم چی دهمدی سیمی دکوم بومی قوم رئیس او مشرو چې اریایان ورسره دیما په وخت کی دور شوګانو دپر اختیا په مسئله کی دخونړی اختلاف سره مخامخ شوی دی . له بلی خواد زابل باچا ته دیما پناه ورورل سړی تـه دوه نکتی ورپه ګوته کوی :

۱ـ دیما په وخت کی په اریایی نورو قومونو کی ځای پر ځای واړه ځمکوالی مرکزونه موجود وو اویماخپلو قومی قوتونوته پناه وړی ده .

۲ـ دزابل دنوم څخه داسی ښکاری چې دغه جګړې دافغانستان په جنوب غربی برخوکی پیښی شوې دی او زموږ پخوانی خبره تحقق مومـــی .

په اوستایی متونوکی دضحاك ځای (بوری Bawri)ښودل شوی دی اوخلکو ترې بابل یابا بیلون جوړکړی دی . مګرزه عقیده لرم چی دغـه بورې بابل نه دی بلکی داوسنـــی بلوچستان سیستان ته نژدی کومه

سیمه ده . ځکه په دغه سیمه کی‌داریایانو څخه لاپخوایو مدنیت موجود واو اریایان دپر دیو اوغیـر بومـی‌خلکو په څیر هلته ورغلی دی .که څه هم زه پوره عقیده او کامل موادپه لاس کی‌نه لرم ، مگرگومان کوم چې اریایان ډیره موده له دغوځایونو څخه بیرته راشړل‌شوی اودفریدون تر عصره پورې بیا هلته تللی نه‌دی ، مگر کله چې فریدون یاتریتو نه د قدرت خاوند کیږی نو دغه بومی قبایل دافغانستان دجنوب او غرب څخه شړی او پرځای یی اریایی اقوام بیرته میشته کیږی .

له بلی خواپه بنداهش کی دفریدون دنسب سلسله داسی یاده‌شوې ده چې‌په لسم پښت کی‌یما ته‌رسیږی‌او دهغه مسقطا لراس او دزیږیدلو ځای دخزر دبحیرې جنوبی برخی بـولی . نوکه دغه نسب نامه اود مسقط الراس دټاکلو ځای حقیقت ولری ،نواټکل کیږی چې اریایی قبایل دنورو بومی قبایلو له لاسه تقریباً (۳ـ۲)سوه کاله دجنوب څخه بیرته دشمال په لور مهاجرت ته مجبور شوی اوبیادفریدون په عصر کی بیرته مرکزې اریایان دجنوب خواته مهاجرت کوې‌او خپلوپخوانیو ورشو گانوته رسیږی او دخپلو فتوحاتو لمن لاپسـی اوږدوی .

فریدون :

په اوستاکی دغه نوم دتری تونا Trae-tona)په نامه یادشوی دی‌اوبیا وروسته ورڅخه فریدون‌جوړشوی دی . ښاغلی احمدعلی کهزاد دغه شخص دپیشدادې دکورنی څخه گڼلی دی او وایی چې دیما څخه ورو سته پـه پیشدادې سلطنت باندې‌کښیناست .

ددې شخص‌اهمیت‌له دې‌کبله زښت‌ډیردی‌چې ده‌غیر اریایی‌عناصرداریایی قلمروڅخه ویستلی‌اوداریایانوپخوانی‌برم یی بیرته راژوندی کړی دی . ده دزیږیدلو ځای د(ورینه Varena په نامه یاد شوی دی چی ځینـو مستشر قینو دغه ځای دیلم یاگیلان بللی دی . په پهلوی کی دغه ځای (ورنیك) یاد شوی دی مگر زه گـومان نه کوم چی ورینه یاورنیك دی له بلخه دومره لیری پروت وی .که څه هم ددغه ځای ټاکل یو مشکل کار دی . مگر دومره ویلای شو چی‌دغه ځای بایددبلخ‌دسیند جنوب اویاجنوب غرب خواته کوم غرنی ځای وی اودبلخ دولایت دالبرز دغره په جنوبی لمنوکی دکومی سیمی نوم وی .

ګرشاسپ :

دبندهش درواپت له مخی (۱)ګرشاسپ په اووم پشت کی فریدون ته رسیږی اوبیا ددغی کورنی دسلطنت ځای زابلستان ښیی . دغه لړی چې درستم نیکونه دی په پای کی یی دنسب شجره یماته رسیږی .ددې شخص داسلافواواخلافو دنومونو سره د«سام»او«نریمان»کلمی هم راو ړل کیږی . لکه سام ګرشاسپ ،رستم نریمان اوداسی نور .

دغه شخص هم دپیشدادیانو له جملی څخه ګڼل شوی دی اودمزده یسنا په حواله په وندیدادکی دګرشاسپ ، پلار دیوپاخه طبیب او دار وګر په توګه ښودل شوی دی . په اوستایی متونوکی دګر شاسپ پلارد «تریته Tritta»په نامه بلل شوی دی. وایی چی تریتا دریم سړی دی چې دسوما شراب یی جوړکړل ،نو په عوض کی ورته دوه زامن ور کړل شول چې یواوروا خش Aurvakhsh

نومیده او قانون جوړ وونکی اوډیرهوښار شخص و . دده قوانین به په اجتماعی سلوك کی عملی کیدل او بل زوی یی همدغه ګرشاسپ دی چی زړوراوښکلی و.اورواخش د ګومان له مخی دوخت دباچاهیتاسپ له خوا وژل شوی دی اوګرشاسپ همدغه باچاد ورور په کسات وژلی اوپرځای یی ناست دی . هیتاسپ دطلایی تاج خاوند بلل شوی دی .

دابان یشت په یوه فقره کی داسی راغلی دی چې «ګرشاسپ نریمان دپیشینګه سیند پر غاړه داوبودرب النوع اناهیتا یا ناهید له پاره سل اسونه ، زرغوایان اولس زره پسونه قربانی کړل چې تر څوپه «ګندروه» طلایی ښنګری باندی دواوروکش دسیند پر غاړه غالب شم .....»

دفردوسی په شهنامه کی ګندروه دګندرب په املا راغلی دی اودضحاك وزیر بلل شوی دی . موږ دپورته څوجملو څخه دغه نتایج اخیستلای شو چې په لنډ ډول ویل کیږی .

۱ـ دبلخی پیشدادیانو استوګنځی یوازې بلخ نه ؤ ، بلکی دافغانستان په جنوب غربی او غزنی برخوکی یی هم خپل قدرت ټینګ کړی واو زموږ دتیرې یادونی له مخی د دوی دژمی یا په بل عبارت دنیمایی کال استوګنځی ؤ .

۲ـ دغه وخت دغه ټولنه اوقوم دتمدن یوې داسی مرحلی ته رسید لی وه چی تجملی وسایل هم په کی عام شوی او رایج شوی وو او په

(۱) ادبیات مزده یسنا ـ۱۹۸ مخ

سیاسی او اجتماعی لحاظ یی پوره پرمختګ کړی ؤ . دقانون دجوړ لو او اجتماعی اصلاحاتو له پاره یو خاص‌ضرورت پیدا شوی ؤ . له دې څخه داسی ښکاری چی په مذهبی اصولواودینی قوانینو برسیره دوی یوشمیر نورو قوانینوته هم اړتیا پیدا کړې‌وه او اورواخش ښایی‌دیو مقنن په تو ګه دهیتاسپ باچا دخپل سریو اوعیاشیو په لارکی خنډشوی وې اوهیتا سپ دهغه وژلو ته اقدام کړی وی. که څه هم هیتاسپ یولوی اریایی مقنن وژلی دی ،مګر بیاهم‌په هیڅ‌ځای‌کی دده غندنه نه ده‌ویل شوې ، نو له دې څخه داسی ښکاری چې هیتاسپ‌هم دپیشدایانو له جملی څخه ؤ او ګرشاسپ ته دخپل اقتدار دلوړ ولوله پاره دورورد مرګ یوه ښه پلمه په لاس ورغلی وه، اوپه پای کی‌یی‌هیتاسپ وژلی او داریایی ټولنی مشری یی خپل ځان ته کړې وه .

۳ـ څرنګه چی دلته موږ دګندروه‌مقام اواستوګنځی دسیستان دهامون (واوروکش) پرغاړه ګورو اوله بلی‌خوا دغه شخص دضحاك وزیریادشوی دی . نو موږدضحاك‌په برخه کی‌داسی‌فکر کوو چی ګندروه اوضحاك دواړه ددغی سیمی دبومی قوم مشران او حاکمان وو ، نوکه چیری دغه اټکل‌سم وی ، ضحاك دیوغیر اریایی قوم باچامشرو چې نه عربی نه کلدانی اونه دبابل اوسیدونکی اود (بوری) سیمه‌هم داوسنی افغانستان په جنوب غر بی سرحدی برخه کی دکوم ځای نوم‌ؤ چی‌دسیستان دغدیر سره نژدی موقعیت لری .

له بلی خوا په‌ښکاره توګه په ابان یشت‌کی راغلی دی چې ګرساسپ دپیشینکه سیند پـه غاړه داناهیتا (ناهید) له‌پاره لویه قربانی اونذرو کړ ، نود پیشینګه نـوم اوس هـم‌دپشین یا پیشین (Pshin په نامه ژوندی دی اویوه لویه صحراده چې‌سوریی (۵۰) کیلومتره او طول یی تقریباً (۸۰) کیلو متروتـه رسیږی‌او دمالونو دپوولوله پاره‌یوه‌غوره‌ور شوده .

ګرشاسپ په اوستایی متونوکی‌ډیـر ښکلی اودیو خارق‌العاده زړور او پهلوان انسان په څیر ښودل‌شوی‌دی . ددې باچا دسلطنت حدود ترکا بله پورې رارسیدلی وو اوپه کابل‌کی دیوې ښایسته ښځی دعشق په‌دام کی کښیوتلو قصـه یی په اوستـایی متونوکی راغلی ده.دکابل پخوانی نوم په اوستاکی (واکرته) یاد شوی‌او په پهلوې کې‌دغه نوم په کاپول ترجمه شوی دی .

دغه داریایانو خارق‌العاده مشـربیرته په پشین کی دیونفرلـه خوا

وژل شوی اوهماغلته پروت دی اودوی عقیده درلوده چی کلـه ضحاك بیارا ژوندی شی ، نودوی به ورسره سم راژوندی کیږی او بیا به یی وژ نی ګرشاسپ مجموعاً پنځه خارق‌العاده کارونه سرته رسولی دی چې دیو نان دهرکل (Heracies)دکارونوپه څیر دی .

دغیر اریایی قبایلو سره دجنګونو نه وروسته دمرکزي باختر یانو یولړ شخړي دنورو اریایی قبایلـوسره هم راغلی دی او وروسته دغه اریایی قبایل دبلخی یا باختری دولت‌ډیر کلك سری رقیبان بلل شوی دی . په اوستایی اوپهلوی متونوکی دغه ټول‌قبایل دتورانیانو په نامه بلل‌شوی دی . دغه دتورا ـ یاتوران نوم دزردشتی عصر دنومونو څخه دی چی په مذهبی لحاظ یی دغیر زردشتی دیـن‌دپیروانو له پاره ټاکلی دی . ټـول هغـــه قبایـل په دغـــه نـوم یادشوی دی چـی زردشتـی دین یـــی منلی نه ؤ . ځکه‌چې موږپـه تیروپانوکی ولیدل چې دبلخ پیشدادیانو د سیستان سره نه شلیدونکی علایق‌درلودل اودسیستان ښار دسیستان دتا ریخ په حواله ګرشاسپ جوړ کړی‌دی اودغه خلق دبلخی قبایلو نژدی عزیزان او خپلوان وو ،مګرکله چې‌دګشتاسپ په عصرکی دزردشت ددین دعوت نه منی‌نودوی‌هم دتورانیانوپه نامه یعنی دغیر زردشتی یالرغونـو عقاید وپیروان بلل شوی دی .

که څه‌هم ځینو مورخینو د بلخ‌دولت یوه لویه امپراتوری بللی‌ده او حدود یی په ډیرو لیرو سیموکی‌ټاکی اوبلخ دیوی منظمی امپراتوری مرکز بولی ، مګردغه لیکنی او افکارداوستایی متونو دمطالعی له مخی‌کوم حقیقت نه لرې ، ځکه چې په هغـه وخت کی لا اریایانو د اجتماعـی ، ا قتصادی او سیاسی اړخونوله خوادومره پرمختګ کړی نه وچې یوه لویه امپراتوری تشکیله کـــړی بلکـی دپیشدادی او کیانی باچایا نو عصر یو داسی وخت وچې دوی په سلوکـی‌ترپنځوس زیات مالدارن وو اوځـای پر ځای یی واړه ملوك‌الطوایفی قوتونه او تشکیلات جوړ کړی وو چې موږیی دمعلوماتو دنشتوالی له کبله پوره شمیرلای نه شو مګر دومره و یلای شو چې داموسیند نه پورې هم‌دوه دری وړې باچهی وې اودبلخ نه پرته دافغانستان په جنوب غرب اوشمال غرب کی نور قبیلوې لوی قو تو نه موجود وچې دبلخ د دولـت‌رقیبان وو .

افـــراسیاب

افراسیاب هم داریایانو یومشهوراو قوی شخص ؤ چې دکیانی یاکاوی کورنی ډیرکلك او شدید رقیب ؤ .دا شخص په اوستایی متونو اوشاهنا مه کی تورانی بلل شوی دی . پـه ځینو نسب لیکنوکی دی دفریدون له نسلـه ګڼل شوی دی مګردا دنسب‌شجره یوڅه افسانوی رنګ لری او حقیقت تری لاس ته نه راځی .

بیا هم دوه نکتی زموږ مخی ته ودریږی ـ لومړی داچې په مرکزی ار یایانو کی انشعاب راغلی اودوه برخی‌شوی دی اولکه څنګه چې دمخه موو لـیدل چـی هیتاسـپ دګـرشـاسـپ لـه لاسـه و وژل شو او سلطنت یی ونیو نوموږ لـه دغه ځایه داریایانو په منځ کـی د اختلافاتو نښی او بیلګی ګورو .بنایی‌چې‌دغه اختلافات داخلی‌وی‌اودمرکزی اریایانو دمتمدنو او کوچی قبایلو ترمنځ شخړې پیښـی شوی وی .

دویم داچې ددوی دګاونډ یو عزیزانو قبایلو او بلخی دولت تر منځ ډ یر کلك اختلاف پیدا شوی وی اودغه اختلافات هم اکثرأ داقتصادي موضوع ګانولکه ورشو ګانو ځمکو یا حیواناتو څخه را پیدا شوی وي

بده نه ده چې دغه موضوع داوستایی اوشاهنامودمتن له مخی وڅیړو. په اوستاکی دافراسیاب نوم فرنګرسینه (Farangra Saena)راغلی دی په پهلوی کی فراسیاك اوپه شاهنامه کی افراسیاب ذکر شوی دی. که څه هم موږ دافراسیاب اوکیانی‌کورنی دجنګو نودځای اود افراسیاب داستو ګنځی ځایونه په دغه وخت کی‌پوره ټاکلی نه شو ، مګر بیاهم دځایو نو هغه نومونه له نظره تیـر ووچې‌په لرغونی متونو کی یاد شوی دی .

دافراسیاب استوګنځی د «کنګ‌دژ»په نامه یو ځای کی ښودل شوی دی اوبیا وروسته دکیانی کورنی دلښکروله لاسه د «خنجست ـ چه چست» دسیند په غاړه نیول شوی او وژل‌شوی دی . اوس به وګورو چی دغه ځایونه چیری دی .په اوستایی لرغونو او وروستنیو متونوکی دافراسیاب او سیاوش (سیاورشن) دجګړو ځای‌پر ځای ذکر راغلی دی‌اویو ځای‌داسی هـم ویل شوی چـی دسیاوش زوی‌کیخسرو هم دده له لاسه په جګړه کی نیول شوی او بندی شوی ؤ.پلاریی سیاوش دافراسیاب له لاسه وژل شوی دی .

دځینو مستشر قینو او ایرانـی‌لیکوالو په منابعو او اثارو کـی د «خنجســت» سینـد دارمـه په نا مـه بلـل شـوی دی . اوداوسنی ایران په خاوره کی یـی‌بللی دی مګر دکنګ دژد ځای په ټا

کلو کی حیران شوی او هغه یی پــه خوارزم کی ګڼلی دی .
حال دا چې غـــه دواړه نومونه اوس هم په افغانستان کی ژوندی دی او که دهغو مبالغو څخــه تیرشو چی په پخوانیو متونوکی یی د«کنګ‌دژ» یا «خنجست» دسیند دعظیم ښودلو له پاره راوړل شوی دی نو دوه احتماله موجود دی .
۱دغه کنګ دافغانستان په جنوب‌غربی برخو کی دکوم ځای نوم‌دی چی هلته کومه شاهی ودانی جوړه شوی‌وه.ددژ، دیز،دیس،ویس. کلمات‌دو دانی معنی لری . پــه غه نوم اوس‌هم دنیمروز په ولایت پورې مربوط یوه اولسوالی شته چی کنګ بلله کیږی اودغه لرغونی‌نوم یی‌تراوسه پوری ساتلی دی . څرنګه چې پـــه تیرو مخونوکی موولیدل چې دمرکزې اریایانو داستوګنی یــو مهــم ځای دسیستان فــراه نیمروز او کند هــار جنوب غربی سیمی‌دی دغه اولسوالی‌دخاشرود دسیند په څنګ کی ده .نو دلته موږ اټکل کولای شو چی دغه‌ودانی په همدغه کنګ کی‌وه او د خنجست یا چنجست دسیند څخه همدغه دخاشرو دسیند مقصددی ، یاپه بل عبارت دخاشرو ددسیند پخوانــی‌نوم خنجست دی .
کیانی سلطنت پردغه ځای مسلطؤ اوهمدغلته یی کومه شاهی ودانی لرله چې یو تر بله یی‌سره ډیره فاصله په منځ کی نه وه ،ځکه چی‌په لرغونو متونوکی داسی راغلی دی چې‌دکیخسرو لــه لاســه افراسیاب و تښتید اوپه یوغارکی پټ شو، مګریوسپین ږیری عابدولید اوهغه دکیخسر وافسرانوته خبر ورکړ اوهغوی فورأراغلل او افراسیاب یی ونیو اودسیا وش په کسات کی یی مړکړ .
دویم احتمال دادی چې کنګ دژداوسنی کندز لرغونی نوم وی چــې لکه دمخه موویل چې دغــه ځای دساکی قبایلو معبرو . نودلته ساکی قبایلو کومه وړه پادشاهی لرله اودپامیر دغرونو لړی او ورشوګانوتــه دمرکزی اریایانو دمالــو نو او خلکوخنډ شوی دی . ښایــی دغلته کوم قوی شاهی بالاحصار موجود و چې‌دافراسیاب له تیښتی نه وروسته دکیا نی سلطنتی کورنی لاس ته ورغلی‌دی . لکه څنګه چې دیما (واري) د دوی په نزد دجنت حیثیت درلود په همدې ډول دغه کنګ دژهم ددوی‌په نظر یوارض موعود اودجنت په څیردښکلی ځای په توګه تقدس درلود. ښایی ساکی قبایل داموسیندچې ددوی‌تر منځ یوطبیعی سرحدو راتیر شوی او دغه ځای یی نیولی وی .
له بله پلوه دخنجست کلمــه اوس هم دخنجان په بڼه موجوده ده او همدغه دخنجان سیند دی چی کندوز ته رسیږی . امکان لری چې لــر غونی کنګ دژ داوسنی کندوز څخه‌څو میله لری ؤ . په تاریخ طبــری

اود فردوسی په شهنامه کی‌دغه پیښی‌ډیری مفصلی راغلی مگر افسانـوی بڼه لری .

کیانیان ـ یاکاویان

دکاوه ـ یاکوی کلمه په ویدی‌سرودونوکی هم راغلی ده او مقصد تری هم دغه کورنی ده اودکیکاوس‌نوم په «کاوه یوسانا» یادوی .داسی بریښی چې لاپه په دغه وخت کی‌هم‌ویدی او مرکزی‌قبایل سره جلاشوی نه وو .

دلرغونو متونو څخه داسی ښکـاری چې دغه کورنی دافغانستان په جنوب غربی سیمو ، غالبأ دکندهارشا اوخوا سیموکی اوسید له . ددې سلسلی موسس کیقباد دی چې پـه اوستاکی د«کاوی کواتا» په بڼه یاد شوی دی . دکیقباد یاکی کوات په برخه کی چې څنگه باچهی ته ورسید داسی افسانه موجوده ده . کی کوات‌دالبرز دغره (دمزار اوبلخ‌جنوبی‌غره) په لمن کی خپلی رمی پوولی او دډیرو مالونو خاوند ؤدده په وخت کی بل‌باچا نه ؤ . ښایی چې په‌دغه وخت‌کی اریایی تاج اوتخت تش پاتی وو، نوددې احساس کیده چې دوی بایـدیو واکمن او مشرو لری .ددې له پاره چې دده سلطنت ته روحانی بڼه ورکړی ـ نـو داسی افسانوی روایت دی چې یودوه سپین بازونه راغلل‌چې یود سروزرو تاج‌یی په منگو لو کی نیولی ؤاودهمدی غره‌په لمن کی‌یی دکی کوباد په سرباندې کیښود . نور شپانه پری راټول شول اودی‌یی‌په بلخ کی‌په پاچهی وټاکه دغه دبازا نوراتک اودتاج راوړل یوخدایی لطف بلل شوی اوپه اوستایی متو نوکی د«کیانم هوارنیم» په نامـــه ملقب شوی چی معنی یی «کیانی‌غوره رڼا» ده چې هرچاته نه حاصلیږی .دغه اصطلاح اوس هم په پښتنو کی ژوندی ده اوهغـه څوك چـی دشان‌او برم خاوندوی نوداقبال او طالع‌او بخت خاوندیی ګڼی او وایی چې په تندی کی یی رڼا ځلیږی یعنی دبرم شان اوشوکت خاوند دی .

په دې‌افسانه کی‌دوه‌ټکی‌ډیر مهم‌دی . یودا چې تردې وخته پورې ښاری او پوونده ژوند سره ډیر جلاشوی‌نه وو او دښاری اوکوچی قبایلو تر منځ کلك اجتماعی اړیکی موجود وواو یو شپون هم باچا کیدلای شو .

دویم داچې په اقتصادی لحاظ ددوی ژوند دومره پر مختگ کړی نـه وچې‌یوه ځانگړی متکی پر نفس ښاری ټولنه منځ ته راشی اود کلیوا لی کوچیانی ژوند څخه مستقلـه اوجلا وی .

ددې کورنۍ دباچهانو نور نومونه هم په پخوانیو متونو کې ذکر شوي دي مګر دومره شهرت نه لري ښايي چې دقبايلي اړودور له کبله ددومره قدرت خاوندان شوي نه وي . په دوي کې يوازې دکي کوباد لمسی ، يعنی کي کاوس دشهرت خاوند شوي دی او په ويدی سردونو کې هم «کاوه يوسا» ياد شوي دی .

په ابان يشت کې داناهيتا رب النوع له پاره دارزيفيه غره دپاسه دده قرباني ياده شوې ده او ددې قرباني په عوض کې يې ورڅخه دباچهی قدرت غوښتنه کړی او اناهيتا هم دده دا غوښتنه ومنله اودی د «هوورينو» خاوند شو .

ارزيفيه ښاغلی کهزاد دالبرز کومه څوکه ګڼلی ده ، مګر زه عقيده لرم چې ارزيفيه د «ارزهی» دولايت غردی . ارزهی دارغونو متونو دجغرافيايي موقعيت له مخې اغلباً ارزګان دی چې دزماني په تيريدو سره د «ارزهی» مفردشکل څخه دارز ګان شکل جوړ شوي دی .

کاوی سياورشن
يا
سياوش

دغه شخص دکيکاوس نه وروسته دمرکزې اريايانو باچا شوي دی او ګومان کيږي چې دی به دکيکاوس زوی وې . همدغه شخص چې دکنګ دژمانهی ورته منسوبه ده او داساطيروله مخې ده جوړه کړې ده چې بحث يې دمخه تير شو . افراسياب دغه مانهی په زور نيولی ده او سياوش دده له لاسه وژل شوي دی . لکه چې دمخه موويلی دی هغه اريايان چې د تورانيا نو په نامه ياديدل د بلخ ددولت په نسبت په کلتوري لحاظ ورو سته پاته وو ، مګر د بشري اوقبيلوي قدرت له مخې هيڅ کم نه وو ، بلکې دبلخ ددولت رقيبان اوددوي په ځمکويي تعرضونه هم کول . دافراسياب او سياوش په عصرکې ددغو قبايلو سخت مخالفتونه ليدل کيږي . که څه هم ښاغلی کهزاد او پور داوددواړه په دې عقيده دي چې دکنګ دژمانهی دامود سيند په شمالي سيمو ، يعنی اوسنی خيوه کې وه ، مګر زه عقيده لرم چې دغه مانهی داوسنی افغانستان په داخلي حدودوکې وه او بحث يې دمخه تير شوي دی .

کاوه هوسر اوا ـ یا کیخسرو

دا شخص دسیاوش زوی او هغه کس دی چې دافراسیاب تورانی څخه یی‌دخپل پلار کسات اخیستی دی اوافراسیاب یی دخنجست سیند په غاړه نیولی او بیایی وژلی دی . ددغه باچا په وخت کی‌داریانا حدود وپراختیا موندلی ده او تورانیان یی دهغو ځایونو څخه شړلی‌دی‌چی دسیاوش په وخت کی یی نیولی وو . اوپه اریایی‌اساطیروکی دپوره شهرت خاوند دی. په یشتو نوکی ډیر ځله دده نـوم‌یاد شوی دی اوداناهیتا رب‌النوع‌له پاره دده بـی ساري قربانی ډیري ستایل شوی دی .

په اوستایی یشتو نوکی ځای پرځای دده‌قابل رقیب د«ویسه ویساك» زړور زامن یاد شوی دی اوښایی چی‌ددغی کلمی څخه مقصد «ساك» قبایل وی چې دمخه موویل چې د«پارتیانا»دسیستان او افغانستان جنوب غربی پوونده قبایل او دامونه پورې غاړه‌ځینی اقوام دوی د«توران» په نامه یاد کړی دی او خپل مخالفین یی بللی‌دی . دغه قبایل ځای پر ځای محلی او سیمه ایز حکومتونه جوړ وی اوکله ناکلـه دلوی قـدرت خاوندان شوی دی ، مگر دغه ددوی دقدرت‌عصر ډیروروسته دی او موږ اوس ورسره کارنه لرو .

تبصره .

څرنگه چی دکیانی کورنی څخـه وروستـه دباختـر ددولت واگـی د «اسپه کورنی»لاس ته ورځی‌اودهمدې‌کورنی دیوباچا پـه عصر کی یو مذ هبی ریفورم منځ ته راځی چی بانی‌یی دبلخ ستر متفکر اولوی ریشـی زردشت و اودایوه لویـه کلتـوری‌پیښـه ده ، نو خپل لومړی ټوك پـه همدی ځای بس کوم او دغه مهمـه‌موضوع په دویم ټوك کی په مفصل صورت سره راځی .

ماخذ ونه :په دی کتاب کی ددغواثارو څخه استفاده شوی ده :

۱ ـگاتها : دپور داود تالیف او تـرجمه تهران ـ ۱۳۲۹ کال
۲ـ ادبیات مزده یسنا دپور داودتالیف او ترجمه
۳ـ د«ایران توده» مجلی «٤ـ ٦ـ ١٦» گڼی
٤ ـ بررسی هایی دربارهٔ برخـی ازجهان بینی ها وجنبش هاي اجتماعی در ایران ـ داحسان طبری لیکنه .
٥ ـگزیده سرودهـاي ریگویدا ـ دسیدمحمدرضاجلالی‌ترجمه ۱۳٤۸تهران



دکتاب مؤلف اروابناد خیرمحمد ساد

داروا ښادخیرمحمد سادلنډه پیژندنه

اروابناد ځیړنمل خیرمحمد ساد دسالو خان زوی په (۱۳۱٦) ه لمریز کال کـی دننگرهار ولایت دشینوارودهسکی مینی دولسوالی دپاپین په یوه غریبه اوبی وزلی کورنی کی‌د دنیاپر مخ سترگی وغړولی ، لومړنی زده کـړی یـــی پـــه ۱۳۲٤ ه.ش کال‌کی دننگرهار ولایت دشینوارو د هسکی مینی‌دولسوالی دپایین په لوـمړنی ښوونځی کی پیل او په (۱۳۲۹) هش کال ترینه فارغ‌شو. په (۱۳۳۱)هش کال دکابل په دارالمعلمین کی شامل او په (۱۳۳٦) هش کال کی‌په یوه عالی‌درجه کی‌ځینی فارغ‌شو.

له (۱۳۳۷) څخه تر (۱۳٤۱) هش پورې یی دابن‌سینا په لیسه کی دښوونکی په حیث دنده تر سره کړیده ، په (۱۳٤۲)هش کال کی داد بیا تو اوبشرې علومو په پوهنځی‌کی‌شامل اوپه (۱۳٤٥) کی یی دنومورې پوهنځی له پښتو څانگی څخه لیسانس ترلاسه کړې دې .

له پوهنځی څخه تر فارغید و وروسته دهماغه کال ددلوې په لومړۍ نیټه دننگرهار دښوونی او روزنـی‌مدیریت ته دښوونکی‌په صفت ورمعر فی شو ، په (۱۳٥۲) کال کی دپښتوټولنی دادب اوفلکور په مدیریت کی دمسلکی غړې پـه حیث مقـرر ، د(۱۳٥٥) کال په پاې کی اروابنادساد دکابل مجلـی دمرستیال په توگه اوپه (۱۳٥٦) کال کی دنومورې مجلی‌د مدیر په حیث وټاکل‌شو. په (۱۳٥۷)کی دښوونی او روزنی په وزارت‌کی دتألیف‌اوترجمی دریاست‌مرستیال‌اوپه (۱۳٥۸) کی‌دتألیف اوترجمی‌دریاست چارې ورپه غاړه شوې . د(۱۳٦۰)کال په نیمایی کی اروابناد ساددخپلی علمی مینی لـه املـه بیرته دافغانستان دعلومو اکاډمی ته راغی او د پښتو څیړنو دبین‌المللی مـرکز دریسرچ په څانگه کـی دمسلکی غړې په حیث ومنل شو چی دمرگ تروخته یی په ډیره علمی حوصله خپلی ور سپارل شوې دندې پر مخ بیولی ،خوافسوس چی د (۱۳٦۱) کال دمیزان د (۲٥) شپی په نهوبجو دمرگی ناوړه‌ناتار زموږ دغـه (٤٥) کلـن ځوان

محقق او دټولنیز درد خاوند لیکوال، دعالی اخلاقو خاوندله موږه بیل کړ او زموږ دعلمی او ادبی اسمان یوستوري دتل له پاره ولوید او په کابل کی دانقلاب دشهیدانو په سپیڅلی هدیره کی خاوروته وسپارل شو.

اروابناد سادپه نیکو اخلاقوسمبال او بااستعداده لیکوال وهغه لیکوال چی دانسان ازادي ته یی ژور احترام او درناوي درلود او یواځینی هیله یی داوه چی په ټولنیز ژوندکی دانسان ځورونی منحوس او استثماري قانون ملغی اوپر ځاي یی دبشري ښیګڼو ساتونکی ښایسته قانون مجري وي . دده په نظر هغه ټولنه سعادت له رنګینیوڅخه خوند اوکیف اخیستلاي شی چی یوپه کی دبل دسعادت هیله ولري اودنورو په نیکمرغی کی خپله نیکمرغی ولټوي .

اروابناد ساد دافغانستان دخلك دموکراتیك ګوند داصلی غړیتوب پر افتخار سربیره دګوند او دهغه دارمانونو یو تکړه او فعال ممثل هم ؤ . دي په خپله یوله هغوکسانو څخه ؤ چی دتیرو فاسد واوناوړ ورژیمونو سړو ژمودپر زورولی و . ده کوښښ کاوه دهغوبد مرغیو پاي ووینی کوم چی په کلونو کلونو یی زموږ رنځیدلی ولس رنځولی وده له هغو خلکسره کلکه مینه درلوده چی دنړیخور استعمار رټلی بی واکه اودبد مرغی په وژونکی لومه کی یی ښکیل کړي وو . ده دهغو انسان وزمه استثمار ګرو پرضد کلکه مبارزه کوله چی په میلیو نونو انسانان یی د خپل نه مړیدونکی حرص قربانی کړي ؤ اودنیستی تباهی ناروغی ، فقر ،و یر او غم سره یی اشنا کړي ؤ . ده حق پاله او ددي مقدسی لارې یو کلك لاروي ؤ نه یوازي لاروی ،بلکی په دي سفرکی یی نور هم داسی وربلل : «اوس هغه وخت رارسیدلی دي چی حق زوردي» له پاره کلکه مبا رزه وشی اودغه جمله په کلی ټوګه دتاریخ موزیم ته وسپارله شی چی بیل به یی «زور حق دي»

اروابنادساد درې زامن او دوه لونی لري چی مشر زوي یی په (۱۳٦۲) کال کی دطب له پوهنځی نه فارغ شوي دي او کشره لوریی په شپږم ټولګی کي ده .

دافغانستان دعلومو اکاډمی دپښتو څیړنو بین المللی مرکز په دا سی حال کی چی داروابنادساد دحق پالنی درناوي کوي دده مړینه یوه لویه اونه جبران کیدونکی علمی ضایعه بولی او په دغه علمی میراث چی دیوه کتاب په توګه ورڅخه پاتی شوي دي دزړه سود کوي.

ښاددي وي دمرحوم ساد پاك روح .

PROPERTY ACKU 2340

پرله پسی نمره (۲۲)

The Ancient Aryans

By: Khair Mohammad Saad

ACKU

International centre for

Pashto Studies

(D.R.A) Academy of Sciences

Kabul

1985